د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# مهاجر مجله



علمـي، ادبي  څېړنيـزه او ټولنيزه مهالنۍ مجله


گڼه ۲۲
۱۴۰۳ لمریز کال


بسم الله الرحمن الرحيم

## مهاجر مجله

**د امتیاز خښتن:** د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
**مسؤل مدیر:**
مفتي عبدالمطلب حقاني
**اجرایوي مدیران:**
انجینر محمد آصف حکیم
جمال ناصر نادري
**کتنپلاوی:**
مفتي عبدالمطلب حقاني
دکتور مفتي مدیر گل احمدي
قاري محمد اجمل ویاړ
یونس تنویر
عرفان همت
محمد اشرف حنیفي
**خبریال:**
احمد شکیب حبیبي
نویدالله سعیدي
**سمونگر:**
صهیب راوي
محمد حلیم صفا زاده
**انځورگر:**
عارف الله عثماني
**گرافیک ډیزاینر:**
عبید الله بیدار

**د مطالبو او مقالو مسؤلیت د لیکوال پر غاړه دی، اداره یوازې د سرلیکنې ننگه کوي.**
**د دې مجلې له مقالو او مطالبو گټه اخېستنه د سر چینې په یادولو سره د منلو وړ ده .**
**د خپلو مطالبو او مقالو د شریکولو لپاره په لاندې ادرسونو له موږ سره اړیکه نیولای شئ .**

Email: media@morr.gov.af// webmoor@gmail.com
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د مطالبو فهرست

- سرلیکنه.......................................................................................١
- حقوق قران کریم بر هر مسلمان......................................................................٣
- د مهاجرینو مسئله او په اسلامي نظام کې یې اهمیت..........................................................٦
- د مهاجرت نړیوالې ورځې په مناسبت د مهاجرینو او..........................................................٨
- په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي..................................................................١١
- د مهاجرت ادب تاثرأت ..............................................................................١٦
- نقش تفتیش داخلی در جلوگیری از فساد اداری ...........................................................١٩
- با مشکلات مهاجرت اشنا شوید..................................................................٢٠
- گزارش ربع اول وزارت مهاجرین و عودت کننده گان (١۴٠٣).........................................٢٢
- دوهی ..........................................................................................٢٦
- ورزش د روغتیا ضامن...........................................................................٢٩
- د نړۍ عجایب.......................................................................................٣٢
- نورستانیان څوک دي ؟..........................................................................٣۵
- حکایت...........................................................................................٣٧
- د کابل ښار پر مختیا او عصري کېدل .........................................................۴٠
- د زمري٢۴..........................................................................................۴٣
- د توري رڼا..........................................................................................۴۴
- سمینار..............................................................................................۴٧
- روغتیايي او طبي معلومات........................................................................۵٠
- د کلني راپور فارمټ..............................................................................۵٢
- د پیر محمد کاکړ په څو بیتونو کې............................................................٦٠
- ولې له مرګه ویرېږو.............................................................................٦۵

# سرلیکنه

حامداً و مصلیاً اما بعد:

په افغانستان کې چې کله بهرنی اشغال رامنځته شوی او د اشغال په لاس جوړ شوی نظام د دین د عملي کولو په درشل کې په فتنو لاس پورې کړی، نو په افغانانو دا لازمه شوې، چې د کفر له مرکزونو او هېڅو څخه په خدای تعالی (ﷻ) د ویسا او باور په رښا کې هجرت وکړي.

د خدای تعالی (ﷻ) په پراخه ځمکه نیک بندګان د فتنو څخه د دین د ژغورلو په هیله دایم هجرتونو ته اړ شوي او مهاجر شوي دي، نو په همدې ډول الله تعالی (ﷻ) خپلو پیغمبرانو (ﷺ) ته د کفر د شر څخه د خلاصون په موخه د هجرت کولو امر کړی او ځینو، چې هجرتونه یې نه دي کړي، د کفر د شر څخه د خلاصون په پاره یې اسمان ته خیږولي دي، لکه حضرت عیسی(ﷺ).

نو په همدې ډول د مهاجرت داستان د کفر په مقابل کې د اسلام د قوي ساتلو په موخه د بشریت د تاریخ له پیله ان د امریکاه تر راتګه پورې افغانان د هجرتونو د سختو کړاوونو سره مخ شوي دي، لکه څه ډول چې مهاجرت سنت دی او د بدو انسانانو څخه د ځان د ژغورلو په موخه د الله تعالی (ﷻ) امر دی او رسول اکرم (ﷺ) هم خپلو لومړنیو پلیونو ته د حبشې په لور د هجرت کولو امر کړی دی.

د خدای تعالی (ﷻ) په لاره کې هجرت کول په لومړنیو کې له سختو تکالیفو څخه ډک وي، خو وروسته یوه ستره بریا ورکوي او بریا د باغیانو خاصه نه ده او الله تعالی (ﷻ) باغیانو ته بریا نه ورکوي. همدا هیله رښتنې مبارزه ښکاره کوي. همدا د ښو او بدو په مقابل کې د الله تعالی (ﷻ) فیصله ده. د همدې هیلې له مخې افغان ولس د ناټو او امریکاه، روس، انګریز او مغلو په مقابل کې هجرتونو ته سوق شوي او الله تعالی (ﷻ) بریا ور په برخه کړې ده.

په تاریخي لحاظ که وکتل شي د نړی تقریباً د ټولو هیوادونو یوه ډله وګړیو په مختلفو وختونو کې له خپلو اصلي هیوادونو څخه نورو هیوادونو ته مهاجرتونه تر سره کړي دي، چې یاد مهاجرتونه او له هیواد څخه جلاوالی هم بیلابیل عوامل لري، لکه اقتصادي، فرهنګي، استعماري، سیاسي او داسې نور، چې تر ټولو مهم مهاجرت په خپل هیواد کې د جنګ، بیروني اشغال، نسل وژنې او داسې نورو غیر انساني کړنو له امله د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه د نړی نورو هیوادونو ته تر سره کیږي او زیاته برخه یې لومړي سر کې ګاونډیو هیوادنو ته مهاجرتونه کوي په دې خاطر ګاونډي هیوادونه د سکونت او مهاجرت لپاره تاکل

کیږي، چې یاد هیوادونه د فرهنګي مشترکاتو، فاصلې نږدې والي، کمو لګښتونو او داسې نورو عواملو له مخې موثر تمامیږي.

همدارنګه د ګاونډیتوب اصل له مخې هم هغه هیوادونه چې د ګاونډي هیواد اتباع یې په سخت حالت کې قرار ولري په اخلاقي لحاظ ځان مسؤل ګڼي، چې د هغوی ژوند ژغورلو په موخه د لنډ وخت لپاره پناه ورکړي، ولې په اوږد مهال کې دغه دوستي او همکاري په تقابل، د اړیکو په خرابوالي رقابتونو او سیاسي فشارونو واردولو اوړي، چې د نړۍ په کچه په دې برخه کې زیات مثالونه شتون لري. د دغه ډول حالاتو رامنځ کول په دوارو هیوادونو پورې اړه لري، ځکه چې له یو طرفه پناه ورکونکې دولت د مهاجرینو له شتون څخه په اوږد مهاله کې په تنګ راځي او په پایله کې له مهاجرینو څخه په بېلابېلو ډولونو ناوړه ګټه اخلې د مثال په توګه د مهاجرینو په متبوع دولت د برلاسي او کنترول په موخه د هغوي په اتباعو باندې په خپل هېواد کې مختلف فشارونه واردوي، تر څو یې غوښتنې و منل شي، له بلې خوا د مهاجرو له شتون څخه ډیرې اقتصادي منافعې تر لاسه کوي، چې دغه منافع هم له مرسته کوونکو هیوادونو او سازمانونو څخه تر لاسه کېږي او هم د مهاجرو له ورځنیو مصارفو او اقتصادي فعالیتونو، چې په کوربه هیواد کې یې تر سره کوي، ولې بیا هم کوربه هیوادونه د مهاجرینو له موجودیت څخه غلطه سیاسي او ناوړه ګټه اخلي.

زموږ ګران هېواد افغانستان د نړۍ په یو داسې مؤقعیت کې قرار لري، چې همیشه د نړۍ زبر ځواکونو له لوري د اشغال لاندې راغلی، ډیر انساني او مالي زیانونه یې لیدلي او ډیر هیوادوال مو له څه باندې څلورو لسیزو د نړۍ په مختلفو هېوادونو، په ځانګړې توګه ګاونډیو هیوادونو کې مهاجرت کولو ته اړ کړل شوي دي، چې په تیره یوه پیړۍ کې د نړۍ درې سترو قدرتونو تر تیري او تجاوز لاندې راغلي یو او ډیر انسانان یې له خپلو اساسي حقونو څخه محروم کړي او په پایله کې مو زیات شمېر هېوادوالو د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه ګاونډیو هېوادنو ته مخه کړې ده.



# حقوق قرانکریم بر هرمسلمان

**نویسینده: قاری هدایت الله واحدی**

**مقدمـه:** بدیهـی اسـت کـه قرآنکریـم بـه عنـوان آخریـن کتـاب آسـمانی و مانـدگار معجـزه ای اسـت کـه از جانـب آفریـده گار جهـان توسـط بلنـد پایـه تریـن مَلَـک بـر پاکتریـن و کاملتریـن انسـان روی زمیـن فرسـتاده شـده اسـت. اللـه متعـال بـا نـزول ایـن کتـاب عظیـم الشـأن بشـریت فروغلطیـده در لجنـزار الحـاد، شـرک و خرافـات را بـه سـاحل امـن ایمـان، توحیـد و اخـلاق نیـک نجـات داد. ولـی افسـوس کـه اکثریـت انسـانها قـدر ایـن هدیـه بـزرگ الهـی را ندانسـتند و بـه آن ایمـان نیاوردنـد و آنـان کـه ایمـان آوردنـد، دَیـن آن را بـه خوبـی اداء نکردنـد!

**حقـوق قرآنکریـم:** قـرآن کریـم بـه عنـوان آخریـن و کامـل تریـن و مقـدس تریـن کتـاب آسـمانی کـه بوسـیله وحـی بـر حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه و سـلم نـازل شـده اسـت بـر هـر بنـده مومـن و مسـلمان هفـت حـق دارد کـه ذیـلاً بـه شـرح و توضیـح هریـک آن خواهیـم پرداخـت.

**۱ـ ایمـان و تعظیـم:** ایمـان یعنـی پذیرفتـن و قبـول کـردن. قبـول کـردن یـک چیـز از دو جنبـه قابـل بررسـی اسـت: اقـرار بـه زبـان وتصدیق بـه قلـب. زمانـی یـک شـخص مسـلمان محسـوب مـی شـود کـه بـه زبـان خـود اعـتراف کنـد کـه قـرآن کتـاب اللـه (جـل جلالـه) اسـت کـه توسـط حضـرت جبرئیـل امیـن بـر افضـل انبیـاء محمـد مصطفـی (صـل اللـه علیـه وسـلم) نـازل شـده اسـت و در قلـب خـود ایـن چیـز را بـاور داشـته و در آن شـک و شـبهه ای نداشـته باشـد، هـر انـدازه ایمـان انسـان بـه قـرآن محکـم تـر شـود بـه هـمان میـزان نسـبت بـه قـرآن احـترام و اکرامـش زیادتـر مـی گـردد، زیـرا ایمـان بـه قـرآن و تعظیـم و تکریـم کتـاب اللـه (جـل جلالـه) لازم و ملـزوم یکدیگراند،چنانچـه اللـه متعـال در ایـن بـاره چنیـن ارشـاد میفرمایـد:

» آمَـنَ الرَّسُـولُ بِمَـا أُنْـزِلَ إِلَيْـهِ مِـنْ رَبِّـهِ وَالْمُؤْمِنُـونَ « » رسـول خـدا بـه آنچـه از سـوي پـروردگارش بـر او فرسـتاده شـده، ایمـان آورده اسـت و مؤمنـان هـم « (بقـره/ ۲۸۵).

» اِنَّمَـا الْمُؤْمِنُـونَ الَّذِيـنَ اِذا ذُكِـرَ اللَّـهُ وَجِلَـتْ قُلُوبُهُـمْ وَ اِذا تُلِيَـتْ عَلَيْهِـمْ آياتُـهُ زادَتْهُـمْ ايمانـاً وَ عَلـى رَبِّهِـمْ يَتَوَكَّلُـونَ « » مؤمنـان، هـمان کسـانی انـد کـه چـون اسـم اللـه یـاد شـود، دلهایشـان بترسـد، و چـون آیـات او بـر آنـان خوانـده شـود برایمانشـان بیفزایـد، و بـر پـروردگار خـود تـوکّل مـی کننـد» (الانفـال/۲).

**۲ـ تـلاوت آیـات:** قـرآن کتابـی اسـت کـه فقـط یکبـار خوانـدن و فهمیـدن معنـای آن کافـی نیسـت بلکـه بایـد مرتـب خوانـده شـود، زیـرا

تـلاوت قـرآن مجیـد حکـم غـذای روح را دارد، و هـمان گونـه کـه جسـم انسـان جهـت بقـای خـود نیازمنـد غـذا اسـت، روح او نیـز نیـاز بـه غـذای آسـمانی دارد کـه تـلاوت قـرآن بخشـی از همـین غـذا اسـت. کـه در مـورد اللـه متعـال میفرمایـد: « اتْـلُ مَـا أُوحِـيَ إِلَيْـكَ مِـنَ الْكِتَـابِ وَأَقِـمِ الصَّـلَاةَ » « هـر چـه را از ایـن کتـاب بـر تـو وحـی شـده اسـت تـلاوت کـن. و نمـاز بگـزار» (العنکبـوت/۱۵)

از ایـن آیـه بـر مـی آیـد کـه تـلاوت قـرآن مجیـد شرایطـی دارد کـه در غیـر آن خوانـدن قـرآن نـه فائـده ای دارد و نـه پاداشـی. بنـاءً شـناختن شرایـط تـلاوت قـرآن چیـزی اسـت کـه هـر مسـلمان مکلـف بـه فراگیـری آن مـی باشـد و ایـن شرایـط بنـا برخلـص بـودن موضـوع در اینجـا گنجایـش نـدارد.

**۳ـ فهـم قـرآن:** بـرای آن کـه فهـم درسـت از کلام الهـی داشـته باشـیم و گرفتـار گـرداب مهلـک رویکردهـای انحرافـی در تفسـیر قـرآن نشـویم، لازم اسـت مبانـی و اصولـی را رعایـت کنیـم و هـر تفسـیری را کـه بـا آنهـا مطابـق بـود، بپذیریـم و برداشـت‌های دیگـری را کـه بـه طـور کلـی یـا جزئـی بـا آنهـا مخالفـت داشـت، کنـار بزنیـم. چنیـن اسـت کـه بـه جوهـر و گوهـر هدایتگـری قـرآن دسـت خواهیـم یافـت.

« وَ أَنْزَلْنـا إِلَيـكَ الذِّكْـرَ لِتُبَيـنَ لِلنَّـاسِ مـا نُـزِّلَ إِلَيهِـمْ و لَعَلَّهُـمْ يتَفَكـرُونَ » و مـا ایـن ذکـر (قـرآن) را بـر تـو نـازل کردیـم، تـا آنچـه بـه سـوی مـردم نـازل شـده اسـت بـرای آنهـا روشـن سـازی، شـاید اندیشـه کننـد! « (النحـل/۱۵)

« وَمَـا أَرْسَـلْنَا مِـن قَبْلِـكَ إِلاَّ رِجَـالاً نُّوحِـي إِلَيْهِـمْ فَاسْـأَلُواْ أَهْـلَ الذِّكْـرِ إِن كُنتُـمْ لاَ تَعْلَمُـونَ » و نفرسـتاده ایـم پیـش از تـو مگـر مـردانی را کـه وحـی مـی فرسـتادیم بـه سـوی ایشـان پـس بپرسـید از اهـل ذکر(اهـل کتـاب،اهـل علـم) اگـر شـما نمـی دانیـد «. (النحـل/۴۳)

**۴ـ تذکـر و تدبّـر در آیـات قـرآن:** حـق دیگـر قـرآن کریـم ایـن اسـت کـه مطالـب و مفاهیـم آن بـه صـورت درسـت درک شـود، زیـرا هـدف از تـلاوت قـرآن ایـن اسـت کـه مفاهیـم و معانـی آن بـه خوبـی دانسـته شـود.

البتـه بایـد دانسـت کـه درک مفاهیـم قـرآن کـار سـاده و آسـانی نیسـت، بلکـه مراحـل و مراتـب زیـادی را مـی طلبـد و هـر کـس طبـق اسـتعداد سـعی و تـلاش و تدبـر خویـش از ایـن خزینـه بـی انتهـای الهـی بهـره منـد مـی شـود، و هیـچ کـس هـر انـدازه بـا هـوش و کوشـا هـم باشـد نمـی توانـد از بـرکات و فیوضـات آن سـیراب شـود و تصـور کنـد کـه قـرآن را کامـلاً فهمیـده اسـت. پیامبر(صـل اللـه علیـه وسـلم) در ضمـن حدیـث مفصلـی کـه در رابطـه بـا قـرآن ایـراد نمودنـد فرمـوده انـد: «گنـج ای سـت کـه هیـچ وقـت جواهـر آن کـم نخواهـد شـد، و غـور و فکـر در بـاره آن بـه پایـان نخواهـد رسـید کـه بـه همیـن منظـور اللـه تبـارک وتعالـی خـود میفرمایـد. « كِتَـابٌ أَنزَلْنَـاهُ إِلَيْـكَ مُبَـارَكٌ لِيَدَّبَّـرُوا آيَاتِـهِ وَلِيَتَذَكَّـرَ أُولُـو الْأَلْبَـابِ » « کتـابي اسـت خجسـته کـه آن را بـر تـو فـرو فرسـتاده‌ایم تـا انسـان‌ها در آیـه هایـش تدبّـر کننـد و تـا خردمنـدان پنـد گیرنـد » (ص/ ۲۹).

« أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا » «آيا درقرآن انديشه نمي كنند يا بر دل های آن‌ها قفل افتاده است» (محمد/ ۲۴).

**۵ ـ اطاعـت وپیـروی:** پنجمیـن حقـی کـه قـرآن مجیـد بـالای مسـلمانان دارد، اطاعـت از اوامـر و بـه کـار بسـتن احـکام آن اسـت، زیـرا هـدف اصلـی از تعظیـم، تـلاوت، تدبـر و تفکـر قـرآن کریـم عمـل بـه ارشـادات آن اسـت. قـرآن کتـاب قصـه، جادوگـری و دم کـردن سـاحرانه نیسـت تـا صرف بـه خاطـر تـلاوت و کسـب ثـواب مـورد بهـره برداری قـرار گیـرد. قـرآن مجیـد بـه صراحـت مـی گویـد کـه اگـر کسـی احـکام قـرآن را بـه کـار نبنـدد تـلاوت آن و تدبـر در مفاهیـم آن هیـچ سـودی نمـی بخشـد. قـرآن کتـاب عمـل اسـت؛ کسـاني کـه بـر دسـتورهاي قـرآن عمـل ننمـوده و آن را در زندگـي پيـاده نمـي كننـد، از ديـده اي قـرآن فاسـق،كافر، ظـالم و گنـاه كار محسـوب مـي شـوند.

« وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ / الْفَاسِقُونَ / الظَّالِمُونَ» « وهركه بر وفق آياتی كه الله نازل كرده است حكم نكند، كافر،فاسق، ظالم است» .(المائدة/۴۴،۴۵،۴۷) ونيز پيامبر اكرم (صل الله عليه وسلم) مي فرمايد: «لايؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعاً لما جئت به » هيچ يک از شما ايمان ندارد مگر اين كه خواهشاتش را تابع چيزى گرداند كه من آورده ام ».

**٦ـ تبليغ و تبين قرآنكريم:** حق ششم قرآن بر بنده مسلمان اين است كه طبق استعداد و صلاحيت خود اوامر، نواهی و مفاهيم آن را به ديگران برساند.تبليغ و رساندن احكام قرآن كار اصلی پيامبر اكرم (صل الله عليه وسلم) بود كه بعد از رحلت ايشان به آحاد امت منتقل گرديد و هر يک از افراد امت اسلامی به اندازه توان و استعداد خود در برابر اين مسئوليت بزرگ جوابگو خواهند بود. الله عزوجل ميفرمايد.

« هٰذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ » «اين پيام رساني است براي مردم تا به آن هشدار يابند» (إبراهيم/ ۵۲).« رُسُلا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا » « پيامبرانی كه بشارتگر و هشدار دهنده بودند، تا براى مردم، پس از فرستادن پيامبران، در مقابل الله (جل جلاله) بهانه وحجّتی نباشد، و الله (جل جلاله) توانا و حكيم است».

**۷ـ دفاع از قرآن:** اسلام دينی كامل و جامع است كه همواره سعادت و تعالی بشر را در نظر داشته است و به اين موضوع مهم توجه ويژه داشته است. يكی از مهم ترين موضوعات مطرح شده در اسلام و آموزه های دينی، دفاع است. دفاع به معنی دفع كردن يا مقابله با مهاجم يا مهاجمين می باشد. زيرا كرامت انسانها به آزادی از زير يوغ ستم و ستمگران معنی و مفهوم پيدا می‌كند و نيرو يا عاملی كه آزادی انسان را سلب نمايد، مانع بزرگی در جهت تعالی و كرامت انسان می باشد. به همين منظور الله عزوجل در قرآن مجيد مؤمنان را به جهاد ترغيب و تشويق نموده است و فلسفۀ دفاع از خويشتن در اين مرحله نهفته است كه الله عزوجل در كلام خود خطاب ميفرمايد.

«وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ» « واگرالله (جل جلاله) برخی از مردم را به وسيلۀ برخی ديگر دفع نكند، فساد زمين را فرامی گيرد، ولی الله نسبت به جهانيان لطف و احسان دارد» (البقرة/۲۵۱).

«وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ» و در راه خدا با كسانی كه با شما جنگ می كنند بجنگيد ولی از حد مگذريد. به راستی كه خداوند از حد گذران را دوست نمی دارد» .(البقرة/۱۹۰)

اگر مسلمانان در اين هفت زمينه به قرآن توجه كنند و اين هفت حق قرآن را ادا نمايند، قطعاً تحوّل و انقلاب شگفت انگيزي در زندگيشان پديد خواهد آمد. رمز موفقيت مسلمانان صدر اسلام در اين بود كه آنان در همه ي زمينه هاي فوق، حق قرآن را ادا كردند و سربلند شدند.آنان همواره اين حديث پيامبر اسلام (صلّی الله عليه و آله و سلّم) را مد نظر داشتند كه مي فرمود: «إِنَّ اللهَ يَرفَعُ بِهذا الكِتَابِ أَقْوَاماً وَ يَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ» «الله تعالی به وسيله ي اين كتاب قوم هايي را نعمت و سربلندي نصيب ميفرمايد و عده اي ديگر را پست و ذليل مي گرداند».

ومن الله التوفيق

# د مهاجرينو مسئله او په اسلامي نظام کې يې اهميت

**ليکوال: ( ابو صهيب) مولوي نعيم الحق حقاني**

**ژباړه: عبدالباري اتل**

کله چې له ګاونډيو هېواده، د مهاجرينو د اجباري ايستلو مسئله د ورځنيو موضوعاتو د بحث پر محور بدله شوه؛ د افغانستان د اسلامي امارت رهبري (په رأس کې عاليقدر شيخ اميرالمؤمنين صاحب حفظه الله) له يوې لحظې ځنډ پرته، پر کابينې د يوه فوق العاده فرمان په ورکولو سره، د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې کمېسيون پر تشکيل ټينګار وکړ، چې ډېر ژر د رياست الوزراء د اداري مرستيال، جناب محترم الحاج مولوي عبدالسلام حنفي صاحب حفظه الله، په سرپرستۍ، پر دولس کمېټو مشتمل کمېسيون رامنځته شو، چې هرې کمېټې د يوه وزارت تر رياست لاندې په خپلواکه توګه مهاجرينو او راستنېدونکو ته د خدمتونو وړاندې کولو کار پيل کړ.

د جناب الحاج مولوي عبدالسلام حنفي صاحب حفظه الله په سرپرستۍ دا کمېسيون چې وزيران يې هم په تشکيل کې شامل دي، په دوامداره ډول مهاجرينو ته په ټولو اړينو برخو کې خدمتونه وړاندې کوي.

د يادونې وړ ده، چې د هېواد بېلابېلو برخو کې د راستنېدونکو او مهاجرينو اضطراري وضعيت ته په کتو، د حنفي صاحب په ګډون؛ اکثره وزيران د مهاجرينو او راستنېدونکو د راټولېدنې ساحو ته ورغلل چې دا کار د دولت او ملت د خدماتي پرسونل د تشويق او هڅونې سبب وګرځېد. دغه راز هېواد ته د مهاجرينو د داخلېدو ساحې ته د اسلامي امارت د مشرانو ورتګ او هغوی ته ښه راغلاست ويل؛ د راستنېدونکو هېوادوالو د زياتې خوښۍ لامل شو او تر ډېره يې د هغوی د اجباري ايستلو دردونه کم کړل.

په کلي ډول د اسلامي نظام لخوا چې مهاجرينو ته د هرکلي کومه صميمي فضا رامنځته شوه؛ مهاجرينو د دې فضا په ليدو سره خپل د سفر او اجباري ايستلو دردونه هېر کړل.

دغه کار د ډېرو نیکو او خیر غوښتونکو هېوادوالو او سوداګرو د هڅونې سبب شو او هغوی هم له حکومتي افرادو سره، اوږه په اوږه د خپلو هېوادوالو استقبال ته ورغلل او د مادي او معنوي مصارفو په ګاللو سره یې د وروروړولۍ روحیې ته پیاوړتیا ور وبښله.

د اسلامي امارت د حکومت او د افغانستان د متدین ملت لخوا د مهاجرینو د استقبال لپاره د فداکارۍ او صمیمیت رامنځته شوې فضا د دې سبب شوه، کله چې ډېرى مهاجرینو او راستنېدونکو د اسلامي نظام تود هرکلی، مهرباني او صمیمیت ولید، نو د افغانستان د سولې او ثبات دښمنانو د ټولو کاذبو او دروغجنو تبلیغاتو حقیقت ورته څرګند او په دې پوه شول چې د اسلامي نظام حقیقت څه دی او د افغانستان دښمنانو څومره بې اساسه او کاذب تبلیغات کول؛ دغو مهاجرینو چې د خپل نظام او هېوادوالو مینه او درناوی ولید، نو هغو هېوادوالو ته یې هم چې په بهرنیو هېوادونو کې د کډوالۍ سختې ورځې شپې تېروي انګېزه ورکړه او ویې هڅول څو خپل اصلي وطن ته راستانه شي، دلته خپل عزت او درناوی ووینې او په خپل وطن کې د شخصي کار په پیلولو سره د ملک په ابادۍ کې ونډه واخلي.

د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې کمېسیون دولس ګونو کمېټو هرې یوې په خپل وار سره، د دوی محوله امورو کې د عالیقدر شیخ امیر المؤمنین حفظه الله، د هدایاتو د تطبیق برخه کې خپله بېدرغه هڅه او کوښښ کړی او د هرې کمېټې مسئولینو د خدای ج د رضا حاصلولو او د ورسپارل شویو مسئولیتونو د تطبیق برخه کې د خپل رهبر د فرمان د اطاعت لپاره یې بېساري هڅې کړې چې تر دې دمه په پوره قوت او شدت سره دوام لري. د اسلامي امارت ټول مسئولین له مهاجرینو او راستنېدونکو سره د مرستې برخه کې ځان مکلف بولي د اسلامي نظام او د شریعت په سپېڅلي چوکاټ کې یې د بشردوستۍ ښکلې صحنې په عملي بڼه هېوادوالو او نړیوالو ته ور وښودې او په ډاګه یې کړه، چې افغانستان د یو خدمت کونکي دولت او فداکاره ملت لرونکی دی او د وحدت او اتفاق فضا کې له یو او بل سره مرسته کوي او خپلو ستونزو او مشکلاتو ته په ګډه حللاره پیدا کوي.

د کمېسیون دولسګونې کمېټې خپل ورځنې فعالیتونه، په ښه او معیاري شکل د کمېسیون له رهبرۍ سره شریکوي او له رهبرۍ څخه د لا ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه اړینې لارښوونې ترلاسه کوي. همدارنګه د کمېسیون رهبري هم د هرې ورځې په پای کې د اسلامي امارت رهبرۍ عالي مقام دفتر ته د تر سره شویو فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کوي او مهاجرینو ته د خدمتونو وړاندې کولو پروسه کې د اسلامي امارت رهبرۍ عالي مقام اړین هدایات ترلاسه کوي او د تطبیق لپاره یې په ډېر اخلاص او علاقمندۍ سره هڅه او کوښښ کوي.

د افغانستان خلک، په ځانګړې ډول مهاجرین او راستنېدونکي به هېڅ کله هم د مجاهد ملت په همکارۍ د اسلامي امارت لخوا دوی ته برابرې شوې ښکلې او صمیمي شېبې هېرې نه کړي او د اسلامي نظام دغه د صمیمیت او مهربانۍ فضا به نوره هم زموږ د ولس د هڅونې سبب شي.

**د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د مجاهد ملت د کامیابۍ په هیله**




# د مهاجرت نړیوالې ورځې په مناسبت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د وینا متن

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**نحمدّه ونصلی علیٰ رسوله الکریم  اما بعد:**

د افغانستان اسلامي امارت درنو مشرانو، د نړیوالو بنسټونو استازو، د سفارتونو استازو، د اروپايي ټولنو استازو، د کډوالۍ د نړیوال سازمان استازو، د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري استازو، د افغانستان د کابینې غړیو، مشرانو، د رسنیو غړیو، ځوانانو، همکارانو دیني علماء کرامو :

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په لومړي سر کې ټولو راغلیو ته ښه راغلاست او درناوی وړاندې کوم او ددې ستر هدف په موخه ستاسو د راټولیدو هر کلی کوم.

مهاجرت یوه نړیواله پدیده ده، چې په تېرو څو کلونو کې افغانان ورسره لاس او ګریوان دي. دغه ورځ د افغانستان اسلامي امارت لپاره پوره مهمه او د قدر وړ ده. په تېرو شلو کلونو کې، افغان مؤمن مجاهد ولس د خپل سر، حیا او ناموس د خوندېتوب او اسلامي نظام د حاکمیت په خاطر د خپل کور، کلي او وطن پرېښودو ته اړ او ګاونډیو هیوادونو ته په هجرت کولو مجبور شول.

افغان مؤمن ولس د تېر شلن کلن جهاد پرمهال د هجرت په دیارونو کې ډیري ستونزې او تکلیفونه ګاللي او دا حالت موږ ډیر ښه درک کړي.

ځکه موږ د یاد حالت عیني شاهدان یو،  تاسې باور وکړئ چې د امارت له کوچني عسکر نیولې ان تر شیخ صاحب پورې دغه مظلومیت تجربه کړی دی. دا حالت د ناټو په لاس جوړې شوې حکومت حاکم کړی و، موږ به ان شاءالله ډېر ژر دغه حالت کابو کړو.

د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدګۍ په موخه مې د هېواد ټولو ولایتونو ته سفر وکړ، ولسونه د افغانستان اسلامي امارت څخه خوښ دي، خلک د تېر شل کلن ناورین څخه ژغورل شوي. د افغانستان په ټوله جغرافیه کې سراسري سوله او امنیت تأمین دی. داسې ځای نه شته، چې هلته دې خلک په بې عدالتۍ کې ژوند وکړي. داسې څوک نه شته چې حکومت دې هغوی له خپلو حقوقو څخه محروم کړي وي. هغو مهاجرینو سره مې هم ولیدل، چې د جګړو  له امله بې ځایه شوي وو. هغوی بیرته خپلو مینو ته ستانه شوي دي. کورنیو بې ځایه شویو مهاجرینو یو ډول د ارامۍ احساس کاوه.

کابو نیمه پیرۍ په هېواد کې داسې وخت نه و راغلی، چې د افغانستان په ټوله جغرافیه دې یو حکومت حاکم وي. ځکه همېش دلته د بهرنیو استخباراتي کړیو او نیواکګرو له لوري داسې حکومتونه رامنځ ته شوي چې تل یې د خپل هیواد د منافعو پر ځای د یادو ملکونو منافعو ته لومړیتوب ورکړی او د هغوي په اشاره یې همیش خپلو افغانانو ته ځنډونه او تکلیفونه رامنځته کړي ؤ او ولسونه یې په قوم، سمت او ډولو ویشلي وو.

زه د افغانستان شمالي ولایتونو ته لاړم، په ګوټ ګوټ کې مې له خلکو سره ناستې او مجلسونه وکړل. د خلکو یوه لویه ستونزه اقتصادي کمزوري وه. مګر اصلِ خبره دا ده چې دا حالت او شل کلن ناورین د ناتو په لاس جوړ شوي حکومت رامنځته کړی او د ملت له پیسو یې شخصي او ګوندي استفاده کړې، نن د ملت حالت همدا دی، چې په ټوک ډوډۍ پسې حیران دی، بنیادي کارونه او پرمختیایي پروژې یوازې د میډیاو پروپاګند و، نور هېڅ هم نشته.

د افغانستان اسلامي امارت مشران به دغه حالت ډېر ژر کابو کړي، ځکه چې دا حالت خپله د نړیوالو په تاوان دی. افغان ولس شل کاله د اتومي قوتونو سره له غرونو او ځمځو مبارزه وکړه. خپل هډوکي یې د باروتو خوراک کړل او ولس یې د اشغال څخه خلاص کړ. موږ د خپلو هډوکو او وینو په بدله ازادي درته راوړه او د خپلو خولو په بدل به د ولس په پرهرونو د ملهم پټۍ کېږدو.

موږ درک کو چې افغان ولس اوس هم په یو لړ ستونزو کې را ګیر دی، خو موږ تاسي ته ډاډ درکو چې تر هغو به موږ د ارامۍ خوب ونه کړو، تر څو چې افغان ولس له دغه حالته ونه باسو، زموږ مبارزه یوازې تر څوکۍ نه؛ بلکې د امارت خدمت، د ولس او اسلام خدمت دی.

د پلټنې ریاست باید ټول مرکزي او ولایتي ریاستونه، یا هغه ریاستونه، چې شکایتونه ترې شوي تفتیش کړي. د حیف و میل او فساد عاملین دې په ګوته کړي، محاکمې او څارونوالۍ ته دې وروپېژني.

په دې اړه به موږ یو مطبوعاتي کنفرانس دایرو او دغې موضوع ته به د مطبوعاتي کانفرانس له لارې پوښښ ورکو، چې خلک پوه شي په امارت کې ضوابط پر روابطو حاکم دی، هېڅ فسادګر به له سزا پرته نه پاتې کېږي. د مهاجرینو وزارت اړوند ټولو ریاستونو ته مې هدایت کړی، چې تاسې د الله جل جلاله د رضا لپاره د مظلومو، فقیرو، کونډو او یتیمانو په حق کې اخلاص وکړئ، ځکه دا د شهداو د قربانۍ درناوی دی.

دا چې اوس کومې ستونزې زموږ مخې ته پرتې دي، دغه ستونزې د تېرو شلو کلونو راهېسي موږ ته په میراث پاتې دي، په ځانګړې ډول د ناټو په لاس جوړ شوي حکومت په افغانستان کې د خلکو په فطري غوښتنو بندیز لګاوه. مومن صفته شخص یې نه غوښته او د هغوی لپاره یې له شکنجو، زندانونو او بمباورونو کار اخیسته، طیارې، ټانګونه او زغروال شوبلې یې راوستلې وې او د ځمکې له مخې یې پناه کول. په افغانستان کې د بمونو د مور بم استعمال هم یو لوی بشري جنایت و، چې تر سره شو.

د دې ظلمونو سربېره، نړیوالې ټولنې د موسساتو په مرسته په افغانستان کې په مهاجرینو زیاته مخلصانه پانګوونه هم کړې ده، مګر د وخت اداري د دغو مرستو او پانګونو په وېش کې درغلي او بې عدالتي ترسره کړې ده، چې هېڅ حق حقدار ته نه دی رسېدلی، د نړیوالو موسسو دغه پانګونې یوازې یو څو داخلي مافیایي کړیو حیف و میل کړې دي. د مهاجرینو د نمرو په وېش کې زیاتې درغلۍ موجودې دي او د نړیوالو خیریه بنسټونو مرستې سخت په ظالمانه ډول حیف و میل شوې دي.

د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره سم دغه ستونزې جدي نیول شو ي او د دې لپاره به یو ستراتیژیک پلان جوړ کړای شي. د افغانستان

اسلامي امارت د مهاجرينو او راستندونکو چارو وزارت په داسي يو ستراتېژيک پلان کار روان کړي، چې د مهاجرينو لپاره داسې يو سيستم رامنځته کړي، چې سم ليد لوری، پوره روڼتيا او شفافيت ولري، او تر څنګ يې ولسونو او مهاجرينو ته ژمنتيا ولري.

د مهاجرينو لپاره ځانګړې شوې نمرې به بايميترک شي، د دوی هويتونه او د مرستو د ويش يو کره سيستم به رامنځته شي او ډېر جدي کار پرې روان دی. د هيواد په سرحداتو کې به ډېټابسونه فعال شي او د مهاجرينو هويتونه به پکې ثبت شي. د ځمکو وېش، قراردادونو پلټنه به وشي او هر څوک به له خپلو حقوقو څخه برخمن شي.

نړیوال اوس مجبور دي، چې اسلامي امارت په رسميت وپېژني. ځکه د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې افغانان د مهاجرت شپې او ورځې تېروي. د تعليم او تجارت لپاره د نړۍ په ټولو هيوادونو کې مېشت دي. د هغوی د حقوقو د خونديتوب او مشکلاتو د حل په موخه نړۍ مجبوره ده، چې د افغانانو سره تعامل وکړي او اسلامي امارت په رسميت وپېژني. دا د افغانانو مسلم او قانوني حق جوړېږي او نړيوال بايد افغانانو ته خپل حقوق ورکړي.

له نړۍ سره د تعامل په اساس به موږ د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې د افغانانو لپاره د سر شمېرنې او د هغوی د ستونزو د حل په موخه دفترونه رامنځته کړو. د دوی تعليمي، تجارتي حقوق به وساتل شي. افغانان اوس په اکثرو هېوادونو کې د مهاجرت شپې او ورځې تېروي. په ډېرو سختو ستونزو کې دي. د دوی تعليمونه په نيمايي کې پاتې دي، د تعليمي اسنادو د تاييد لپاره يې هيڅ رسمي اداره نشته، چې دا يوه لويه ستونزه ده چې افغان کډوال ورسره مخ دي.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت دا مهال په (يونان، ترکيه، ايران، پاکستان) هېوادونو کې د آتشو ۸ دفترونه لري، دا چې افغانان د نړۍ په ټولو هېوادونو کې په پوره شمېر استوګن دي؛ نو جدي اړتيا ليدل کيږي، چې نړيواله ټولنه په اروپايي ملکونو کې هم د افغانانو د ستونزو د حل لپاره د آتشو مرکزونه خلاص کړي.

د وروستيو تحولاتو په اساس زياتره افغانان مهاجر شول او اوس په ډېرو سختو ستونزو کې ښکيل دي. د اکثرو برخليک معلوم نه دی، آن روحي تکليفونه ورته پيدا شوي دي. موږ سره همېش رابطه کوي، که چيرې د دوی ستونزو ته ونه کتل شي او د افغانانو سره سياسي تعامل ونه شي، نو يو ستر بشري ناورين به رامنځته شي.

په پای کې تاسي ټولو ته ډاډ درکوم، چې د مهاجرينو ستونزو او داخلي بې ځايه شويو او د دې وزارت د ټولو چارو په تطبيق کې د حساب اخيستنې، حساب ورکونې، شفافيت او متوازنې پراختيا اصولو ته ځان ژمن ګڼم . زه او زما ټول کاري ټيم پوره هڅه کو، چې د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدو په موخه ګټور تدابير ونيسو؛ چې په ټولو برخو کې مهاجرينو ته هغه شان، چې لازمه ده خدمت او کار وشي.

د سرلوړي او پرمختللي افغانستان په هيله!

ومن الله توفيق



# په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوی پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسؤلیت

**لیکوال: عبدالحمید ظهیر**

**علمي او تحقیقي رساله**

**لومړۍ برخه:**

## لنـــــــــــــــــډیز

مهاجرت یو له پخوانیو او ټولنیزو پدیدو څخه ده چې د ځمکې پر مخ د هیوادونو تر منځ د رسمي پولو له رامنځ ته کیدلو سره سم را منځ ته شوی او ادامه لري، یاده پدیده نن ورځ د بشري حقونو یؤ له مهمو او جنجالي موضوعاتو څخه شمېرل کېږي سربېره پردې، چې د مهاجرینو لپاره په نړیواله کچه زیات کار شوی او د مهاجرینو د حقونو خوندیتوب په موخه نړیوال سندونه او کنوانسیونونه رامنځ ته شوي دي خو بیا هم هر هېواد د مهاجرینو پر وړاندې د خپل میل او منافعو په نظر کې نیولو سره داسې اعمال ترسره کوي چې د دیني او وضعي قوانینو له مخې د بشر حقونو نقض ګڼل کیدلای شي.

بدبختانه په دې لړۍ کې یو شمیر زیات افغان مهاجرین هم د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د دغه ډول کړنو قرباني شوي او کېږي په ځانګړې توګه په ګاونډیو هیوادونو کې، په همدې موخه په یاد تحقیق کې د مهاجرت په پیژندنه او اړونده مفاهیمو، په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان مهاجرینو په حقوقي وضعیت، د افغان مهاجرینو هېواد ته د راستنیدو په برخه کې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په مسئولیتونو او داسې نورو مؤضوعاتو بحث تر سره شوی دی.

مهمې اصطلاح ګانې: مهاجرت، نړیوال سندونه، ګاونډي هیوادونه، په زور سره شړل، سیاسي ګټه اخیستنه، کوربه او متبوع دولت.

**ســریزه:** الحمدالله رب العالمین و العاقبة اللمتقین و الصلات و السلام علی خیر خلقه محمد و علی آله و اصحابه اجمعین. و بعد!

په تاریخي لحاظ که وکتل شي د نړۍ تقریباً د ټولو هیوادونو یوه ډله وګړیو په مختلفو وختونو کې له خپلو اصلي هېوادونو څخه

نورو هیوادونو ته مهاجرتونه تر سره کړي دي چې یاد مهاجرتونه او له هیواد څخه جلاوالی هم بیلابیل عوامل لري لکه اقتصادي، فرهنګي، استعماري، سیاسي او داسې نور چې تر ټولو مهم مهاجرت په خپل هیواد کې د جنګ، بیروني اشغال، نسل وژنې او داسې نورو غیر انساني کړنو له امله د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه د نړۍ نورو هیوادونو ته تر سره کیږي او زیاته برخه یې لومړي سر کې ګاونډیو هیوادنو ته مهارجرتونه کوي په دي خاطر ګاونډي هیوادونه د سکونت او مهاجرت لپاره ټاکل کیږي چې یاد هیوادونه د فرهنګي مشترکاتو، فاصلې نژدې والي، کمو لګښتونو او داسې نورو عواملو له مخې موثر تمامیږي.

همدارنګه د ګاونډیتوب اصل له مخې هم هغه هیوادونه چې د ګاونډي هیواد اتباع یې په سخت حالت کې قرار ولري په اخلاقي لحاظ ځان مسول ګڼي، چې د هغوی ژوند ژغورلو په موخه ځای او د لنډ وخت لپاره پناه ورکړي، ولې په اوږد مهاله کې دغه دوستي او همکاري په تقابل، د اړیکو په خرابوالي رقابتونو او سیاسي فشارونو واردولو اوړي، چې د نړۍ په کچه په دې برخه کې زیات مثالونه شته. د دغه ډول حالاتو رامنځ کول په دواړو هیوادونو پوري اړه لري، ځکه چې له یو طرفه پناه ورکونکی دولت د مهاجرینو له شتون څخه په اوږد مهال کې په تنګ راځي او په پایله کې له مهاجرینو څخه په بیلابیلو ډولونو ناوړه ګټه اخلي د مثال په توګه د مهاجرینو په متبوع دولت د برلاسي او کنټرول په موخه د هغوي په اتباعو باندې په خپل هېواد کې مختلف فشارونه واردوي تر څو یې غوښتنې و منل شي، له بله طرفه د مهاجرو له شتون څخه ډیرې اقتصادي منافعې تر لاسه کوي چې دغه منافع هم له مرسته کوونکو هېوادونو او سازمانونو څخه تر لاسه کېږي او هم د مهاجرو له ورځنیو مصارفو او اقتصادي فعالیتونو چې په کوربه هیواد کې یې تر سره کوي، ولې بیا هم کوربه هیوادونه د مهاجرینو له موجودیت څخه غلطه سیاسي او ناوړه بشري ګټه اخلي.

زمونږ ګران هیواد افغانستان د نړۍ په یو داسې مؤقعیت کې قرار لري چې همیشه د نړۍ زبر ځواکونو له لوري د اشغال لاندې راغلی، ډیر انساني او مالي زیانونه یې لیدلي او ډیر هیوادوال مو له دا څه باندې څلورو لسیزو د نړۍ په مختلفو هیوادونو، په ځانګړې توګه ګاونډیو هیوادونو کې مهاجرت کولو ته اړ کړل شوي دي چې د نورو عواملو تر څنګ د دغه مهاجرتونو اصلي لامل د نړیوالو زبر ځواکونو تجاوز او متواتر اشغالونه دي چې په تیره یوه پیړۍ کې د نړۍ ۳ سترو قدرتونو تر تیري او تجاوز لاندې راغلی ده او ډیر انسانان یې له خپل اساسي حق چې د ژوند کولو حق ده محروم کړي او په پایله کې مو یؤ زیات شمیر هیوادوالو د خپل ژوند او عزت ژغورلو په موخه ګاونډیو هیوادنو ته مخه کړې ده.

دا چې ګاونډیو هیوادنو په لومړي سر کې افغان مهاجرو سره انساني رویه کړې او پناه یې ورکړې د قدر وړ کړنه ده او باید قدر داني یې وشي ولې په هغه ډول چې لازمه وه دغه میلمه پالنه یادو هیوادونو په سمه او مناسبه توګه پای ته ونه رسوله، نن ورځ هم په پاکستان او هم ایران هیواد کې زمونږ زیات شمیر هیوادوال له سختو حالاتو سره مخ دي، لکه زنداني کېدل، د اموالو مصادره، د یو برده او غلام په سترګه ورته کتل او بالاخره د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف په زور سره له یادو هیوادونو څخه بدون له یو منظم پلان او برنامې شړل، بناْ یاده مقاله دغه او دې ته ورته نورو مواردو راسپړلو او حل لارو پیداکولو په موخه لیکل شوې او د عملي کولو لپاره یې د اړونده برخې قدرمنو مسولینو او ګرانو هیوادوالو ته د مطالعې لپاره وړاندیز کیږي.

کلیات او مفاهیم:

په دې برخه کې به لومړۍ پر مهاجرت، د مهاجرت اړوند مفاهیمو، مهاجرت ډولونو او مهاجرت عواملو بحث تر سره او یادو

مفاهیمو پـر پیژندنـه بـه د بیلابیلـو عنوانونـو لانـدې رنـا واچـول شي.

### ۱-۱: د مهاجرت اړوند مفاهیم او اصطلاحات

**الـف-** مهاجر: مهاجـر هغـه چـا تـه ویـل کیـږي ، چـې د مختلفـو عواملـو لـه املـه پـه بهـر کـې د مېشـتېدلو پـه نیـت تللـي وي . پـه اړونـده هیـواد کـې د مهاجـر پـه توګـه د ثبـت رسـمي اسـناد پـه لاس کـې ولـري او یایـې هلتـه د هسـتوګنې پـه اړه قرائـن او شـواهد موجـود وي.

**ب-** مسافر: مسافر هغه چاته ویل کیږي چې بهر ته دکار ،تجارت او یا عاجلو ضرورتونو په اساس په سفر تللي وي.

**ت-** پـردې (بیګانـه): ټـول هغـه وګـړي چـې پـه کـوم هیـواد کـې ژونـد کـوي (کوربـه هیـواد) خـو د هغـه هیـواد تابعیـت و نـه لـري، هغـه کـه د مقیـم، پناه غوښـتونکې، ګرځنـدوی او یـا هـر هـدف پـه موخـه پـه اختیـاري او غیـر اختیـاري توګـه هلتـه تللـی وي عبـارت لـه پـردې یـا بیګانـه څخـه دە. (د نړیوالـو حقوقـو موسسـه ۱۸۹۲ کال).

**ث-** اواره: هغـه ډلـه وګـړي چـې د جنـګ، قحطـی او طبعـي پیښـو لـه املـه مهاجـرت او یـا بیځایـه کېدلـو تـه مجبـور شـي عبـارت لـه اواره او بیځایـه شـوو  څخـه دي، چـې د هېـواد پـه داخـل کـې لـه یـوه ځایـه بـل ځـای تـه کوچېـږي او یـا هـم لـه مرزونـو څخـه بیـرون نـورو هیوادنـو تـه ځـي. دغـه ډلـه وګـړي نظـر نـورو مهاجـرو تـه پـه لـوړه کچـه د بـشري مرسـتو لانـدې نیـول کېـږي او کوربـه هیوادونـه ډېـره توجه ورتـه کـوي.

**ج-** بیرتـه راسـتنېدونکي: هغـه ډلـه وګـړي چـې خپـل اصلـي هېـواد یـې د عمومـي تاوتریخـوالي لـه املـه تـرک کـړي وي او بـل هیـواد تـه د مهاجـر پـه توګـه تللـي وي، کلـه چـې بیرتـه خپـل اصلـي هیـواد تـه راسـتنیږي عبـارت لـه بیرتـه راسـتنېدونکو څخـه دي، چـې د دوی بیرتـه راسـتنېدنه بـه یـا پـه خپلـه خوښـه او یـا بـه د کوربـه هیوادنـو لـه لـوري پـه زور سره راویسـتل کېـږي.

د- کوربـه ټولنـې: پـه داخـل د هیـواد کـې هغـه ټولنـې چـې بیرتـه راسـتنېدونکو یـا داخـلي بیځایـه شـویو تـه پـه خپلـه غیـږ کـې ځـای ورکـوي او د سرپنـاه ورکولـو زمینـه ورتـه برابـروي عبـارت لـه کوربـه ټولنـو څخـه دي.

و- ګاونـډي هیوادونـه: افغانسـتان لـه پنځـه ګاونډیـو هیوادونـو (ایـران، ترکمنسـتان، ازبکسـتان، تاجکسـتان او چین) سره رسـمي او د پاکسـتان لـه هیـواد سره غیـر رسـمي او جـبري فـرضي کرښـه د دیورنـد پـه نـوم لـري چـې د مختلفـو عواملـو پـه اسـاس د تاریخ پـه بیلابیلـو وختونـو کـې افغانـان یـادو هیوادونـو تـه مهاجـر شـوي دي ولـې اکثریـت برخـه یـې د ایـران او پاکسـتان پـه هېـواد کـې میشـت دي بنـأ پـه یـاد تحقیـق کـې د ګاونډیـو هیوادونـه څخـه موخـه هـم همـدا دوه هیوادنـه (پاکسـتان او ایـران) دي.

### ۱-۲: د مهاجرت ډولونه

معمولاً نن ورځ مهاجرتونه پر دوو لویو برخو وېشل شوي دي چې له قانوني او غیرقانوني مهاجرتونو څخه عبارت دي.

#### ۱-۲-۱: قانوني مهاجرت

هغـه وګـړي چـې پـه کوربـه هیـواد کـې د اوسـیدلو قانـوني سـند ولـري لـه قانـوني مهاجـرو څخـه عبـارت دي پـه دې کټګـورۍ کـې هغـه کسـان شـاملیږي چـې د کوربـه هیـواد ټـول مقـررات مراعـت کـړي، کوربـه هیـواد تـه داخلیـدل، اوسـیدل، او فعالیـت کـول یـې د قانـوني سـند لرلـو پـه اسـاس تـر سره کېـږي، د دغـه ډلـه وګـړو پـه اړه د کارګرانـو څخـه د ملاتـړ نړیـوال کنوانسـیون پـه پنځمـه مـاده کـې ذکـر شـوي، (هغـه مهاجـر چـې پـه کوربـه هیـواد کـې د قانـوني سـند پـه لرلـو سره ژونـد کـوي د ټولـو حقوقـو نـه یـې ملاتـړ کېـږي لکـه د کار کـول، مـزد، اوسـیدل او داسـې نـور) پـه داسـې حـال کـې چـې غیـر قانـوني مهاجرینـو څخـه دغـه ډول ملاتـړ نـشي تـر سره کېـدلای.

### ۱-۲-۲: غیر قانوني مهاجرت

ټول هغه وګړي چې بدون له کوم سند څخه کوربه دولت کې ژوند کوي هغه که په هر دلیل وي عبارت له غیر قانوني مهاجرو څخه دي، داسې هم پېښیږي چې یو تعداد وګړي لومړي سر کې د قانوني سند په لرلو سره بل هېواد ته مهاجرت وکړي ولې په سند کې د وخت له پای ته رسیدلو وروسته هغه نه تمدیدوي بناً د نه تمدید په صورت کې یاد وګړي هم د غیر قانوني مهاجرو په حیث شمیرل کېږي چې اکثره یې بیا له بیلابیلو ستونزو سره مخ او خپل قانوني حقونه له لاسه ورکوي.

### ۱-۳: له افغانستان څخه د مهاجرت کولو عمده لاملونه

مهاجر او مهاجرت کول یوه نړیواله پدېده ده چې د بیلابیلو هیوادونو وګړي یې د بیلابیلو عواملو په اساس له خپل اصلي هېواد څخه نورو هیوادونو ته تر سره کوي دا چې د افغانستان وګړو ولې او د څه لپاره مهاجرتونو ته مخه کړې او یا یې کوي ممکن زیات عوامل ولري ولې مهم لاملونه یې په لاندې ډول دي.

### ۱-۳-۱: جبري عوامل (د ژوند ژغورل)

دا یو جوت او معلومداره حقیقت ده چې افغانستان او افغانان تقریباً له نیمي پیړی راپه دې خوا د نړۍ زبر ځواکونو له لوري تر یرغلونو او تجاوزنو لاندې راغلي دي چې د یادو یرغلونو په پایله کې یې ډیر زیات ځاني او مالي زیانونه لیدلي دي، ځکه نو په میلیونونه افغان وګړي د خپل ژوند او عزت ژغورنې په موخه جبراً دې ته اړ کړل شوي چې خپل مال، کور، کلی، او هیواد پریږدي، او مهاجرت ته مخه کړي، نن ورځ چې کوم افغانان د مهاجرو په توګه په نورو هېوادونو کې ژوند کوي او له بیلابیلو ستونزو څخه کړیږي د هغه ۸۰ سلنه یې د بهرنیانو له لوري په ځانګړې توګه د یرغلګرو هېوادونو (شوروۍ، امریکا او ناټو غړو) له خوا د ظالمانه یرغلونو له امله دې ته مجبور شوي چې مهاجرت ته مخه کړي، دغه ډله وګړي اکثراً ګاونډیو هېوادنو ته مهاجر شوي دي چې لویه برخه یې د ایران او پاکستان هیوادنو کې مېشت دي.

### ۱-۳-۲: تجارتي او اقتصادي عوامل

یو تعداد افغانان د نورو هیوادونو د وګړو په څیر د خپل ژوند ښه کولو، اقتصادي منافعو تر لاسه کولو، او داسې نورو هدفونو په موخه له هیواد څخه بهر په نورو هیوادونو کې مهاجرتونو ته مخه کړي چې دغه ډله وګړي د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې ژوند کوي خو اکثریت برخه یې په غربي هیوادونو په ځانګړې توګه اروپا کې مېشت دي.

### ۱-۳-۳: ټولنیز، سیاسي او فرهنګي عوامل

یوه ډله افغانانو د نورو سیاسي، او فرهنګي دلایلو په اساس مهاجرتونو ته مخه کړې د مثال په توګه د هېواد هغه ولایتونه او سیمې چې د ایران هیواد سره پوله لري له ایراني وګړو سره تګ راتګ لري، د هغوي ټولنیز او فرهنګي تاثیراتو وربانديې سیوری غوړولی، حتی خپلولی یې سره کړي نو د همدې اړیکو د بقا او پایښت په موخه یې هغه هیواد ته مهاجرت کړې او تر نن ورځې هملته میشت دي، همدارنګه هغه سیمې چې د دیوردند فرضي ظالمانه کرښې لاندې راغلي او په زور او جبر د افغانستان له خاورې څخه جلا شوي او نن ورځ د خیبر پښتونخوا تر عنوان لاندې پیژندل کېږي، اکثره افغانان هلته میشت دي چې د پولې هغه غاړې اوسیدونکو سره نه جلاکیدونکې اړیکې لري د غم او خوښۍ اکثریت مؤضوعات یې سره یوځای دي ټولنیزې او فرهنګي عمیقې اړیکې سره لري چې حتی د جلا کولو تصور یې نشي کېدلای بناً د همدې اړیکو دبقا او پایښت په موخه له پولې هاخوا نن

ورځ د مهاجرو تر عنوان لاندې ژوند کوي.

يو تعداد هغه افغانان چې اقتصادي وضعيت يې ښه ده د خپلو اولادونو د روښانه ژوند او په نړيوالو معيارونو برابرو عصري زده کړو ترلاسه کولو په موخه له هيواد څخه وتلي او نورو غربي هيوادونو کې د مهاجرو په توګه ميشت شوي دي چې دغه ډله د مهاجرو ډيره کمه برخه تشکيلوي.

د دې تر څنګ له څه باندې څلورو لسيزو را په دې خوا په افغانستان کې د حکومتونو او نظامونو بيلابيل ډولونه تجربه او وکاريدل چې ځينې يې د کمونيزم او ځينې يې د ديموکراسۍ د مفکورې لاندې و؛ نو يوه ډله وګړي د وخت د سياسي رژيمونو د مخالفينو په نوم د بې رحمانه ځورونې لاندې وو او تاوتريخوالي لاندې راغلل؛ نو دې ته مجبور شول چې د خپل ژوند ژغورنې په موخه د سياسي مهاجرينو په توګه له هېواد څخه بهر او نورو هيوادونو کې د پناه غوښتونکي شي، دغه ډله هم نسبتاً کم دي چې تر نن پورې د نړۍ په بيلابيلو برخو (آسيايي، عربي، اروپايي، امريکايي ملکونو او يا هم استراليا)کې ژوند کوي.

## ۱-۴: د افغان مهاجرينو لپاره پناه ورکونکي هيوادونه

افغانان د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې د مهاجرينو په توګه ژوند کوي چې په مهمو لاملونو يې پورته وغږيدولو دا چې په کومو هيوادونو کې ژوند کوي په دوه کټګوريو يې وشو.

### ۱-۴-۱: ګاونډي هېوادونه

له څه باندې څلورو لسيزو ناخوالو را په دې خوا ډير افغانان په نږدې ګاونډيو هېوادونو کې ميشت شوي خو ډيره برخه يې په دوه ګاونډيو (ايران او پاکستان) هيوادونو کې ميشت دي چې د ملګرو ملتونو سازمان د معلوماتو په اساس (۸) ميليونه افغان مهاجر په ايران او پاکستان هيوادونو کې ميشت دي د يادو ارقامو له ډلې (۳,۵) ميليونه په پاکستان او (۴,۵) ميليونه د ايران په هيواد کې ژوندکوي، له دې جملې تقريباً (۱,۵) ميليونه مهاجر په پاکستان کې په قانوني او (۲) ميليونه نور يې بدون له قانوني سند څخه اوسيږي او (۲,۶) ميليونه افغان مهاجر په ايران کې په قانوني او (۱,۹) ميليونه نور يې له سند پرته هلته ژوند کوي ولې د ايران هيواد د کورنيو چارو وزارت د ارقامو له مخې په دې هيواد کې له (۵ تر ۶) ميليونه افغان مهاجر اوسېږي.

د يادولو وړ ده چې د نړيوالو اصولو او قوانينو له مخې هېڅ هېواد دا حق نه لري چې د سند نه لرونکي مهاجر دې په ظالمانه توګه له خپل هېواد څخه په اجباري توګه وباسي ولې متاسفانه زمونږ ګاونډيو هيوادونو د يادو قوانينو، اسلامي شرعيت او اخلاقي مسئوليت په نظر کې نه نيولو سره خپلو يو طرفه او ظالمانه کړنو ته دوام ورکړی او په ډيره بې رحمۍ سره يې د افغان مهاجر د راويستلو لړۍ پيل کړې ده په ځانګړې توګه د پاکستان هېواد.

### ۱-۴-۲: د سيمې او نړۍ هيوادونه

له ګاونډيو هېوادونو ورهاخوا د نړۍ په مختلفو هېوادنو کې يو زيات شمېر افغانان د کډوالو په توګه ژوند کوي چې د اسيايي هېوادنو له ډلې په عربي تولنه، مرکزي آسيا، روسي او ترکي هېوادونو کې زياته برخه ژوند کوي، همدارنګه په اروپايي، امريکايي هېوادنو او يو شمېر يې په استراليا او نړۍ نورو برخو کې مېشت دي.

**يادونه: د دې رسالې نورې برخې او مقالې په بله ګڼه کې ان شاءالله...**



# د مهاجرت ادب تاثرات
# او په پښتو ژبه کې د شوي کار جاج

لیکوال: یونس تنویر

د یوې ژبې د ادبیاتو د غنامندۍ په سلسله کې تر ټولو بارزه خوا د ادیبانو د مهاجرت لړۍ ده. تاریخونو لیکلي دي، چې د پخوانو انسانانو د هجرت عوامل: قبیلوي پولې، مذهبي تعصبات، نظریاتي لیدلوري او په اوسني دور کې د پردیو لپاره جاسوسۍ او همداسې نورو عواملو له امله ادیبان مهاجر شوي او نورو سیمو او هیوادونو ته خواره شوي دي. بالخصوص مسلمانانو تر ټولو زیات هجرتونه کړي دي؛ ځکه چې اسلام په یوې داسې ځمکه قایمیده، چې ځمکې له فسادونو او خشونتونو ډکې وې. د زیاترو مسلمانونو په وینو دا ځمکې پاکې او سوتره شوې دي.

تاریخونو او تفاسیرو په دغو مهاجرتونو کې د ادیبانو د هجرت لړۍ مسلسلې را اخیستې دي. دا چې په هجرتونو کې د لیکل شویو ادبیاتو لمن ډېره پراخه ده او زموږ دغه مقالې یې نه شي ځایولای؛ نو اړینه ګڼم، چې په پښتو ادب کې د مهاجرو ادیبانو په پنځونو یوه تته رڼا واچوم. یانې موږ په دې برخه کې هغه ټولې خبرې نه شو کولای، ځکه چې دا ډول مسایل د یوې مقالې په غیږ کې نه ځایږي. شاید موږ په دغه مقاله کې و دې خبرې ته هم ځواب پیدا نه کړو، چې دا ادبیات څنګه پیل شول؟ ولې پیل شول؟ د نورو ژبو تاثرات څه وو؟ څه یې را انتقال کړل او څه یې په هغوی پیرزو کړل؟ او څنګه یې د نورو ژبو له هنریاتو ګټه اخیستې ده؟؟

زه فکر کوم، چې دا پوره یو لوی تحقیق ته اړتیا لري؛ خو ضروري خبره دا ده، چې په دې مرحلو کې موږ له دوه ډوله ادبیاتو سره مخ کیږو. یو ډول د جلاوطنه ادیبانو پنځونې دي او بل ډول په زندان کې پنځول شوي ادبیات دي. خوشحال خټک او اشرف خان هجري په زندان کې د خپلو مېنو ساندې او وطني احساسات ولیکل او ادب ته یې خپله برخه ډالۍ کړه. او د هجرت کولو ازادي هم ترې اخیستل شوې وه.

زه نه غواړم، چې په دغو ټولو کشالو خبرې وکړم؛ مګر دا خبره ډېره یقیني ده، چې افغانانو د دوو نظریو لپاره هجرتونه کړي دي.

یو د اسلامي نظام او نظریې د ترویج لپاره هجرتونه او بل د کفري نظریو لپاره افغانان کډوال شوي دي.

مګر په دغو دواړو حالاتو کې چې کوم ډول ادبیات زیږیدلي دي، هغه د پښتو ژبې لپاره یوه لویه غنامندي ده. زموږ زیاتره لیکوال او شاعران د بېلابېلو تعصباتو په وجه یا شړل شوي او یا تللي دي. تاریخونو لیکلي چې کاظم خان شیدا د خپلو عزیزانو له جبره هند ته مهاجر شوی دی؛ مګر هغه د پښتو ادب لپاره یو ډېر لوی خدمت وکړ او په دې ژبه کې یې د هندي سبک او مخیله شاعرۍ باب بشپړ کړ.

استاد پسرلی چې کله ایران ته لاړ، پښتو ادب ته یې له هغه ځایه یو ډېر هنري فکري اړخ را ددننه کړ. په استاد دا تاثیر؛ دده! له دې قوله هم جوت دی، چې ماته حافظ لوی شاعر نه ښکاره کېده، مګر کله مې چې دده په اړه شرحې ولوستې، نو ډېر لوی شاعر و.یانې کله چې استاد د ایراني ادب په نزاکتونو وپوهېده، د هغو څخه یې زیاتې هنري تجربې داخلي وګرځولې.

همدا ډول زموږ لیکوال، چې له دې هېواده یې و نورو هېوادونو ته هجرتونه کړي دي، ډېرې لویې نظریې یې و نورو هېوادونو ته وړي دي. پان اسلامیزم د علامه سید جماالدین افغان نظریه وه، چې ډېرو هیوادونو کې یې لیکوال او شاعران پلیوني شول او پوره یې ددې نظریې لپاره خپل قلمونه وقف کړي دي. یانې هغوی ته چې د اندولس او قرطبې غمیزه شریکه وه، نو په شریکه یې دا نظریه بدرګه کړې ده. دا د اسلام هغه نظریه ده، چې په دې سره په نړۍ کې ټول مسلمانان ورونه دي. په اردو او فارسي ادب کې علامه اقبال دغه نظریه پوره بدرګه کړې او په پښتو کې استاد ناګار د پان اسلامیز یو استاد شاعر دی، چې دا احساس یې په پنځونو کې زیات بارز دی. زموږ موخه د سیاسي تاریخونو تحقیق نه دی، بلکې هغه شاعرانه تاثرات دي، چې زموږ ادب ترې مالامال دی.

په شلمه پیړۍ کې زموږ د ډېرو ادیبانو تجربې د نړۍ سره وصل شوې او دوی هورې شاعري او لیکوالي وکړه. او د پښتو ادب لپاره یې زیاته غنامندي په برخه کړه. ((موږ د مهاجرت ادب په دې بریالی ګڼو، چې هغه تر ډېره بریده نړیوال شوی وي. په نړۍ کې د لویو کره کتونکو پام یې ځان ته را اړولی وي.))(۱) نړیوالو ته یې لاره هواره کړې وي او حتا په نړۍ کې په دې باندې فلمونه جوړ شوي وي او د نورو هېوادونو له خوا لوستل شوي وي. موږ دا ویلای شو، چې زموږ د مهاجرت ادبیات ډېر بریالي دي.

په شل کلنې دیموکراسۍ کې یو زیات شمېر ادیبان او شاعران جلا وطنه شول. او د هجرت سوزناک دردونه له ډېرو کلونو راهیسې زموږ په معاصر ادب کې خوندي دي او لا نور هم دا فریادونه سوزناک شول. ((اصل کې مهاجرت په خپله د معاصرې نړۍ سره تړلې پدیده ده.))(۲) که څه هم له هغې ورځې څخه چې افغانانو په هیواد تاړاکونه ان له چنګیز، مغل، انګلیس، روس او امریکاه له لوري شوي دي، نو یو زیات شمېر ادیبان مهاجر شوي او د هجرت یو ډول غم یې په خپلو اشعارو کې خوندي کړې دی. د خوښۍ او خپګان ګډو مضامینو یې په ادب کې لوی نوښت رامنځته کړی دی.

په دې دور کې ځینې لوی شاعران له هیواده مهاجر شوي دي. په دوی کې دوه ډلې دي، یو هغه ادیبان دي، چې غربي نړۍ ته کوچیدلي دي او بلې ډلې شرقي نړۍ او کاونډو هېوادونو ته یې هجرتونه کړي دي. هغوی چې په غربي نړۍ کې یې پنځونې کړې دي، لکه : استاد زیار، شپون، اند، اکبر کارګر، اکبر اکبر او ځینې نور مګر هغوی چې ګاونډو هېوادونو او شرقي نړۍ ته یې هجرتونه کړي دي، لکه: ناګار، کړاو، انس، صمیم، مفتون، ذاکري، خیرخوا، مطمین، سعید او ځینې نور..

موږ ددغو ټولو هجرتونو باندې نه غږېږو. او نه هم د دغو ټولو يادونه کولای شو. ددې لپاره بايد علمي مرکزونه د تحقيق ځينې انستيټيونه جوړ کړي او په دې باندې پوره تحقيق وکړي، ځکه چې د مهاجرت ادب د ژبې، پنځونې او داستان سره ډېر تړلې اړيکې لري. او له بل پلوه سياسي دی.

اوس موږ يوازې دا ويلای شو، چې مهاجرت يوه انساني پديده ده، او په يوه تاکلي وخت پورې يې تړون او اړيکه نه شته، (چې په يوې مشخصې زمانې پورې دې وتړل شي) او يا دې د جغرافيې له ليده ورته وکتل شي، ځکه؛ نه يوازې دا چې د لومړنيو مدني ټولنو په جوړولو کې يې پرېکنده رول لوبولی دی، بلکې د تاريخ په اوږدو کې مهاجرتونه تل د بشري ټولنو په جوړښت او بدلون کې سترې اغېزې رامنځته کړې دي. دا نفوذ مختلف اړخونه لري، لکه: فکري، مذهبي، اقتصادي، سياسي، کلتوري او حتا علمي. په هنري لحاظ يې بارزه خوا!! لا له دې هم زياته غنامنده ده، چې تخيل د مهاجرت يو له اغېزناکو برخو څخه دی. فارسي ادبيانو دا خبره ښکاره کړې ده، چې د تخيل او مهاجرت تر منځ يوه ژوره اړيکه موجوده ده او ډېر لوی ادبي او هنري اثار له مهاجرته اغېزمن شوي دي. په ادبياتو او هنرونو کې د مهاجرت شتون دومره پراخ او اغېزمن شوی، چې خپل ډولونه يا فرعي ډولونه يې رامېنځته کړي دي. په هجرت کې د پنځول شوي ادب هنري زاويه د همدې شتون پايله ده او ددې سره په ادب کې ډېر غټ مضامين رامنځته شوي دي، لکه: مهاجرو ادبياتو کې د بېلابېلو اقشارو د نفسياتو دخالت، د نورو له کلتورونو اغيزې، د جلاوطنی درد، احساس او داسې نور، چې دا ادب يې پېچلی کړی او متنوعې کړی دی.

دا د ايرانيانو ډېره درسته خبره ده، چې مهاجرتونه جغرافيوي پېښې نه دي، بلکې دا د انسان داخلي تجربې او خيالي پېښې دي. موږ د زياترو مهاجرو شاعرانو او ليکوالو په پنځونو کې د هويت گمنامي، شخصيت ورکوونه، نوستاليجيا، د سفر تکاليف، تنهايي، جلاوطني او د منظرو تخيلي تمايلات وينو او دا موضوعات په دغه ادب کې ډېر بارز او د هغوی لپاره خام مواد دي، چې د دوی اثارو په پنځونه کې ژور اغېز لري، مگر تر کومه چې زموږ اکاډميکې ساحې دي په هغوی کې به په سختی په دې اړه مقاله پيدا شي. ياني دغو مرکزونو ددې ادب په اړه هيڅ فکر نه دی کړی. ياني زموږ د ادب زده کوونکي لا تر اوسه زموږ او زموږ د کوربه ټولنې ترمنځ په مشترکو مضامينو خبر نه دي او نه هم زموږ زده کوونکي په دې عواملو پوهيږي، چې د کډې کلتوري فضا تاثرات په ادب کې څومره ژور دي؟

اوسمهال زموږ زياتره غرب ميشتي اديبان د سيکلريزم او فيمينيزم لپاره شاعري او ليکوالي کوي او دا په ادب کې ډېر ناکام عمل ځکه دی، چې په دې کې د کفري دسايسو يو ډېر خطرناک او لا علاجه تمايل پروت دی او دا شی په دې ټولنه کې هېڅ داخلي تجربه نه گرځي او دا به د مبتدي وگړو په افکارو ډېر ناوړه اغېز وښندي.

## اخځليکونه:


۱- د ايران په مهاجرت ادب کې د نوستاليجيا بدلون: شيدا احمدزاده مقاله؛ ژباړه: يونس تنوير

۲- هند ته د ايراني انځورگرانو د مهاجرت اغيز ميرسيد علي او عبدالصمد: حسن بلخي مقاله؛ ژباړه: يونس تنوير



# نقش تفتیش داخلی در جلوگیری از فساد اداری

نویسنده: محمد اشرف حنیفی

**مقدمه:**

فساد اداری پدیده شومی است که جریان توسعه کشورها را طورجدی با مشکل مواجه ساخته و موجب شکل گیری بحران درجامعه می شود.

فساد اداری قدامت طولانی در جامعه بشری دارد و رابطه آن با توسعه نظام سیاسی مستقیم است تا جایی که پیدایش وگسترش آن می تواند موجب اخلال در نظام سیاسی یک کشورشود.

در نظام اداری فاسد، کارمندان ازموقف خود در عرضه خدمات شبیه تجارت بهره می گیرند و به راحتی با سوء استفاده از موقعیت و موقف خویش، به اقداماتی متوصل می شوند که باعث نقض حقوق اجتماعی، اقتصادی و سیاسی شهروندان شده و حق مسلم فرد یا گروهی را به ناحق به فرد و یا گروه دیگرواگذارمیکنند و این امر برعلاوه آسیب زدن به رشد و توسعه اداره و جامعه، مانع رشد رقابت سالم و تأمین عدالت اجتماعی می شود.

جهت برچیدن گلیم این مرض مزمن، در جوامع انسانی قوانین و مقررات عدیده نافذ و مسوولیت تطبیق آن به ادارات مشخص وگذارشده است که از آن جمله یکی اداره تفتیش داخلی می باشد که توضیح مسوولیتها و اهمیت اجراآت اداره مذکور دراین نوشته بجا نبوده و طور خلاصه به آن اشاره شده است که اُمید به درد بخور باشد.

نقش تفتیش داخلی در جلوگیری از فساد اداری

مسوولین رده ای اول دولت به خاطرموثریت ومثمریت اجراآت، جلوگیری از فساد اداری و حفظ شیرازه نظام، تفتیش داخلی را در تشکیل همه ادارات گنجانیده شده است و مفتشین این اداره مسوولیت دارند که با فعالیت قانونمند، مستقل، بیطرف، اطمینان دهنده ومشورتی اجراآت کارمندان و ادارات مربوط را بر رسی وجهت رفع نواقص، کمبودات وبهبود اجراآت، به مسوولین وکارمندان اداره تحت بر رسی، رهنمود های لازم، سفارش و توصیه میدهند .

همچنان درجریان بررسی سیستماتیک بخشهای مورد نظرومشاهدات عینی، اجراآت غیرقانونی، استفاده جویی ها، فساد اداری وعاملین آنرا مشخص ویافته ها را بعد از مستند سازی در گزارش جا داده و با درنظر داشت میزان ثقلت خلاف ورزی و اجراآت غیر قانونی افراد مذکور، مطابق مواد قانون نافذ، فرامین، مقرره و مصوبات، پیشنهاد جزای تأدیبی را بمقام اداره می نمایند و در صورت گسترده گی فساد، پیشنهاد ارجاع دوسیه را به مراجع عدلی به مقام وزارت میدهند.



# با مشکلات مهاجرت آشنا شوید!

**ترتیب کننده احمد شکیب حبیبی**

بـدون شـک مهاجـرت بـه کشـورهای دیگـر سـختی هـا و درد سرهایـی دارد. دردسرهایـی همچـون تفـاوت فرهنگـی، سـختی در ارتبـاط گرفتـن بـا مـردم آن کشـور، تحصیـل، پیـدا کـردن شـغل مناسـب و خـلاء حضـور دوسـتان و خانـواده و ..... عمومـا بـرای مهاجریـن اتفـاق مـی افتـد. هرچنـد کـه ایـن معضـلات در کشـورهای مختلـف متفـاوت اسـت امـا در ایـن مقالـه  قصـد داریـم تـا بـه بررسـی جوانـب کلـی مشـکلات مهاجـرت بپردازیـم.

## احساس تنهایی

از شـایع تریـن مشـکلات مهاجـرت  مـی تـوان بـه احسـاس تنهایـی اشـاره کـرد حتـی اگـر بـرای رسـیدن بـه کشـور مقصـد انگیـزه و شـوق بسـیاری هـم داشـته باشـید بایـد خودتـان را بـرای دلتنگـی و احسـاس غربـت آمـاده کنیـد ایـن احسـاس زودتـر از چیـزی کـه فکـر میکنیـد بـه سراغتـان مـی آیـد! احسـاس دلتنگـی بـرای اعضـای خانـواده تـان، بـرای دوسـتانی کـه بـا آنهـا زندگـی کـرده ایـد و حتـی زبانـی کـه بـا آن صحبـت مـی کردیـد و یـا مـکان هایـی کـه بـا آنهـا خاطـره داشـته ایـد، شـما را احاطـه مـی کنـد! قبـل از مهاجـرت حتـما آمادگـی روحـی و روانـی لازم را بـرای برخـورد بـا ایـن موضـوع در خـود ایجـاد کنیـد.

## زبان کشور میزبان

حتـما قبـل از سـفر بـه فکـر آمـوزش زبـان کشـور مقصـد خـود افتـاده ایـد. هرچقـدر هـم کـه مهـارت گفتـاری و نوشـتاری زبـان کشـور میزبـان را کسـب کـرده باشـید بـا ورود بـه آن کشـور در ارتبـاط گرفتـن کلامـی دچـار مشـکل خواهیـد شـد! چـون گفتارهـای عامیانـه مـردم بومـی متفـاوت اسـت و تـا یادگیـری آنهـا در خریـد، ارتبـاط گرفتـن بـا اشـخاص، در مدرسـه و دانشـگاه هـا و .... قطعـا کمـی اذیـت خواهیـد شـد. شـاید بتـوان زبـان را یکـی از مهمتریـن مشـکلات مهاجـرت عنـوان کـرد.

## شهروند درجه دوم

یکی دیگر از مشکلات مهاجرت شهروند درجه دوم بودن است! ما خود را مهد تمدن می دانیم و در کشور خود حق شهروندی کامل را داریم اما در عموم کشورهای اروپایی و آمریکایی شهروند درجه دوم محسوب میشویم! شما حتی اگر اقامت قانونی داشته باشید و هرچقدر هم از لحاظ علمی و شغلی سطح بالایی داشته باشید، قطعا تبعیضاتی بین شما و مردم بومی آن کشور در سیستم های قضایی و یا سیاسی آن کشور وجود دارد حتی برخی از مردم آن کشور ممکن است شما را به عنوان یک خارجی که از امکانات آنها استفاده می کنید بشناسند و رفتارهای خشونت آمیزی از خود در برخورد با شما نشان دهند! حتما قبل از مهاجرت با قوانین شهروند درجه دوم در آن کشور آشنا شوید و فرهنگ مهاجر پذیر بودن مردمان آن را بررسی کنید تا آمادگی لازم در این خصوص را کسب کرده باشید.

## تفاوت دین و فرهنگ

این موضوع یکی از بزرگترین مسایلی است که باید قبل از مهاجرت به آن توجه کنید که در کشور مقصد اسلام هراسی وجود دارد یا خیر! تا مورد آزار و اذیت مردمان بومی آن کشور قرار نگیرید! از طرفی تفاوت فرهنگی را نیز در نظر بگیرید شاید مسئله ای ساده به نظر برسد اما از نحوه لباس پوشیدن تا یک سلام ساده و پرسیدن سوال ممکن است برای شما مشکل ایجاد کند ! ممکن است رفتاری در آن کشور بی احترامی تلقی شود و یا پیگیری قانونی داشته باشد. پس حتما قبل از سفر با فرهنگ مردم آن کشور آشنا شوید.

## معضلات کاری

اگر قبل از مهاجرت شغل خود را پیدا نکرده باشید ممکن است در آن کشور بیکار بمانید! یکی از مشکلات مهاجرت مسئله شغل است و عموما کشورها، مردمان خود را در اولویت شغلی قرار می دهند. حتی ممکن است گاهی مهارت مورد نیاز آن کشور با مهارت های شخصی شما متفاوت باشد. پس قبل از سفر از هماهنگی مهارت خود با میزان نیاز آنها اطلاعات کسب کنید.

## قوانین کشور مقصد

اگر قبل از سفر قوانین کشور مقصد را مطالعه نکردید خود را برای مشکلات زیادی آماده کنید! کشورهای مختلف قوانین متفاوتی دارند. از قوانین و جرایم رانندگی تا ساده ترین اتفاقات قانونی را مطالعه کنید.

بی پولی

از دیگر مشکلات مهاجرت بیشتر بودن هزینه زندگی روزمره می باشد برای حل این معضل نحوه خرج و مخارج خود را با دقت برنامه ریزی کنید تا به بی پولی بر نخورید! در کشور مقصد خبری از دوست و آشنا نیست که بتوانید به صورت دستی از آنها قرض بگیرید! نوع هزینه مسکن، مالیات، آب، برق و انرژی عموما پر هزینه تر می باشد و باید در مصرف آن ها صرفه جویی کنید .

## سایر مشکلات مهاجرت

با وجود اینکه بسیاری از کسانیکه مهاجرت کرده از شرایط خود راضی هستند اما تعداد کسانی که احساس پشیمانی میکنند نیز کم نمی باشد امکان مبتلا شدن به افسردگی، اعتیاد، طرد شدن از جامعه، احساس بی هویتی و .... در مهاجرین دیده شده است. پس قبل از مهاجرت از تصمیمی که گرفته اید مطمئن شوید و رویاپردازانه به مسئله مهاجرت نگاه نکنید.




# گزارش ربع اول وزارت مهاجرین و عودت کننده گان (۱۴۰۳)

**الف: گزارش سه ماه (حمل،ثور وجوزا) سال ۱۴۰۳ بخش مرکزی وزارت**

وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان یکی از ارکان امارت اسلامی افغانستان بوده که امور مربوط به مهاجرین، عودت کنندگان وبیجاشدگان داخلی را رهبری ومدیریت می نماید؛ اهتمام جدی همواره در تمام سطوح رهبری حکومت، این بوده است تا روند امور مربوط به مهاجرت و عودت کنندگان را با دقت بیشتر ملاحظه و از امکانات و منابع موجود با همکاری نهاد های مدد رسان ملی و بین المللی در جهت فراهم نمودن تسهیلات لازم و ارایه خدمات همه جانبه در داخل و خارج کشور تلاش شود و پالیسی امور مربوطه را عملی نماید.

رسیدگی به مسایل مرتبط به مهاجرت مستلزم همکاری نهادهای ملی و بین المللی میباشد.

وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان متکی براهداف استراتیژیک درتطابق با قوانین ملی و بین‌المللی، تحقق اولویت‌های استراتیژیک مشخصاُ عودت داوطلبانه، تدریجی و با عزت مهاجرین، استقرار و ادغام مجدد خانواده های عودت کننده وبیجا شده داخلی، حمایت ازحقوق و امتیازات شان، ارتقای ظرفیت‌های خانواده های عودت کننده و تأمین زمینه های کاریابی ، اشتغال زایی وآموزش‌های حرفوی ومسلکی آنها درهمکاری با ادارات ملی ونهادهای بین‌المللی مساعی همه جانبه نموده است.

هم چنان این وزارت بحیث یک اداره واحد رهبری کننده مرکزی، دارای ۳۴ واحد دومی تحت نام ریاست‌ها وآمریت های امورمهاجرین در۳٤ ولایت کشور، و نیز درکشورهای ایران و پاکستان که میزبان تعداد زیادی ازمهاجرین افغان اند، دارای نمایندگی های امورمهاجرین است.

نمایندگی های وزارت امورمهاجرین درشهرهای پشاور، اسلام آباد، کشور پاکستان وشهرهای تهران، زاهدان و مشهد کشور ایران در زمینه مسایل مربوط به عودت، اقامت و حمایت های حقوقی مهاجرین افغان فعالیت می‌نمایند.

رهبری، مسوولین وکارمندان مربوط همه وقت سعی وتلاش فروان خود را در زمینه فراهم آوری تسهیلات برای ارائه خدمات به عودت کننده گان وبیجاشده داخلی ابراز داشته است.

## موارد مهمی که در این ربع صورت گرفته قرار ذیل میباشد.

- ملاقات ودیدارهای مقامات رهبری وزارت با معاون اداری ریاست الوزراً دررابطه به آماده گی برای موج دوم اخراج اجباری مهاجرین افغان از کشور های همسایه، توزیع زمین برای آنان و مشکلات برگشت کننده گان،ملاقات با سفرای کشورهای قطر،چین وترکیه درموارد مشکلات وچالش های فرا روی مهاجرین افغان ، خسارات ناشی از سیلاب های اخیردرکشورخواهان همکاری درتهیه مسکن، اشتغال زایی و مساعد نمودن زمینه های آموزش به مهاجرین، با مسوولین دانشگاه ها ، توزیع کمک ها برای آسیب دیدگان ناشی ازسیلاب در ولایات بغلان ،غور، افتتاح مکاتب درشهرک های مهاجرین ، توزیع کمک های غذایی وغیرغذایی به مهاجرین وبرگشت کننده گان ، فراهم نمودن زمینه آموزش در بخش های حرفوی (قالین بافی ، گلدوزی ، فلزکاری ، نجاری ،نلدوانی ) ،باغچه های خانگی ،فارم های کوچک ماهی و زنبور داری .
- فراهم سازی زمینه ادای فریضه حج بیعت الله شریف برای (٦٠٠) تن افغانهای مهاجردر کشور های ایران وپاکستان .
- عقد تفاهمنامه ها به ارزش سیزده میلیون و شش صدو ٣٤ هزارو ٥٤٥ دالرامریکایی با موسسات (آقا خان، هماهنگی کمک های انسانی ، اضطراری جاپان ، ده شانتی رضا کاره تولنه ، کمیته بین المللی نجات ، مردم ضرورت مند، اکتید، آینده درخشان برای افغانان نیازمند، جوانان برای جامعه، زراعت ومالداری افغانستان سبز، عمل اجتماعی برای ایتام فقر، خدمات اجتماعی زنان افغان ، مرسی کور،انکشاف اجتماعی واقتصادی ،هاجر،هماهنگی انکشاف کمک های بشری ،پژوهش علمی وتوسعه جامعه گلوبل، راه نوین ، اهداف دوامدار برای افغانستان ، هماهنگی توسعه وباز سازی افغانستان ، احیای صحت وجامعه افغانی ، کمک های خیریه جاپان هیت معاونت بین المللی وخدمات پیشرفت های تعلیمی ، بشری وصحی برای افغان ها ،خدمات اجتماعی وتخنیکی وطن ومهاجرین قندهار) دربخش های ارزیابی وشناسایی افراد دارای نیازمندی خاص ، انتقال ونصب بسته برق آفتابی (سولر)، انتقال و توزیع مواد غیر خوراکی ، توزیع کمک نقدی ، مدیریت پروسه توزیع چند منظوره ، توزیع بسته های غذایی ، ترمیم واعمارخانه، توزیع بسته های صحی ، آموزش های حرفوی (خیاطی ،خامکدوزی) ، توسعه کار وبار ، پول درمقابل کار، مواد سوختی ، تهیه آب آشامیدنی ، آگاهی در مورد حفظ الصحه ، مدیریت زباله ها ، ترمیم ومراقبت عراد جات ، تنظیم وترتیب مواد درگدام ، تهیه وتدارکات روغنیات، نظارت ازمحلات جهت جمع آوری مشکلات ، نظارت از پروژه های ساختمانی ثبت شکایات ، ماین پاکی ، نیاز سنجی ، اعمار مکتب ، مراکز آموزشی ، شبکه آبرسانی ، کورس قابلگی ، تهیه وفراهم نمودن لوازم مورد ضرورت برای حرفه در ولایات کابل، پروان ، کاپیسا، پنجشیر، لوگر، میدان وردک ، پکتیا ، پکتیکا ، خوست ، غزنی، بدخشان

، کندز ، بغلان ، تخار ، بلخ ، سمنگان ، فاریاب ، سرپل ، جوزجان ، ننگرهار ، لغمان ، هرات ، زابل ، بادغیس ، قندهار، ارزگان، هلمند، نمیروز، کنر، نورستان، بامیان ، دایکندی ، غور ارائه خدمات می نمایند.

- سفرهای مقامات رهبری وزارت جهت بررسی وچگونگی ارائه خدمات به مهاجرین وعودت کننده گان در ولایات ومرز های کشور .
- به مطالبات حقوقی (۱۰۰۵) تن از عودت کنندگان رسیدگی صورت گرفته است.
- برای تعداد ( ۳۳۹) تن از عودت کنندگان و بیجاشدگان داخلی مشوره های حقوقی ارایه گردیده است.
- هماهنگی دوامدار با ریاست تعلیمات عمومی و اساسی،تدریسات ثانوی،وزارت محترم معارف و وزارت محترم تحصیلات عالی .
- معرفی واعزام کارمندان جهت ارتقای ظرفیت کاری در کورس های آموزشی ،سیمینار ها ، ورکشاپ ها .

## عرضه خدمات ورسیدگی ها در ولایات

ب: گزارش ۳ ماه ( حمل، ثور، جوزا ) سال مالی ۱۴۰۳ هجری خورشیدی واحد های دومی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان

- وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان بر بنیاد اهداف استراتیژیک خود سعی می‌ورزد تا به افغان‌های عودت‌کننده و بیجا شده داخلی در کشور، زمینه اسکان و استقرار مجدد ابتدایی توأم با حمایت‌های حقوقی، فرصت‌های کاریابی و اشتغال زایی و آموزش‌های حرفوی، تخنیکی را در محلات اصلی زیست شان فراهم نماید
- تأمین زمینه عودت داوطلبانه با عزت، تدریجی مهاجرین، استقرار و ادغام مجدد آنها، تأمین ارتقای ظرفیت و حل مشکل کاریابی و آموزش‌های حرفوی آن‌ها و مساعدت مبنی بر حمایت از حقوق و امتیازات آن‌ها در مطابقت با قوانین ملی و بین‌المللی از جمله وظایف اساسی این وزارت می باشد.
- طی سه ماه گذشته ریاست ها ی امور مهاجرین ولایات کشور دست آورد ها و فعالیت های شان را در بخش های توزیع کمک های خوراکی و غیر خوراکی که با هما هنگی ادارات یاد شده و با همکاری و کمک نهاد های مدد رسان ملی و بین المللی صورت گرفته است نشان دهنده عزم راسخ هیات رهبری وزارت در راستای تحقق و اهداف این وزارت میباشد.
- طی یک ربع گذشته سال روان ۴۸ هزار و ۷۱۴ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، متضرر ناشی از حوادث طبیعی بی بضاعت، معلول معیوب، یتیم و خانم های بیوه در ولایات ننگرهار، تخار، سرپل، بامیان، هرات، فاریاب، لوگر غور، پکتیکا، ارزگان بلخ،

قندهار، کندز، میدان وردک، جوزجان، کابل، بغلان، فراه، غزنی، سمنگان، لغمان، بادغیس بدخشان پروان،کاپیسا پکتیا، هلمند، خوست و نیمروز کمک شده اند که کمک های متذکره شامل غذایی، صحی نقدی، اعمار مکاتب، وسایل کاری، اعمار سرپناه، لوازم منزل، خیمه، بز های شیری، بسته های پوشاک زمستانی سولر، وسایل اعمار سرپناه، وسایل مرغ داری ووسایل تولید صابون میباشد که خانواده های متذکره از ان مستفید شده اند

- برنامه های اگاهی دهی در مورد فواید اسناد مدنی و آموزش ها ی حرفوی برای صد ها تن بیجاشده و برگشت کننده نیز راه اندازی شده بود که شاملین برنامه بعد از سپری نمودن دوره متذکره توانستند با ایجاد شغل های کوچک در اقتصاد خانواده های شان تغیرات مثبت را ببار آورند.
- همچنان از اثر سیلاب که در شماری از ولایات به وقوع پیوسته بود خسارات زیادی بر مردم وارد نموده که از اثر آن صدها باب دوکان و منازل مسکونی، هزاران جریب زمین زراعتی و هزاران مواشی، وسایط نقلیه، دیوار های استنادی، شبکه های برق محلی، پل های عبوری تخریب، کانال های آبیاری و زراعتی ، سربند ها، مزارع آبی زمین های زراعتی و جاده عمومی از بین رفته که مقام رهبری وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان با سفر در آن محلات و یا فرستادن هیات از وزارت با هما هنگی ادارات ذیربط حکومتی و نهاد های مدد رسان ملی و بین المللی و افراد خیر اندیش توانست پاسخ گوی مشکلات باشد .
- ده ها هزار تن از کشور های همسایه برگشت نمودند که در سرحدات چهار ولایت کشور ثبت آمریت های سرحدی شده و مطابق به طرز العمل امارت اسلامی برای آنان مساعدت نیز صورت گرفته است که بر علاوه آن جهت کمک های بیشتر به نهاد های بین المللی نیز معرفی گردیدند.
- در نتیجه مساعدت‌های پس ازعودت، این وزارت تلاش می‌ورزد تا بخاطر ادغام صد ها هزار تن عودت‌کننده و بیجاشده داخلی شرکت فعال آن‌ها را در پروسه بهسازی و بازسازی محلات زیست شان و ثبات حیات اجتماعی اقتصادی آن‌ها و بالاخره عمران کشور شان تأمین نماید.
- جلب همکاری و هماهنگی‌های کاری ادارات دولتی ذیربط و نهادهای بین‌المللی در روند عرضه خدمات پس از عودت در محلات زیست در کنار حل دائمی مسله اسکان، تأمین ارتقای ظرفیت آن‌ها نیز در اولویت‌های کاری این وزارت پنداشته می‌شود.
- این وزارت در تلاش است تا سهولت‌های لازم و کمک های بشر دوستانه را برای برگشت کننده گان و بیجاشده های داخلی در کشور فراهم کند.



# دوهـــــــــــــی



## حضرت ابوالمعانی بیدل رح

ز فیض ناتوانی مصرعی در خلق ممتازم
چو ماه نو به یک بال آسمان سیر است پروازم
به هجرت گر نی‌ام دمساز آه و ناله معذورم
شکست خاطرم در سرمه خوابیده‌ست آوازم
ز حیرت در کفم سر رشته‌ای داده ست پیدایی
که تا مژگان بهم می‌آید انجام است آغازم
تماشاخانهٔ حسنم بقدر محوگردیدن
تحیر بسکه لنگر می‌کند آیینه می‌سازم
بهار آمد جنون از ششجهت سر پنجه می‌بازد
چوگل من هم درین گلشن گریبانی بپردازم
طلسم غنچه توفان بهاری در قفس دارد
دو عالم رنگ و بوی اوست هر جا گل کند رازم
غرور خودنمایی ها به‌این زحمت نمی‌ارزد
به رنگ شمع چند از سر بریدن گردن افرازم
به آسانی ز بار زندگی رستن نمی‌باشد
مگر پیری خمی پیدا کند کز دوشش اندازم
به هر واماندگی از ساز وحشت نیستم غافل
صدایی هست بیدل در شکست رنگ پروازم

## د شهید (هنیه رح) په یاد: استاد پوهاند فضل ولي ناګار

قدسیان يې د تقديس زمزمې لولي په ترتيل
د وخت له ابرهه سره جنګيږي ابابيل
شفقه لږ را ټيټ شه، ورنه پور که رنګيني
دا دنګې منارې د اقـصی نه مني تنزيل
په ټنده د نرۍ رنګونه نقش شول د تکبير
تاريخ د قربانۍ نه لري بل داسې تمثيل
د قدس د قاتلانو لمن وينځي په زمزم
لمبه شئ سپينو ستورو په افق مه کوئ ډيل
پګړۍ زموږ د پت شوله لا هسکه له پامير
پرې سيورى وزرونه د رحمت د جبرائيل
يا شور د زولنو يا سپينې کربښې د تکبير
سنت راته کنعان فرض دی د ستر احد تکميل
يو خوب و د خليل د شازلمي ذبيح د هوډ
تعبير يې شو پوره په وينو سرو د اسمٰعيل
دا هسک د نرۍ بام چې شي چپه په هر قاتل
ناګاره غږوه داسې شپېلۍ د اسرافيل

## غزل

په شرنګ کې یې خدای ایښي کمالونه عجیبه
زنځیر وایي ځوانانو ته درسونه عجیبه
مړه زړونه راژوندي کړي لاسونه چې زخمي کړي
خوندونه په کې پټ دي او دردونه عجیبه
اسرار د دنیا ټول درته د لمر غونډې روښان کړي
او نور هم درته ووایي رازونه عجیبه
سینګار د زنځیرونو په رښتیا د رب خوښیږي
بندي جانان هم ځکه کړي نازونه عجیبه
«آنسه» پرې نازیږه همیشه پرې افتخار کړه
په لاس باندې دې ښه ښکاري داغونه عجیبه

**آنس حقاني**

## غزل

خوش قسمته خوش نصیب دی
چې هغه د چا طبیب دی
په اعضاوو کې مې نشته
د وجود چې کوم ترتیب دی
دا د پاڼ او پړانګ تر منځه
مرګ ته څومره ور قریب دی
د منصور د سر قضا وه
اناالحق یو عام ترکیب دی
یو چمن دی څو ګلونه
او کړاو یې عندلیب دی

**کړاو منګل**

## غزل

دلته دګل قدر څوک نه پیژني
ستا د وربل قدر څوک نه پیژني
تل مو د بل په اوږو لاس ایښی وي
خو د کابل قدر څوک نه پیژني
لومړی چې ځان خپله ونه پیژني
ګوره د بل قدر څوک نه پیژني
چې درناوی نه وي او مینه نه وي
هلته د خپل قدر څوک نه پیژني
زموږ فضاء ټوله نفرت نیولې
چې د څنګل قدرڅوک نه پیژني
سالمزی څه چې ترینه کډه وکړو
ستا دغزل قدر څوک نه پیژني

**سالمزی صاحب**

## غزل

په حجابونو کې مې سا ختلې
سر ته مې بیا د عشق هوا ختلې
څه د درنو کاڼو خبرې کوم
خیال ته مې بیا د چا سودا ختلې
ګرد یې زمونږه پر مخونو راځي
چیرته ایرو باندې دنیا ختلې
موږ تسلسل د شپو مات کړی هلته
چیرته چې سا هم د رڼا ختلې
څه راته غرونو کیسې ونکړلې
څه د فرهاد پر پلونو ورا ختلې.

**نوید زیری**

## غزل

هم له تا نه هم له ځانه یم لوېدلی
د قسمت له دسترخوانه یم لوېدلی
انسانیت مې سربداله په وحشت کې
عدالت په نوم انسانه یم لوېدلی
د پیرۍ په خوشحالیو کې غمجن یم
د نغمو له ترجمانه یم لوېدلی
هم له بامه هم له نامه یم لوېدلی
د تاریخ له لوی نشانه یم لوېدلی
شرارت له ضمانت نه راټوکېږي
د دې خلکو له قربانه یم لوېدلی

**شهزاده شهیر**

## غزل

د عطرو بوی دې له تا مخکې راځي
ښار ته خبر له بلا مخکې راځي
زه په هندارو باندې سترګې ترم
سپینه چې خلاصه قبا مخکې راځي
خوله یې عطا کړه له شرابو نه پس
یعني له غوښې شوروا مخکې راځي
ښکلیه! جفاوو دې حمزه کړم آخر
اوس له ژړا نه خندا مخکې راځي
پر ژۍ ولاړو ته لاس مه غځوئ
تر ناخداوو خدا مخکې راځي
مرګ همېشه ژوند ته سنګر نیولی
ګوره! ډیوې نه هوا مخکې راځي
د منصوردینو په مذهب شه خبر
ستوریه! فنا تر بقا مخکې راځي

**ستوري عبدالرحیمزی**

## نظم

### بادباران

وچې پاڼې اوبو راوړې
لرې آس چرته شیشنیګې
باد تناب نه جامې یوړې
د ماشوم د ژړا غږ شو
بزګر منډې کړې غوجل ته
ټولې مېږې یې لندې شوې
د کلا دړه ګړبیږي
د باران د اواز غږ دی
او ناوې شر شر توییږي

***

پورې ونې تورې ګورې
توره شپه په کې لمبیږي
وراندې ډنډ کې دورمې ناڅي
لوند توپان یې ډډې مروړي
تیز باران ډنډ کې ډوبیږي

****

بنده کس جومات کې نشته
ښاخ لویدلی په جومات دی
روغ جوړ تیر غوټ په ملا مات دی
لاسپیکر یې نسکور پروت دی
د لندو چکړو بوی دی

***

روغ اسمان په منځ کې چاود شو
له غور غور مې مور ویریږي
خور مې منډه کړه دالان ته
او کوټه ځک ځک ځځیږي

**عبدالرحمن رحماني**



# ورزش د روغتیا ضامن

**ليکوال : انجينر نويدالله سعيدی**

دا چې ټول انسانان په ورځني ژوند کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي، نو د فکري بدلون يوه ښه لاره همدا ورزش دی.د ورزش له لارې کولای شو، خپلې ځينې اندېښنې لېرې کړو.

تازه څېړنو ښودلې چې په منظمه توګه ورزش کولو سره د انسان مغز ته په پوره توګه اکسيجن او انرژي رسيږي، چې دا د حافظې او د زړه کړو په ښه والي کې ډېر اغېزناک دی.

په دې ورستيو کې يو شمېر ډاکترانو ورزش د بې خوبۍ ښه درملنه بولي، د دې سربېره په منظمه توګه ورزش کول د بدن د هډوکو حالت تر ډېره بريده په عادي يا نورمال حالت کې ساتي.

په افغانستان کې زيات شمير ملي او نړيوالې لوبې شته، چې ځينو يې د اتلسمې پېړۍ راهيسې د افغانستان د المپيک ملي کميټې لخوا په هيواد کې وده کړې او تر ډېره ورزشي فعاليتونه د ځوانانو لخوا ترسره کيږي. غواړم دلته د يو شمير لوبو او ورزشونو په اړه لنډ معلومات او افغانستان ته لاسته راوړنې ذکر کړم.

## د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډله



د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډله په رسمي ډول په ۲۰۱۱ ميلادي کال کې جوړ شو، خو په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې يې په نړيوالو لوبو کې لوبه وکړه او په پرلپسې برياوو يې په ملي او نړيواله کچه د مينه والو پام ځان ته راواړاوه. افغان لوبډله په خپل څه باندې شل کلن تاريخ کې په لومړي ځل نړيوال جام کې تر نيمه پايلوبې ورسېده، چې لوبو يې د کرېکټ نړۍ هېښنه کړې ده. د کرېکټ په دنيا کې د افغان لوبډلې تر ټولو پياوړې نقطه د دغې لوبډلې توپ اچونه او په ځانګړې توګه ورو توپ اچونه ده، چې د کرېکټ ماهرين او سينير لوبغاړي يې د چټک پرمختګ لامل بولي مينه وال او هېوادوال د شل اوريز نړيوال جام په سياليو کې د هيواد د کرېکټ د ملي لوبډلې د بريا هرکلی کوي .

## د فوټبال لوبه



د افغانستان د فوټبال لوبډله د افغانستان ملي لوبډله ده او د افغانستان د فوټبال فدراسیون تر کنټرول لاندې فعالیت کوي.

د افغانستان فوټبال پنځه نوي کلن شوی چې په دې موده کې یې ډېرې لوړې ژورې لیدلې دي.

په شاوخوا تېرې یوې نیمې لسیزې کې د افغانستان فوټبال ته ډېر پام شوی او د خپل تاریخ په اوږدو کې یې تر ټولو ستر پرمختګ هم درلود چې د فوټبال د نړیوال فدراسیون ((فیفا)) په لست کې له ۱۴۰ درجې

تر ۲۰۰ درجې پورته شو.



## د والیبال لوبه

د افغانستان د والیبال لوبډله په ۱۳۵۷ لمریز کال کې جوړه شوه، دغه لوبه په پرتلیز ډول په افغانستانکې یوه پخوانۍ لوبه ده تر دې دمه ډیرې زیاتې لاسته راوړنې لرلې دی،په لرې پرتو سیمو کې ګڼ شمیر لوبغاړي او مینه وال لری، د اړونده چارواکو په وینا دا لوبه اوسمهال زموږ د هېواد په ۳۱ ولایتونو کې سلګونه زره لوبغاړي لري.

## د بزکشۍ لوبه

کله چې د بزکشۍ وخت راشي؛ نو هر څوک خپل آس د بزکشۍ میدان ته راولي، د دغه لوبې لپاره لومړی یو خوسکی ذبحه کوي، هغه په میدان کې اچوي، آس څغلونکي په ډیره چټکۍ آسونه د خوسکي طرف ته څغلوي او هر یو د خوسکي پورته کولو کوښښ کوي.

بزکشي په افغانستان کې یوه دودیزه لوبه ده چې د مني او پسرلي په موسمونو کې د افغانستان په شمال او شمال ختیځ کې ترسره کیږي. بزکشي د افغانستان یو له اصلي او لرغونو لوبو څخه شمېرل کېږي.



## سوک وهنه

سوک وهنه (بوکسینګ) یو رزمي ورزش دی، په دې لوبه کې دوه کسان له سوک سره په مسلکي ډولونو کې یو له بل سره مبارزه کوي، په دې ورزش کې سیالۍ معمولا د نورو رزمي لوبو په څېر په ناک آوټ یا تخنیکي ضربې سره پای ته رسېږي.

دا ورزش د نورو ورزشونو په څیر په نړۍ کې ډیر شهرت لري او په خپل تاریخ کې یې ډیر اتلان ثبت کړي دي. او په افغانستان کې هم د خورا مشهورو لوبو څخه ده او د نورو ورزشي لوبو په څېر په افغانستان کې فعالیت کوي د سوک وهنې فدراسیون په

هېواد کې له بریالیو فدراسیونونو څخه دی.

د هېواد د سوک وهنې فدراسیون په ۲۹ ولایتونو کې فعاله څانګې لري او دغه فدراسیون په بهرنیو سیالیو کې ۶۸ د سرو زرو، سپینو زرو او برونزو مډالونه ګټلي دي.

## افغانستان ته لاسته راوړنې

• د افغانستان اسلامي امارت د دفاع وزارت ویلي؛ د پوځي سپورت نړیوالې شورا له لوري د سولې لپاره د البروس د غر ختنې سیالۍ کې چې ۱۳ هېوادونو (افغانستان، برازیل، ارمنستان، هند، اردون، عراق، ایران، چین، منګولیا، نامیبیا، عمان، ایکوادور او روسیې) ۵۰ تنه استازو ګډون کړی و، د دوه یوه پوځي استاد محمد هارون یاسر لومړی مقام خپل کړ.

• د افغانستان د فوټبال ملي ټیم چې په نړیوالو درجه بندیو کې ۱۵۱ ځای لري. دغه لوبډله په یوې بلې بریا سره کولی شي د ۲۰۲۷ کال د فوټبال اسیایي جام ته لاره پیدا کړي.

• د ۲۰۲۳ کال کرېکټ نړیوال جام کې افغان لوبډلې د نورو جامونو پرتله ګڼې لاسته راوړنې لرلې. د بېلګې په توګه په لومړي ځل یې پاکستان او انګلنډ ته په نړیوال جام او یو ورځنیو لوبو کې ماته ورکړه.

• د ۲۰۲۴ میلادي کال کرېکټ شل اوریز نړیوال جام کې افغان لوبډلې تولې اته لوبې لرلې. چې د ښې توپ اچونې او ډګر ساتنې په پایله کې افغانستان کریکټ ملي لوبډلې په یاد شل اوریز جام کې دریم مقام خپل کړ او د هېواد تکړه توپ وهونکی رحمن الله ګربز د ټول سیریز تر ټولو زیاد منډو جوړونکی او فضل الحق فاروقی په یاد جام کې تر ټولو زیاتې ویکټې تر لاسه کړې دي او په دې جام کې افغانستان د استرالیا او نیوزلینډ په شان قوي ټیمونه مات کړل.

• افغان لوبډلمشر راشدخان، پر خپلې فیسبوک پاڼې لیکلي: دا نړیوال جام به تل زموږ په یاد وي. د لوبډلې د هر غړي مقابله د ستاینې وړ ده او زه پرې ویاړم. موږ به له دې ځایه اصلاحاتو ته دوام ورکړو او بل ځل به پیاوړي راوګرځو.

• د ازادو سیالیو افغان لوبغاړي احمد ولي هوتک خپل قزاقستاني سیال ته ماتې ورکړه، نوموړي په مسکو کې له خپل سیال سره سیالي وکړه، چې په دویم راونډ کې یې له خپل سیال څخه وګټله. بل لورته د ازادو سیالیو بل افغان لوبغاړي قدرت الله رشیدي هم خپل پاکستاني سیال ته ماته ورکړي.




# د نړۍ عجایب

**تــاج محــل**: د اسلامي تمـدن یـو بې سـاری شـاهکار دی.د تـاج محـل تاریخـي ودانـۍ دمغـول بادشـاه شـاه جهـان لـه خـوا د خپلـې ګرانـې مېرمنـې ممتازمحـل سره دبې کچـې مینـې پـه ویـاړ جـوړه او ودانـه شـوې ده. د تـاج محـل ودانـۍ پـه ودانولـو کـې شـل زره کارګـران اومـزدوران پـه سـتړیاوتي کار بوخـت وو. ددغـه تاریخـي ودانـۍ د جوړولـو پـه خاطـرد نـړۍ لـه ګـوټ ـګـوټ څخـه تکـړه او نومیـالي معـماران ، تیـره توروونکـي، مهندسـان، حـکاکان اومجسـمه تورانـدي وروبلـل شـول.

تـاج محـل د هنـد پـه اګـره ښـار کـې دی. د تـاج محـل ودانـۍ پـه ښـکلي، ښایسـته اومـوزون ډول سره د سینګاراوپسـول پـه موخـه لـه یمـن څخـه عقیـق ، دعربسـتان څخـه مرجـان ، د فـارس څخـه یاقـوت اود افغانسـتان څخـه د بدخشـان لعـل وروغوښـتل شـول اوپـه جوړېداکـې یـې وکارول شـول. ترڅـو، چـې دغـه بې سـاری اوتلپاتـې دمینـې شـاهکار لـه کابـو(۲۲) کلونوپرلـه پسـې کار وروسـته د تکمیـل پـوړۍ تـه ورسېد.

د تـاج محـل ودانـۍ دنـړۍ پـه عجایبوکـې راځـي اوهـرکال د نـړۍ لـه ګـوټ ـ ګـوټ څخـه پـه زرګونوګرځندویـان اوسـیلانیان د دې شانداراو پرتمین شـاهکار لېدا تـه ورځـي. تـاج محـل دهندوسـتان د ګرځنـدوی صنعـت پـه برخـه کـې د عایداتـو یـوه غـوره، غـوره اوبډایـه سرچینـه ده.



**د هریهر کلا**

د دغـه انځـور پـه لیـدو مـې ذهـن تـه راغلـل چـې دا بـه د کنـدهـار چهـل زینـې وي؛ خـو نـه ! دغـه تاریخـي قلعـه د هنـد د مهاراشـترا پـه ایالـت کـې ده. د دې قلعـه د بنسـټ ږدونکی د (سـیونا یـادوا ) د سـلطنت پـر مهـال ایښـودل شـوې ده. کلا د یـو لـوړ غـره پـر سر جـوړه شـوې ده او د ورتـګ لپـاره ۱۱۷ زینـې ورختـلي دي، چـې هـره زینـه یـو متـر سـور لـري. دغـه مشـهوره کلا مشـهور مسـلمان قومانـدان خـان زمـان پـه ۱٦۳٦ ز کال تسـلیم او د مغـل اکبـر د سـلطنت برخـه ورګرځولـه.

## ایا پوهــــېږئ ؟



هر کال د الاسکا په بارو کې لمر د نومبر پر ۱۸ کښته کېږي او د راتلونکي کال د جنوري پر ۲۳ را پورته کېږي او دلته ۶۷ ورځې بې له لمره وي او تياره حالت وي.

## زندان تفریحی در ناروی

تصویری را که میبینید متعلق به یکی از زندان ها در ناروی است، در این جزیره زندانیان آزاد اند ، تا در اطراف جزیره رفت و آمد و گشت و گزار کنند.



زندانیان در مزرعه ی در آنجا روزانه کار میکنند، و اما بقیه وقت شانرا صرف آفتاب گیری، ماهی گیری، تینس بازی اسب سواری و دیگر سرگرمی ها سپری میکنند. در این جزیره تعمیر زندانیان مردانه و زنانه جداست، ولی در بیرون از تعمیر همه آزاد اند.

## ایا پوهېږئ ؟

روسیه په نړۍ کې یوازینی هېواد دی، چې په یوه برخه (لویدیځ) کې یې ورځ او په بله برخه (ختیځ) کې یې شپه وي.

## مصر

په مصر هېواد کې پر ۱۸۵۰ میلادي کال یو بزگر د ځمکې لاندې د سکارا برا په نوم یو کلی پیدا کړ، چې وروسته لرغونپوهان په دې واتوانېدل، چې د دغه کلي دقیقه نېټه لاسته راوړي. لرغونپوهان وايي: «دا کلی د مصر له اهرامونو هم زر کاله مخکې جوړ شوی، چې ټولټال پکې ۱۰۰ کسان اوسېدلي دي» سکارا برا کلی د تونلونو په واسطه سره وصل شوی؛ تر ټولو جالبه یې دا ده، چې هر کور یې د دبرو جلا دروازې لري.



## د مېږیانو شات (عسل)



د میکسیکو هېواد په اوکساکا سیمه کې د ( چیندودیس ) په نوم یو ډول مېږیان ( مېږتانه ) شته، چې په ګلونو ګرځي، شیره یې خوري او ډېر نایاب او ارزښتمن شات تولیدوي . الله عزوجل دې مېږیانو ته د بدن په وروستۍ برخه کې یوه کڅوړه ورکړې ده، چې مېږیان یې له شاتو ډکوي او د وچکالۍ پر مهال ګټه ترې نه اخلي. دغه شات ډېر خواږه او قېمتي دي.

## زهرجنه مرغی

دا لومړنۍ زهرجنه مرغۍ ده، چې پېژندل شوې ده. د دې مرغې نوم (هوډه پیتوهوی ) دی. د دې مرغۍ بڼکې، پوستکي او نسجونه یو ډول خطرناک نیوروتوکسین لري، چې د Batrachotoxin په نوم یادیږي. د دې مرغۍ زهر دومره ځواکمن دي، چې د انسان د فلج او مړیني لامل کیږي. یوازینی بل حیوان، چې ورته زهر لري او پیژندل شوی دی د (ډارټ فرګ) ډارټ چونګښې دي، چې د

امازون په ځنګلونو کې مونډل کيږي.

## سايبيريا



سايبيريا د روسيې د هيواد برخه ده، چې د نړۍ تر ټولو سړو (يخو) سيمو څخه شمېرل کېږي. سايبيريا د روسيې د خاورې ځلوېښت فيصده جوړوي. د تودوخې درجه تل يکې منفي وي او په ژمي کې آن تر ۵۰- درجو رسيږي.

## مالان پول

مالان پول په هرات ولايت کې دی، په ۵۰۵ ه ق کال کې چې د ۱۱۱۰ ميلادي کال سره سمون خوري جوړ شوی دی. ځينې لرغون پوهان بيا د دې پله جوړېدل د اسلام مبارک دين څخه وړاندې بولي.

په هغو وختونو کې به سوداګريز کاروانونه له هرات څخه سيستان، کندهار او هندوستان په لوري تلل، چې ټول به له همدې پله څخه تېرېدل. له دې پله څخه په اوسني وخت کې هم کار اخيستل کيږي، خو يوازې د ګذرې او انجيل ولسواليو د څو کليو خلک پرې تګ راتګ کوي. له پيله دې پله د هرات اقتصاد په پياوړتيا کې رغنده نقش لوبولی دی.

ځينې لرغونپوهان په دې اند دي، چې ګواکې د دې پله په جوړېدو کې د چرګې له هګيو کار اخيستل شوی. د لرغونپوهانو په خبره په دې ځای کې له اسلام مبارک دين وړاندې زردشتي دين و. په هغه وخت کې دوه خويندو د بي بي حور او بي بي نور په نومونو د چرګانو فارمونه لرل؛ نو له همدې فارم څخه د چرګانو هګۍ وړل شوې او هغه وخت له ختې کې يې ګډې کړې تر څو د اوبو څپو پر وړاندې ياد پول مقاومت ولري. دا پول د هريرود پر سيند جوړ شوی دی.

له دې وړاندې چې ياد پول نه و جوړ شوی د سيند بلې غاړې ته چې د دوی د بوتانو عبادت ګاه وه؛ خلک ډېر په مشکلاتو ورپورې کېدل. مورخين ليکي چې په ياد ځای کې د مالان په نوم يو کلی دی چې په دې کلي کې يو کس اوسېده او دې کس زوی نه درلود. دې سړي له خلکو سره ژمنه وکړه که الله ج زوی ورکړ د خلکو د ژوند اسانولو لپاره به پر دې رود باندې پول جوړ کړي. هغه و چې الله ج زوی ورکړ؛ نو نوموړي پخپله ژمنه عمل وکړ او دا پول يې جوړ کړ. دغه کس پر خپل زوی د فريدون نوم کېښوده.

دا تر ۱۳۴۰ ل کال پورې يوازينی پول و، چې هرات يې له کندهار سره نښلولی و. له دې وروسته د پښتو په نوم يو بل پول جوړ شو. چې د هغه پله په جوړېدو سره ياد پول باندې تګ راتګ ډېر کم شوی او اوس يوازې څو ولسواليو ته پرې تګ راتګ کيږي.

په مالان پله کې هغه پخوانی تاريخي ارزښت تر ډېره نه لېدل کيږي؛ ځکه دغه پول د کورنيو جګړو او له هغه وړاندې په ځلونو نړېدلی، خو بيا بيا ځلې رغېدلی دی.





# نورستانیان څوک دي؟

ليکوال: صاحب الدين صميم

نورستانیان لکه له نوم څخه یې چې معلومیږي، د افغانستان په نورستان ولایت کې اوسیږي خو ځینې یې په لغمان او هغې غاړې چترال کې هم مېشت دي.

چترال مېشتي یې چې د کلاشو په نوم هم یادیږي تر دې دمه یې اسلام نه دی راوړی، خو نورستان مېشتو او لغمان مېشتو د شلمې پېړۍ په لومړیو کې اسلام راوړ.

د نورستانیانو نفوس په اټکليز ډول له ۱۵۰۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰۰ پورې ښودل شوی دی.

چترال تر ۱۸۹۵ کال پورې یو ځایي قبايلي حکومت و، کله چې د برتانوي هند تر ساتنې لاندې راغی بیا د بریتانوي هند حکومت او د افغانستان د پاچاهۍ تر منځ د ډیورنډ فرضي کرښې په منځ کې نورستانیان د افغانستان برخه شول.

نورستان چې د کافرستان په نوم یادېده؛ د وخت پاچا امیر عبدالرحمن خان د خپلې واکمنۍ پر وخت پر دغه سیمه پراخه حمله وکړه چې په پایله کې یې کافرستان ونیوه او پر خلکو یې اسلام قبول کړ.

ژبه يې:

نورستانیان چې په مختلفو ډیالوګونو خبرې کوي، ژبپوهانو نورستاني ژبه د اندو اروپايي کورنیو سره تړلې بولي.

ژبپوهانو په تېرو وختونو کې دا ژبه د داردي ژبې یوه برخه بللې وه، چې د هندي ژبې د کورنۍ یوه څانګه ښودل شوې ده.

## دین یې

نورستانیان چې له شلمې پېړۍ وړاندې مسلمانان نه وو، مختلف مذهبونو په کې وو؛ لکه شرک، فطرت پرستي، د اور عبادت او داسې نور... نورستان د کفر پر وخت د نورو قومونو له لوري د کافرستان په نوم پېژندل کېده، خو په ۱۸۹۵ م کال کې د امیر عبدالرحمن خان له لوري د دغې سیمې له نیول کېدو او د دې سیمې د خلکو مسلمانېدو سره کافرستان په نورستان بدل شو.

په دوی کې ځینې پخواني دودونه اوس هم ژوندي پاتې دي. نورستانیانو د لومړي ځل لپاره پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو د یرغل پر ضد د جهاد وسله پورته کړې ده.

نژاد یې:

نورستانیان چې سپک، نري او ژیړ رنګه ویښتان لري، سوروالي ته مایل پوستکی او نیلي سترګې لري، د اریایانو له قبیلې څخه ښودل شوي دي.

د وخت پاچا غازي امان الله خان پر وخت ځینې څېړونکي د نورستانیانو د پېژندلو لپاره دغه ولایت ته لاړل. هغوی ته د زیاتو څېړنو وروسته څرګنده شوه چې دا د اریایي قبیلې برخه ده.

## تاریخ یې:

دا خلک لکه څرنګه چې وړاندې مې یادونه وکړه له شلمې پېړۍ مخکې مسلمانان نه وو، په مختلفو نومونو پېژندل کېدل؛ لکه: سره کافر، سپین کافر او نورو نومونو باندې یادېدل.

بابر له نورستانیانو سره په جګړه کې وتښتېده، تیمور هم له دوی ماته خوړلې، چنګېز او د شوروي اتحاد پوځیان هم د نورستان نیولو کې ناکام شوي دي، خو بل لور ته د دې ولایت نږدې سیمو کې د شوروي اتحاد د سرو پوځیانو د یرغل پرمهال د شورویانو د ماتې او د مجاهدینو د بریا لامل همدا نورستانیان ښودل شوي دي.

# لنډه کیسه

**ژباړن: نذیر منیب**

کله به مې چې پلار کوټې ته ننوت او و به يې ليدل، چې زه بهر يم خو د کوټې پکی او برق لګېدلی...

ويل به ولې يې نه بندوې او برېښنا بې ځايه مصرفوې؟

کـه بـه تشـناب تـه ورننـوت او و بـه يـې ليـدل چـې لـه ټوټـۍ اوبـه څڅېـږي، پـه جيـګ اواز بـه يـې وويـل: ولـې دې لـه تـګ مخکـې بمبـه سـمه نـه ده تړلـې او اوبـه ضايـع کـوې؟

هميشه به يې نيوکې کولې، لوی او واړه ترې خوندي نه وو

او يوه نه يوه خبره به يې ور ته کوله.

ان کله چې ناروغ شو، هم له دغه عادته يې لاس نه اخيسته.

بس دې ته منتظر وم، چې چېرته کار پيدا کړم...

هغه ورځ را ورسېده.

تمه ده چې نن په يوه لوی شرکت کې د دندې اخيستو لپاره انټرويو ورکړم...

که جذب شوم دا ستړې، زړه تنګی کور او دارالمجانين پرېږدم او ځم، څو له پلار او خبرو يې داوړو د تل لپاره بې غمه شم.

سهار د وخته پاڅېدم، و مې لامبل،

ښکلې جامې مې واغوستې او بهر ته د وتو په تکل شوم!

له بوټانو مې ګرد څنډ واهه چې پلار مې مسکی مسکی کېده او زما لور ته راغی،

کـه څـه هـم سترګې يـې کمـزورې وې؟ د څېـرې ګونځـو او د پوسـتکي سـپېره والي يـې هـم د هغـه د عمـري خـزان ګواهـي ورکولـه، څـه انـدازه پيسـې راکـړې او و يـې ويـل:

مثبت فکره او پر ځان باوري اوسه او چې هيڅ پوښتنه دې پښې و نه لړزوي!!

نصحت مې يې په نه زړه ومانه او دننه په سينه کې مې

ښـې د وينـو غُرغوشـتکې وې، چـې نـور خـو څـه د ژونـد پـه ښـو ورځـو کـې يـې هـم لـه نصيحتونـو محفـوظ نـه يـم... لکـه چـې دا خـوږې شـېبې هـم رابانـدې غـواړي زهـر کـړي.

مخه ښه مې ورسره وکړه، په بیړه له کوره و وتم او د شرکت په لور و خوځېدم..

لحظه روسته شرکت ته و رسېدم.. متعجب شوم! چې و مې کتل هیڅ دراوزه بان، ساتونکی او تشریفات

نه لري..

یوازې د لارښوونې ځو پاڼې ځړېدلې وې!!

د ننوتو په حال کې وم، چې و مې لیدل د دروازې دستګیر له خپل ځایه راوتلی دی..

د پلار وروستی نصیحت مې رایاد شو چې «هر څه کې مثبت بین اوسه».

دستګیر مې په خپل ځای کلک کړ چې و نه غورځي.

د رهنمایې ځړېدلې پاڼې مې کتلې او روان وم،

له باغچې تېرېدم چې پیاده رونه د حوض پر سر د اوښتو اوبو له وجهې ډک وو.

ما ویل ګونډې کور دی او زمونږ باغچه د اوبو لاندې شوې ده. د پلا سخت ګیري مې رایاد شوه چې اوبه ضایع نه کړم...

د اوبو نلکه مې له ډک حوضه تش حوض ته کړه او د اوبو جریان مې کم کړ چې ژر ډک نشي.

بلاخره د شرکت اصلي ودانۍ ته و رسېدم...

په پاټکو ختم، چې په رڼا ورځ بل شویو برقونو ته مې پام شو.. له وېرې مې په غوږونو کې د پلار غوسه ناکو چیغو انګازې

وکړې..

ژر مې ټول برقونه خاموش کړل.

چې د شرکت مرکزي ځای ته و رسېدم، له ما مخکې ګڼ کسان نور هم دغې دندې لپاره راغلي وو او نوم لیکنه یې کړې وه،

د سترګو له کونجه مې په تالار کې حاظر بنیادمان و څارل، د هغوی د څېرې، لباس او ستایل په لیدو مې د خجالتۍ احساس و

کړ...

په تېره هغوی چې له امریکایي پوهنتونونو یې خپل معرفت کاوه.

چې د انټرویو اتاق ته به هر یو ورغی، دقیقه نیمه وروسته به را ووت. ځان سره به مې وویل، چې اسناد ګوره، ټیپ و ټاپ ګوره،

چې دوی نه منل کېږي نو زه...؟

فکر نه کوم.

په سوچ کې شوم چې ښه په عزت له دې سیالۍ ځان و باسم...

درخواست مې لا نه و کړی چې د پلار خبره مې په زړه شوه: «په ځان باور و لره».

ایسته کېناستم او په تمه شوم چې نوبت مې و رسي...

داسې احساس مې کاوه چې د پلار خبرې مې یوه خاصه انرژي راکوي او دا را ته غیر عادي وه.

همدې فکر کې ډوب وم، چې یو دمي مې نوم یاد شو، څو دننه ورشم.

ورغلم، په څوکۍ کېناستم.. مخامخ ناستو درې تنو له ډلې یوه وویل:

غواړې کار شروع کړې؟

وارخطا شوم او اضطراب واخیستم.. داسې مې ګڼله چې مسخرې رابانـدې کیـږي یـا د دې پوښـتنې شـاته بـه نـورې څومره پوښتنې پټې وي؟؟؟

د کور نه په راوتو کې د پلار هغه خبره بیا رایاد شوه چې «مه لړزېږه او په ځان باوري اوسه».

په پوره ډاډ مې ور ته وویل، ان شاءالله

چې انټرویو په بریالیتوب ورکړم، خپل کار ته به راځم.

دوهم نفر وویل: ته د استخدام په پروسه کې منل شوی یې.

په حیرانۍ مې وویل، تاسو خو زما نه پوښتنه هم نه ده کړې.

دریم کس وویل: په پوښتنو کې د کاندیدانو مهارت نه څرګندېږي نو زموږ ازموینه عملي وه.

چې د مثبت اندېښـۍ په پایله کې د اوږد مهال لپاره د شرکت له ګټو ساتنه و کړي او ته یوازینی کس وې چې بې باکي دې و نه کړه،

له دروازې تر دې ځایه دې ټول نقصانات سم کړل او نصب شویو پټو کمرو ستا دغه کړنې ثبت کړې وې.

زما نو دا شېبه هر څه، کار، انټرویو، دنده... له ذهنه حذف شو او د پلار له وجود پرته مې هیڅ نه لیدل.

په منډه منډه کور ته راغلم،

له پلار مې لاسونه چاپېر کړل، ښه مې و ژړل او بیا مې بخښنه ترې و غوښته.

پلار که غوسه هم وي، درون یې له مینې مهربانۍ او دوستۍ څخه ډک وي.

ژر یا په ځنډ ته به هم پلار/مور شې او نصیحتونه به کوې.. د پلار له نصیحتونو مه زړه توری کېږه، د دې نصیحتونو ها خوا

داسې مینه پرته وي، چې یوه ورځ به یې حتماً حکمت بیامومې.

څه له افسوسه ډکه ورځ وي چې هغوی نور نه وي...




# د کابل ښار پرمختیا او عصري کیدل

**لیکوال : انجینر محمدآصف حکیم**

پلازمېنه کابل د نړۍ له مشهورو او مهمو ښارونو څخه یو مهم ښار دی، چې دا مهال شاوخوا ۸ مېلیونه وګړي په کې ژوند کوی خو د نفوسو د تراکم، پاکۍ، نظافت او ترافیکي اصولو د نه رعایت په برخه کې د نړۍ په کچه تر ټولو وروسته پاتې ښار دی، خو د یوه قوي عزم او مدیریت لاندې موږ کولای شو دغه ښار د نړي په سطحه یو پرمختللی ښار جوړ کړو.

دا کار هله ممکن ده چې دولت دې کار ته قوي او غوڅه اراده ولري او د خپلو پریکړو د عملی کولولپاره داسې یو سیستم وضع کړي چې د ښاري ژوند څخه سرغړوونکي هر وګړي پرته له سزا څخه پاتې شي. تر څنګ یې دلته داسي یو فرهنګ ترویج کړو چې د ښار هر وګړی د اوسیدنې ښار خپل کور وګڼي او د دې مکلفیت احساس کړي چې د چاپېریال ساتنه وکړی او ددې زمینه برابره کړې چې هر وګړي د بل وګړي په ناوړه چلند باندې نظارت ولري او هر یو بل ته نمونه وي.

همدارنګه په ښوونځیو کې ښوونکي باید زده کوونکو ته دا ور زده کړي او حتی په درسي نصاب کې یو مضوموون شامل شي چې څنګه ښاري ژوند وشي، چاپېریال څنګه وساتل شي او د وګړو دنده د ښارونو په ساتنه کې څه ډول ده.

د پورتنې ارمان د تحقق لپاره باید تر هر څه دمخه د کابل ښار ستراتیژیک پلان پراخه کړل شی، چې دا کار به د ښار پراختیا، اقتصاد، چاپیریال ساتنه، ترانسپورتي سیستم پراختیا او ټولنیزو خدمتونو په برخه کې مثبت بدلونونه راولي. او د کابل ښار د اوسېدونکو د ژوند کیفیت لوړولو کې مرسته کولی شي او ښار به په یوه پرمختللي او عصري مرکز بدل کړي.

## زیربنایی پراختیا:

د کابل ښار زیربنایي پراختیا ته د لا زیاتې ودې ورکولو لپاره باید تر هر څه دمخه د کابل ښار لپاره یو جامع او اوږدمهاله پلان جوړ شي ،چې پکې د زیربناوو، استوګنځایونو، ټرانسپورټ، روغتیا، او تعلیم اړتیاوې په نظر کې ونیول شي. دا پلان باید ښاري ودې، نفوس زیاتوالی، او اقتصادي ودې ته په کتو سره جوړ شي.

د پلان په تطبیق او د زیربنایي پروژو په پرمختګ کې د خصوصي سکتور رول ډېر مهم دی، دوی باید وهڅول شي چې په زیربنایي پروژو کې پانګونه وکړي. دا چې د نوې ټکنالوژۍ او نوښتونو په ګمارلو سره د زیربنایي پروژو موثریت او پایښت زیاتېدای شي؛ نو په دې برخه کې له نړیوالو سازمانونو او نورو هیوادونو څخه مالي او تخنیکي مرستې تر لاسه کول اړین دي.

د زیربنایي پروژو په تطبیق کې شفافیت او حساب ورکونه باید تأمین شي، تر څو فساد او بې کفایتي له منځه لاړه شي او پروژې

په برياليتوب سره بشپړې شي.
په دې تدابيرو سره، کابل ښار کولی شي په يو منظم، پياوړی او پايښت لرونکی زيربنايي سيستم بدل شي.
اقتصادي پراختيا:
کابل ښار اقتصادي پراختيا ته د ودې ورکولو لپاره تر هر څه دمخه بايد خصوصي سکتور ته مالي امتيازات او د سو داګرۍ اسانتياوې برابرې شي، چې د خصوصي شرکتونو لپاره مالياتي امتيازات او اسانتياوې برابرول به پانګوالو ته هڅونه وکړي چې په کابل ښار کې پانګونه وکړي.
په دې سره به د بهرنيو هيوادونو سره د سوداګريزو اړيکو پراختيا بيامومي او د کابل ښار توليداتو او خدماتو بازار ته به لاسرسی زيات کړي او زموږ د ځايي توليداتو ملاتړ به د اقتصادي پراختيا سبب شي.
تر څنګ يې د ښه ترانسپورټ سيستم به سوداګريز فعاليتونه اسانه او چټک کړي او له دې سره به اقتصادي فعاليتونه زيات شي.
په اقتصادي فعاليتونو کې د فساد مخنيوی او شفافيت رامنځ ته کول يو مهم عنصر دی، چې له مخې به يې پانګوالو ته د باور فضا رامنځته کړي او اقتصادي وده به چټکه کړي. د حکومت او خصوصي سکتور په فعاليتونو کې شفافيت به اقتصادي فعاليتونو ته وده ورکړي.
په دې تدابيرو سره، کابل ښار کولی شي خپل اقتصادي پوتانشيلونه په موثره توګه وکاروي او په سيمه کې د يو مهم اقتصادي مرکز په توګه وده وکړي.

## ټولنيز خدمتونه:

په کابل ښار کې د ټولنيزو خدماتو وړاندې کول يو مهم اړخ دی چې د خلکو ژوند ښه کولو، د ټولنيزې همغږۍ پياوړتيا، او د ټولنې اړتياوو ته د ځواب ورکولو لپاره ترسره کېږي.
تر هر څه دمخه د ښوونځيو او پوهنتونونو جوړول او معياري کول، د تعليم کيفيت لوړولو او ټولو خلکو ته د زده کړو د فرصتونو برابرولو لپاره زمينه سازي ضروري ده، تر څنګ يې بايد د روغتونونو، کلينيکونو، او روغتيايي مرکزونو جوړول او معياري کولو ته لومړيتوب ورکړل شي، ځکه د خلکو روغتيايي اړتياوو ته ځواب ورکول حياتي ارزښت لري.
همدارنګه د مسلکي او تخنيکي زده کړو مراکز بايد پراخ شي تر څو ځوانانو ته د مهارتونو لوړولو او کار موندنې فرصتونه برابر شي. په دې توګه د ټولنيزو خدماتو پراختيا او د هغوی ښه مديريت به په کابل ښار کې د خلکو د ژوند کيفيت لوړ کړي او ټولنيزه همغږي به پياوړې کړي.

## د کابل ښار د کاناليزاسيون پلان پراخول:

پخوانيو نظامونو د کابل ښار لپاره داسې هر اړخيز پلان نه درلود، چې د هغه له مخې د کابل د کاناليزاسيون مرکزي سيستم جوړ شوی وای او د ښار په هره برخه کې دولتي او شخصي ودانۍ د فضله موادو د ويستلو لپاره ورسره تړل شوې وای، نو د کابل ښار د کاناليزاسيون پر مسأله له سره غور په کار دی.
د کابل ښار کاناليزاسيون پلان پراختيا د ښار د پاکوالي، خلکو د روغتيا، او چاپيريال ساتنې لپاره خورا مهم دی. د کاناليزاسيون سيستم ښه کولو لپاره تر هر څه دمخه يو جامع ماستر پلان جوړول اړين دي، چې د ښار ټولې سيمې پکې شاملې وي. دا پلان بايد د موجوده او راتلونکي نفوس، د ښار ودې، او صنعتي فعاليتونو ته په کتو سره ترتيب شي، تر څنګ يې د بيړنيو حالتونو لپاره د کاناليزاسيون سيستم يوه برخه هم بايد پلان شي تر څو د سيلابونو او اوبو راټولېدو په وخت کې د اوبو چټکه تخليه ممکنه شي. د کاناليزاسيون پلانونه بايد له خلکو سره په مشوره جوړ شي تر څو د هرې سيمې ځانګړي اړتياوې په نظر کې ونيول شي.
د کاناليزاسيون پروژو تطبيق لپاره ځانګړې بوديجه تخصيص کول اړين دي، چې په تدريجي توګه د ښار ټولې سيمې تر پوښښ لاندې راولي. او له نړيوالو سازمانونو او مرستندويه هېوادونو څخه مالي او تخنيکي مرسته تر لاسه کول چې د کاناليزاسيون پروژو

تمویل وکړي. او له خصوصي سکتور سره همکاري تر سره شي، تر څو په کانالیزاسیون پروژو کې پانګونه وکړي.
تر څنګ یې د خلکو عامه پوهاوی لوړول اړین دی، چې څنګه له کانالیزاسیون سره سم چلند وکړي، د کثافاتو او نورو فاضله موادو په کانالونو کې د غورځولو مخنیوی وکړو.

## چاپېریال ساتنه:

د ښنو سیمو جوړول، د ککړتیا کمول، د هوا او اوبو د پاکۍ لپاره ګامونه پورته کول.تر څنګ یې دولت باید د جرمانې داسې جبري سیستم وضع کړي چې د هغه له مخې په ښار کې کار کوونکي اصناف او د سوداګرۍ مالکان ځانونه مکلف وګڼي څو ښار پاک وساتي او د خپل کارو بار او اوسیدنې ماحول داسې وساتي لکه خپل کور چې ساتي.
د کابل ښار د زرغونتیا لپاره باید د ښاریانو د ونډې د راجلبولو لپاره هڅوونکي پلانونه جوړ شي چې د سر غړونو او دچاپېریال د ویجاړولو په صورت کې ورسره نقدي اونورې جزاګانې هم په کار دي.
په نوره نړۍ کې د تپې پر سر د کور درلودل ستر امتیاز دی او بیه یې څو برابره زیاته ده، خو دلته هر څه بل ډول دی. څوک چې بې کوره دی؛ نو د تپې پر سر بې نقشې کور جوړوي چې بیا ښاري ستونزې او امنیتي تهدیدات راولاړوي.
د کابل ښار شاوخوا ټولې تپې باید تخلیه، اوسیدونکي یې بل ځای ته انتقال او هلته سرسبزه ونې او ګلان وکرل شي.

## منظم کثافت ټولونه:

د کثافاتو منظمه ټولونه د ښار پاکوالي لپاره بنسټیز ګام دی. ښاریانو ته باید ځانګړي ځایونه ورکړل شي چې خپل کثافتونه پکې واچوي، او ښاروالۍ باید په منظم ډول دغه ځایونه پاک کړي.
د کابل په ښار کې د انساني فضله موادو په کراچیو او سر خلاصو ټرانسپورتي وسایلو کې پر لېږد دې قانوني بندیز راشي، د پاکۍ په اهمیت عامه پوهاوی او د ښاریانو په ذهنونو کې د پاکۍ د ساتلو عادت رامنځته کول مهم دي. چې دا د ښوونځیو، جوماتونو، او ټولنیزو رسنیو له لارې ترسره کېدای شي.

## د عامه ترانسپورټ سیستم پراختیا:

د منظم او پراخ عامه ترانسپورټ سیستم رامنځ ته کول، د پلونو او انډرپاسونو جوړول، په هغو سړکونو او څلور لارو کې چې ترافیکي ازدحام زیات وي، کولی شي د ترافیک جریان چټک کړي، په ترافیکي سړکونو کې د لینونو زیاتول او د سړکونو پراخول، تر څو د موټرو لپاره د حرکت ځای زیات شي.
ترافیکي اشارې او نښانونه باید په سمه توګه نصب او مدیریت شي. د ټرافیکي قوانینو ماتولو لپاره سخته جریمه وټاکل شي، چې له دې لارې خلک د قوانینو ماتولو څخه ویرېږي.د ښار په بیلابیلو برخو کې منظم پارکینګ ځایونه جوړ شي، تر څو موټرې په سړکونو کې بې ځایه ونه درول شي.
د بایسکل لپاره ځانګړې لارې جوړې شي، چې خلک د شخصي موټرو پر ځای بایسکلونه وکاروي. تر څنګ یې د پلي تګ لپاره ځانګړي لارې جوړې شي، څو خلک د لنډو سفرونو لپاره د موټر پر ځای پلي تګ ته ترجیح ورکړي.
په مهمو څلور لارو کې د CCTV کیمرو نصبول تر څو ترافیک کنټرول او نظارت شي.
که دا ګامونه په سم ډول او په ګډه توګه پلي شي، نو د کابل ښار د ترافیکي ازدحام د حل کولو لپاره اغېزناک ثابتېدای شي او د ښار اوسیدونکو لپاره به د ژوند کیفیت لوړ کړي.
د سرلوړي او مترقي افغانستان په هیله!




# د زمري ۲۴ مه له امریکایي اشغال څخه د ازادۍ د دریيمې کلیزې په ویاړ

**لیکوال: مفتي عبدالمطلب حقاني**

ان ینصرکم الله فلا غالب لکم. وقال تعالی: وقل جاء الحق وزهق الباطل.

له هرڅه نه مخکې درنو لوستونکو او ټول افغان ملت ته په ځانګړي ډول د هغو شهداو ارواوو، د هغوی کونډو او یتیمانو ته د دې سترې فتحې د ورځې مبارکي وایم، چې په دې لاره کې یې خپل سرونه نذرانه کړل.

درنو ګډونوالو! دا فتحه او ازادي یو ډېر لوی نعمت دی، داسې لوی نعمت، چې موږ یې شکریه نشو ادا کولی، دا نه یوازې زموږ او ستاسې، بلکې د تېرو څلورو لسیزو د ټولو میلیونونو شهیدانو، میلیونونو معیوبینو او میلیونونو مهاجرینو ارمان و، چې الله تعالی پوره کړ.

دلته د زمري پر ۲۴مه یوازې امریکا ماته نه ده خوړلې، بلکې له امریکا سره ولاړې ټولې کفري نړۍ او اشربانو، چې مستقیم او نامستقیم د دوی ملګري ول، هغوی هم ماتې خوړلې.

دلته د امریکا جنګ له مونږ سره زمونږ په پوله او پټي نه و، نه په ګرمو او یخو اوبو او نه په بشري حقونو او نورو پوچو دعوو و، بلکې له موږ سره د ټولې کفري نړۍ جنګ په یوه خبره دی، مونږ د الله پر ځمکه د الله نظام غواړو او دوی د الله د نظام پرځای خپل طاغوتي نظامونه غواړي.

دا جګړه د اقتصادي ګټو جګړه نه وه، بلکې د کلتور او ثقافت جګړه وه، چې غوښتل یې اسلامي ثقافت له منځه یوسي او پرځای یې داسې ثقافت حاکم کړي، چې د هغه لاندې به ته یو فکري غلام یې، کوم شي ته چې غربیان حق وایي، ته به یې حق منې او کوم شي ته چې هغوی باطل وایي ته به یې په پټو سترګو باطل منې، په افغانستان کې به د ښځو لپاره حقوق غواړي، خو په فلسطین کې به چوپه خوله یې.

دا ویاړ موږ ته په ډېره لوړه بیه د سرونو په بیه ترلاسه شوی، اوس باید وساتل شي، او راتلونکو نسلونو ته ولېږل شي. دا جهادي ابتکار، چې له څو پېړیو وروسته افغانانو راژوندی کړ او د نړۍ محکومو ملتونو ته یې د ازادۍ یو نوی الهام ورکړ، باید ژوندی وساتل شي.



# د توري رڼا

لیکوال: استاد گل پاچا الفت

د زمانې امیل چې شپې او ورځې یې لکه د زنځیر کړۍ یو له بله تړلې دي او د شپو او ورځو میاشتو او کلونو، قراینو او پېړیو په حساب لویې او وړې حلقې لري سرې پکې عجیب و غریب واقعات او مختلفې صحنېویني، نن چې مونږ د استقلال په نامه یو داسې ورځ لرو، چې شپه یې هم له نورو ورځو نه روښانه ده او د دې ورځې په لمن کې مونږ د خپلواکۍ او آزادی شرف او وقار موندلی او هره شېبه یې زمونږ په نظر کې ډېر قدر او قیمت لري، دا ورځ مونږ ته یوه داسې شپه هم را یادوي، چې له ډېرې تیارې سترګه په سترګه نه ښکارېده او بیخي تور تم و. دا تورتم د سحر او طلسم یوه داسې تیاره وه، چې مونږ یې په غټو سترګو ویده کړي وو او خلکو به راباندې لوبې کولې په دې تیاره کې به د دې غرو رغو په هغو زمریانو د استعمار لاس را ښکل کېده، چې پخوا به یې خلک له تش صورته وېرېدل او چا به ورته په زغرده نشو کتلی دې تیارې د پښتونخوا د اسمان لمنې په تورو وریځو لړلې وې او داسې معلومېده؛ لکه چې پښتانه پاس په اسمان کې یو ستوری نه لري، په دغه شپه د بد بختۍ یوه داسې سیلۍ را الوتې وه، چې زمونږ تولې ډېوې یې وژلې وې او په هېڅ ځای کې د امید رڼا نه ځلېده، زمونږ زوړونه؛ لکه ساړه نغري له حرارته تش او خالي و او د ملیت په کالبوت کې مو د حیات او ژوند ګرمي بیخي لړه وه، په دې وخت کې ناڅاپه زمونږ په مخکې یوه داسې رڼا و برښېده، چې زمونږ حال او استقبال یې روڼ او روښانه کړ او زمونږ توره شپه یې په سحر بدله کړه. دا رڼا زمونږ د هغې توري برق او برېښنا وه، چې هر وخت وربانديې پښتنو خپله مخه رڼا کړې ده او د خپلې بدبختۍ تورې تیارې یې پرې ورکې کړې دي. په دې رڼا کې دومره تو دوالی او حرارت و، چې زمونږ په ګوګل کې یې سړه وینه توده کړه او ډېر ژر یې زمونږ په حال او استقبال کې تغیر او تحول پېښ کړ. په دې رڼا کې مونږ د حیات هغه اوبه د توري په خوله کې پیدا کړې، چې سکندر په تورتم کې لټولې. کله چې مونږ له دغې تیارې رڼا ته را ووتو او د پښتونخوا د غرو په څوکو باندې د سعادت وړانګې او پلوشې وځرکېدې زمونږ په زړو کې د حیات مینه، د وطن محبت د ملیت احساس د علم او ترقۍ شوق او د ژوندانه

تول صفات او خواهشات پیدا شوه، د وطن ښایسته غرونو او ناوونو ډکو سیندونو او ګڼو ځنګلو زمونږ په زړه کې وطني عشق پیدا کړ مونږ په همدغه رڼا کې خپل ځان پېژانده او په ځان مو ویسا پیدا شوه چې ملي غرور او افتخار هم ورسره تړلي دي. مونږ په دې وپوهیدو چې د دنیا طوفانونه هیڅکله مونږ د نړۍ له مخې نشي ورکولی او نه دغه راز لرې او توري ورېځې زمونږ د سعادت د رڼا مخه نیولی شي.

هو؛ مونږ حق لرو چې پخپل قوي او متین موجودیت ونازېږو او

ووایو، چې مونږ هغه خس او خاشاک نه یو، چې د حوادثو سیلۍ مو تیت په پرک کړي، ځکه چې مونږ پخپله پښتو او پښتونواله د هر را از مشکلا تو مقابله کولی شو او د پښتنو په اصطلاح اسمان ته تېره غوررزو او سر ورته نیسو.

مونږ هغه ښاغلي پښتانه یو چې ځان راته ډېر لوی او ستر ښکاري او د خپلې سیمې درنښت، خپل ملي افتخار، د پښتونولۍ ننګ او ناموس د تېرو پښتنو ښه نوم په داسې ډول ساتو؛ لکه چې یو ډېر پاک او له مینې ډک مین د خپل مقدس عشق احترام او حرمت ساتي. مونږ خپل ځان او خپله خپلواکي خپل پښتني موجودیت ارومرو ساتو او له سرو ماله وربانـدې تېرېږو، مګر باید په دې پوه شو چې مونږ دا په څه شان ساتلی شو؟ د دې پوښتنې په ځواب کې څه شی، چې زما په نظر کې ډېر مهم معلومېږي هغه زمونږ ملي تربیه، پښتني خویونه او پښتنواله ده، ترڅو چې مونږ پښتانه یو او پښتونولي لرو زمونږ د خپلواکی او لوړتیا جنډه به ارومرو پورته وي او په ازاده هوا کې به د ازدۍ په وږمه رپېږي. هو؛ دا رښتیا او کټ مټ حقیقت دی، ترڅو چې د یوه قام په نفسي کیفیت او حال کې تغیر پېښ نشي د هغوی په حال کې خدای هم تغیر نه پېښوي، ترڅو څوک پخپله ځان څاه ته و نه غورزوي لوی ځښتن یې د ذلت او انحطاط په کنډو کپرو کې نه اچوي، زمونږ ملي او پښتني روح په دومره لوړه او هسکه فضا کې ګرځي، چې که مونږ یې پخپله را ښکته نکړو د هېچا د لېنـدې غشي نه وررسېږي او نه د چا له تیر لاندې راځي. وروسته تر دې چې زه د ځان په ساتلو کې پښتني اخلاقو ته په اوله درجه اهمیت قایلېږم، نو بیا علم او د نن ورځې مختلف فنون ثروت او بډایي او ځینې نور شیان هم ضروري ګڼم. که مونږ علم او بصیرت نلرو خلک مو په سحر او چل تر خپلې اغیزې لانـدې راولي او لوبې را بانـدې کوي، که مونږ شته او ثروت نلرو زمانه مو وږي کوي او د نورو دام و دانې ته مو را ټیټوي، که مونږ فن او تخنیک نلرو پخپل لاس ځان اور ته غورزوو او له ځان سره دښمني کوو، نن خلک د حربي فنونو په قوت د اسمان له ورېځو او لوړو کار اخلي او پخپلو دښمنانو بانـدې تندر او ږلۍ وروي، نن خلک د صنعت او حکمت په مرسته هغه هوا ، چې د حیات مهم عنصر دی د مرګ اله ګرځوي او د دښمن په حق کې ورځنې د زهرو کار اخلي. که څوک غواړي چې په دې عصر کې خپل ځان او خپله خپلواکي وساتي هغه باید دومره کامل انسان وي، چې خپل هر څه یې پخپل لاس کې وي او د خپل هر مرض علاج وکړی شي. په دې وخت کې که نور هېڅ نه وي، خلک د یوه قام لانـدې کولو لپاره بعضې داسې مکروبونه د هغوی په وجود کې انجکشن کوي چې ډېر ژر یې ملي وینه فاسدوي او روح یې وژني، نو برسېره په نورو خبرو نن د آزادۍ ساتلو لپاره

ډاکټري هم لازمه ده.

نن ځینې کسان د نورو د اسارت لپاره خپل ځانونه ښایسته کوي او پخپل ښکلیتوب ورځنې زړه وړي، نو سړی باید هېڅکله لکه بلبل د چا په ښایسته ګلانو زړه بای نلي او په پردي باغ کې اسیر نشي، بلکې خپل ځان خپل ملیت، خپل دو دونه، خپله ناسته ولاړه له هر چا ځنې ښه وګڼي او خود يې ولري، ترڅو چې يو ملت خپلې ټولې نیمګړتیاوې پوره نکړي او خپل ځان د بل له احتیاجه و نه ژغوروي هغه په دنیا کې حقیقي ژوندون نشي کولی او په هر راز، چې وي د نورو تر تاثیر لاندې راځي. سړي باید دې ټکې ته ښه متوجه شي، انسان چې هر څومره مدني شوی او مدنیت ته ور نږدې شو دی هماغومره يې ډار او وېره ورکه شوې او نور ژوندي او زېروح شیان يې خپل لاس لاندې کړي دي او له خپلې اغېزې لاندې يې راوستلي، یعنې انسان د مدنیت په مرسته په وحشت باندې غالب شوی او قوت يې موندلی، لکه چې اوس هم د دنیا متمدن قومونه په وحشیانو او نیمه وحشیانو باندې حکومت او حکمراني کوي، که څوک غواړي چې د نن ورځې مدني اقوامو تر تاثیر لاندې رانشي باید ارومرو په مدني سیر کې ځان ور سره برابر کړي او تمدن ته په سپکه سترګه و نه ګوري.

په دنیا کې دا صلح يو طبعي قانون دی او لوی څښتن هم مونږ پوه کړي يو، چې دا مځکه د صالحانو میراث دی او صالحان به ور باندې تسلط لري، دلته غرض هغه صلاحیت دی چې د مځکې دمخ حکمراني پرې کېږي، چې دا صلاحیت د اسلام په ابتدا کې په عربو کې پیدا شوی او زمونږ پښتنو په ملیت او پښتنولۍ کې اغړل شوی دی.

مونږ باید دا صلاحیت هېڅکله له لاسه ونه باسو او وربانډې ټینګ اوسو - د دې صلاحیت لومړۍ نښه دا ده، چې مونږ به په حق او حقیقت ټینګ ولاړ يو او ملګرتیا به يې کوو، هېڅکله به مو زړه ته خوف او ویره لار نلري او د ضرورت په وخت کې به وینې تویول را ته هېڅ ښکاري او له مرګه به نه وېرېږو، بلکې د خپلې اسلامي او ملي لوړتیا د ساتلو لپاره مرګ ابدي ژوندون او خپل سعادت بولو او د دنیا د هر راز سختیو او مشکلاتو په مقابل کې به لکه د خپل وطن لوړ او هسک غرونه په هر میدان سر لوړي ولاړ يو، عزم او اقدام به مو ډېر ټېنګ او کلک وي. ایثار او قرباني به ډېر لوی افتخار ګڼو، اتفاق او اتحاد به هیڅ شی نشي خرابولی پخپل مینځ کې به يو له بله مینه او محبت پیروزېنه او رواداري لرو او د خپل مقدس دین او ګران وطن د دښمنانو په مقابل کې به د سختو زړو خاوندان يو. د لوی څښتن په ضعیفو مخلوقاتو باندې به زړه سوی لرو، عدل او انصاف به راته له هر شي ښه ښکاري، د بې ننګۍ ژوندون به په هېڅ شان نه قبلوو او د خپل مقدس او پاک مقصد لپاره به له سر او ماله تېرېږو، خپل ځان او اولاد به د خدای د رضا د پاره قربانوو او بې له خدایه به بل هېچا ته سر نه ټیټوو، دا ځکه چې د خدای له بندګۍ سره بله بندګي نه کېږي او نه خدای پاک په دې باندې راضي کېږي، چې د ده بنده د بل چا بندګي وکړي.

هو، مومن او مسلمان باید ارومرو ارام او ازاد وي او پښتون باید تل ازاد او مستقل وي؛ نو تل دې وي زمونږ ازادي او خپلواکي او همېشه دې وي پښتو او پښتنواله.

# سیمنار

**لیکوال: سیامک هروي**

**ژباړن: محمد احسان علي شفیق**

شیرین ګله، چې د ښځو حقوقو له سیمیناره رااوزګاره شوې وه، دروازې ته یې یوه کلکه لغته ورکړه او کور ته ننوته.
ماشومان یې چې په لوبو بانديې بوخت وو، له شپږ ورځني ځنډ وروسته یې د هغې د بېرته راګرځېدلو له امله چغې جوړې کړې، د مور پر لوري یې منډې کړې؛ خو هغې هېڅ پاملرنه ورته ونه کړه او په غوسه یې ترې وپوښتل: پلار مو چېرته دی؟

ماشومان د مور له دا ډول لهجې ووېرېدل، غوجلې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل: په غوجله کې دی او غواوو ته واښه اچوي.

شیرین ګلې وویل: ژر شئ، غږ ورته وکړئ!

شېبه وروسته بابا سلطان راورسېد او په داسې حال کې، چې د خپلې مېرمنې له اوښتې بڼې حیران شوی و، مخې ته یې ودرېد، هغه چې خبرو ته ځان جوړاوه، شیرین ګله پرې وربرګه شوه: ژر په ډېر ادب او احترام ودرېږه او د یوه «جېنټیلمېن/ښاغلي» په ډول سلام راته وکړه!

بابا سلطان ټکان وخوړ او په وېرېدلې بڼه یې له ځانه سره وویل: خدایه خیر پېښ کړې! لکه چې کیسه ورانه ده.

شیرین ګلې لا خپل غږ پسې لوړ کړ: ژر غوجلې ته لاړ شه، بېرته راشه او سلام راته وکړه!

ــ ښځې خیریت خو دی . . . اول خو به تا راته سلام اچاوه.

ـــ غلی شه، چټل فکریه استثمارګره! هغه تورې ورځې نورې پای ته ورسېدلې، چې ما ته به دې د یوې وینځې فکر کاوه؛ اوس نو زه له خپلو حقوقو څخه خبره شوم.

بابا سلطان، چې له خپلې ښځې یې نوې خبرې اورېدلې وه، پر خپل ځای وچ شوی و او نه پوهېده، چې څه پېښ شوي دي، چې مېرمنه یې ۱۸۰ درجې وربدله کړې ده. هغه په‌خپل ذهن کې د کلمو په لټه کې و، چې مېرمنې یې پرې ورچغه کړه: څه ته ګورې؟ ژر کوه ولاړ شه، بېرته راشه او سلام راته وکړه!

بابا سلطان زړه نا زړه غوجلې ته ولاړ، بېرته راغی او په عاجزانه ډول یې وویل: سلام!

شیرین ګلې د هغه سلام ته علیک ونه وایه؛ وړاندې ورغله؛ مېړه فکر وکړ، چې که ښځه یې غواړي، چې په غېږ کې یې ونیسي او ښکل یې کړي؛ خو شیرین ګلې د خپل دستکول لاستی سره تاو کړ، د مېړه په غاړه کې یې ورواچاوه او

د کوټې پر لوري یې روان کړ. د بابا سلطان ساه بنده شوه، سترګې یې سپینې واوښتې؛ د دستکول لاستی یې په دواړو لاسونو کې کلک ونیو او په ډېر زیار یې وویل: ښځې . . . قسم ده . . . چې ساه مې بندېږي.

شیرین ګلې ورته پاملرنه ونه کړه، هغه یې په کشولو کشولو کوټې ته ورساوه، سر ته یې ودرېدله، لاسونه یې پر تشو باندې کېښودل او ویې ویل: ښه دې غوږونه خلاص کړه! تر دې وروسته ښځه او سړی دواړه مساوي حقونه لري؛ د مردسالارۍ توره دوره پای ته ورسېدله؛ ته استثمارګر به نور امر نه کوې، له دې وروسته به امر اورې؛ پوه شوې؟

بابا سلطان، چې د ستوني او اورمېږه له درده ځورېده، په سختۍ یې وویل: اې ښځې، خدای ته وګوره غلې شه! په دا سپینه ږیره مې مه شرموه! ایس ایس ایس، تیس تیس تیس، مار لا پسې څه شی دی، چې زده کړی دې دی؟

ــ استثمار نه پېژنې؟ ستا بې‌سواده او بې‌عقله باید چې نه وي زده. زه دې اوس سر ورباندې خلاصووم.

بابا سلطان خپل سر په بالښته باندې پټ کړ او فکر یې وکړ، چې اوس به یې ښځه پر لوري باندې کوم شی ورتوغوي او سر به یې ورخلاصوي.

شیرین ګلې وویل: لرې که بالښت دې له مخه؛ زه غواړم له تا سره مخامخ سپینې خبرې وکړم.

بابا سلطان فکر وکړ، چې ښځه یې د سر ورخلاصولو تر څنګ تر دې د پوستکي باسلو اراده هم لري، چغه یې کړه: ښځې، د خدای ښنلې مور خاطر دې وکړه، ما مه ځوروه! ما او تا ټول عمر په خوښۍ او خوشحالۍ سره راتېر کړی دی؛ دا پینځه شپږ ورځې چې تللې وې سیمینار ته؛ نه پوهېږم، څه دربانديې وشول، چې یو ناڅاپي دې بدلون وکړ.

ــ ښا، ما بدلون وکړ؟ . . . ما خپل حقوق وپېژندل . . . زه په دې پوهه شوم، چې زه څوک یم او ته څوک یې؟

بابا سلطان په خواره خوله وویل: ښځې، د خدای خاطر دی، له ما بدمرغه نور لاس واخله، پرېمې‌ږده، چې ولاړ شم او غواوو ته څه واښه ماښه ورکړم.

ماشومان، چې د کوټې په وره کې ولاړ وو او وېرې پسې اخیستي وو، یوه بل ته یې ویل، چې مور لېونۍ شوې ده. بابا سلطان هم په همدې فکر کې و او د تېښتې د یوې لارې په لټه کې و، چې د شیرین ګلې غږ ولړزاوه: ښه په خلاصو غوږونو یې واوره! سر له سبا به ټول کارونه کوې؛ جامې به مینځې، لوښي به مینځې، دېګ به کوې، اوره به لمدوې، کور به جارو کوې، غواوو ته به واښه اچوې، رالوشې به یې، پر ماشومانو به پام کوې، مینځې به یې او پاکوې به یې؛ د کور پر کارونو سربېره به د باندې کارونه هم کوې او له ټولو مهمه دا، چې ما تا ته شپږ ماشومان زېږولي دي، ته به هم ما ته شپږ ماشومان زېږوې!

د شیرین ګلې د خبرې په اورېدلو سره د بابا سلطان په سترګو توره شپه شوه او په یوه شېبه کې یې ځان ته د یوې

حاملې ښځې په ډول فکر وکړ؛ ناڅاپه يې له وېرې يوه چغه ووهله؛ په ټول ځواک سره يې ټوپ واچاوه او د باندې وتښتېد او په داسې حال کې چې د کوڅې پر لوري يې منډې وهلې، خپلو ماشومانو ته يې ويل: هلئ، وتښتئ، تاسو هم ولاکه پرېږدي.

بابا سلطان کوڅې ته راووت؛ د باندې يې ماما قادر وليد، چې کالي په کې شکېدلي وو؛ هغه ژړل او له خولې يې وينه روانه وه؛ څرګنده وه، چې خوله او غاښونه يې مات دي. بابا سلطان يې خوا ته ورغی او ترې ويې پوښتل: خيريت خو به وي!

ماما قادر وينه توف کړه او په لړزېدلي غږ يې وويل: چې څنګه راورسېده، ببخي يې موقع رانه کړه او بريد يې رابانديې وکړ.

ــ پر ما يې هم بريد وکړ؛ خو ترې راوتښتېدلم.

ــ ښه نو اوس به څه کوو؟

ــ هېڅ! ملا ته ورځو او ښځو ته طلاق ورکوو!

ــ آفرين! پرېږده، چې پوه شي، چې پر سړيو باندې لاس پورته کول يعنې څه؟ که په يوه سيمينار باندې د تېرو څلوېښتو کالو مينه‌ناک ژوند بربادېږي؛ نو موږ له دغې عيالدارۍ نه تېر يو.

دواړه د جومات پر لوري ولاړل؛ خو هغلته حالات بدل وو. ملا د جومات په منځ کې په وينو ککړ پروت و. يو چا ورته دوايي ورکوله. هغه داسې چغې وهلې، چې له دواړو څخه ځانونه هېر شول؛ ورو ورو د هغه پر لوري ورغلل او ترې ويې پوښتل: ملا صاحب، بلا دې راوګرځه، خيريت خو به وي؛ ولې په وينو ککړ او زخمي يې؟

ــ خبره له خيريته تېره ده. روغ ځای يې نه‌دی راکې پرېښی؛ په کف‌ګير، آش‌ګز، هرکاره، چپړکو، جارو، چارۍ؛ لنډه دا چې څه شی يې لاس ته ورتلل، ويې نه سپمول، پر سر، ملا، کونه او کوناتيو باندې يې ووهلم او دغه حالت ته يې ورسولم.

بابا سلطان او ماما قادر يوه بل ته وليدل او په خاموشۍ له جوماته راووتل.

بابا سلطان، چې د خپل کور پر لوري باندې روان و، له ځانه يې ويوښتل: دا سيمينار څه شی دی، چې په شپږو ورځو کې يې زموږ د کلي له ټولو ښځو څخه بلاوې جوړې کړې.

کله چې کور ته ورسېد، ورو يې ځان د کړکۍ پر ښيښه پورې سرينښ کړ او ويې ويل: شيرين ګلې، وه شيرين ګلې! ټول سيمينار مې درسره قبول دی؛ خو په يوه شرط، چې ډبول به په کې نه وي!



# روغتيايي او طبي معلومات

**روغتيايي معلومات:**

۱- گازي مشروبات؛ لکه پيپسي، کوکاکولا، ډيو او داسې نور... هډوکي او غاښونه کمزوري کوي، د زړه او ګردو ناروغۍ پيدا کوي، وزن زياتوي، د شکر ناروغي پيدا کوي. له زيات استعمال څخه يې ډډه وکړئ.

۲- زخم بې له پټۍ خلاص پرېښودل تېروتنه ده، سمه خبر دا ده، چې زخم پاک او بيا پټۍ شي، چې ژر جوړ شي.

۳- په پوزه چې کله وينه راماته شي؛ نو سر په عادي حالت کې پرېښودل پکار دي، چې وينه په سالمه طريقه بهر شي.

۴- د ماشوم لپاره د څواکمنتيا يا طاقت دواياني ضرر لري؛ ځکه دغه دواياني د ماشوم په نبض کې سرعت پيدا کوي او دغه سرعت کله د ماشوم د ناڅاپي مرګ سبب شي.

۵- د درد د کنټرول دواياني؛ لکه پيناډول، بروفين او داسې نورې د اوږدلو قوت کمزوری کوي، په ځانګړې توګه د ښځينه وو.

٦- شين چای، په شين چای کې داسې مواد دي چې، د سرطان مخنيوی کوي.

۷- ماهي، مڼه، انګور، الوچه، توت او پالک دماغ او د يادښت غښتلی کوي.

۸- په غوږونوکې ډکی وهل ډېرکله د انسان د مرګ سبب ګرځي؛ ځکه دې سره د غوږونو پرده سوری کېږي او په دماغو کې التهابات (سوزش) پيدا کېږي.

۹- دا خبره ناسمه ده چې، د خوراک په منځ او يا له خوراک پسې وروسته اوبه څښل خېټه غټوي او هضم نه راځي؛ بلکې صحيح خبره دا ده چې، اوبه هيڅ ډول تکليف نه پيدا کوي، که د ډوډۍ څخه مخکې وي او که وروسته.

۱۰- هره ورځ دېرش۳۰ دقيقې پياده مزل د زړه د مرض او د شکر مرض مخنوی کوي او هم د وينې د فشار مخنوی کوي، او کوليسټرول ختموي.

۱۱- هوږه او پالک قوت مدافع په بدن کې زياتوي او د سرطان مخنيوی کوي.

۱۲- د ماشومانو لپاره د جاولې تېرول، زياتره وخت د کولمو د بنديدو سبب ګرځي چې، د اپرېشن څخه بغير يې بل علاج نه وي، هڅه وکړئ چې، ماشومان له ژاولو څخه لرې وساتئ.

۱۳- د خوب پرمهال چې فعال يا چالان موبايل سر ته نږدې ايښی وي؛ نو شل سلنه د مازغو د سرطان سبب جوړېږي.

۱۴- د شپې چې ادرک په اوبو کې وجوشول شي او بيا وڅښل شي؛ نو کوليسټرول ختموي او ضرري غوړ له بدن څخه وړي.

۱۵- سهار په نهاره یو ګلاس اوبه څښل د هغو ویټامینونو د کمي ځای نیسي چې، د خوب په دوران کې بدن ته نه دي رسېدلي او دغه شان د ضرري غوړو نه بدن پاکوي.

## د ګردو تیږې څنګه وغورځو؟

ډاکټران ډېرکله د ګردو تیږې په عملیاتو غورځوي، راځئ نن دکورنۍ درملنې داسې ساده او اسانه لاره درسره شریکهکړو، که پلې شي ډاکټر ته د ورتګ اړتیا نشته.

د کورنۍ چرګې هګۍ د شېې په پاکو اوبو پریمنځئ، په یوه پیاله کې یې له پټوکي سره روغه کېږدئ، پیاله د لیمو له اوبو ډکه کړئ، چې هګۍ پکې پټه شي او کله چې روغې هګۍ ته د لیمو اوبه ور واچول شي؛ نو سهار به د هګۍ پټوکې ټول ایرې شوې وي.

سهار چې له خوبه را ویښ شئ، په یوې ململ رنجه یا یوه ټوټه کې د پیالې اوبه ونینوئ او اوبه په نهارې وڅښئ او تر دوه ساعته خواړه مه پسې خورئ.

دا کار پرلپسې لس ورځې وکړئ، تاسې به یې پر پنځمه ورځ وګورئ، چې د ګردو تیږې مو لرې شي.

## طبي معلومات:

۱- مصریان لومړني خلک وو، چي د انسان د بدن او طبابت په اړه یې معلومات تر لاسه کړل.

۲- ټول ژوندي موجودات د یوه کیمیاوي مرکب څخه چي پرتوپلازم بلل کیږي جوړ شوي دي چي دا مرکب ټول حیاتي فعالیتونه اجراء کوي.

۳- د نوي پیدا شوي ماشوم زړه په یوه دقیقه کښي (۱۴۰) ځله درزېږي.

۴- د انسان په بدن کښي (۲۴) پښتۍ دي.

۵- د انسان د ویني وزن له څلور نیمو څخه تر پنځو کېلو پورې دی.

٦- یو صحت مند انسان په دقیقه کي (١٦) ځله ساه باسي.

۷- د انسان ترټولو قوي غړی زړه دی.

۸- د انسان په یوه لاس کې (۳۰) هډوکي دي.

۹- د انسان تر ټولو ستر هډوکي د ورانه هډوکي دي، چي پېمور نومیږي.

۱۰- انسان او بیزو دوه ژوي دي، چي د زکام په ناروغي اخته کیږي.

۱۳ ــ حجره بې له هستې خپل ژوند ته دوام نشي ورکولای.

۱۴ ــ یو غابښ له دریو برخو جوړ شوی:

تاج، غاړه، ریښه.

۱۵ ــ د انسان بدن په سلو کي (٦٥) اوبه لري.

١٦ ــ د انسان وینبته په کال کي (١٦) انچه وده کوي.

۱۷ ــ د انسان نوکان په کال کښي (۲/۵) انچه وده کوي.

سرچینه: بېلابېلې انټرنیټي ویبپاڼې

**د افغانستان اسلامي امارت**
**د ریاست الوزرا لوړ مقام**
**د دفتر عمومي ریاست**
**د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت**
**د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز**

# د کلني راپور فارمټ – فارمت راپور سالانه

| د اداري بشپړ نوم (پښتو او دري) | /د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت<br>/وزارت مهاجرین و عودت کنندگان |
|---|---|
| :نیټه<br>:تاریخ | ۱۴۴۶/۲/۷ |
| (د لاسته راوړنو خلاصه (لنډیز<br>خلاصه دست آورد ها | ➤ د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹۶۰۳) ولس لکه، نهه اویا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یوشمېر نورو هیوادونو څخه د خپل هیواد ته راستانه شوي دي.<br>➤ د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي.<br>➤ په تیر یوه کال کې (۵۷۶۶) افغان مهاجرین، چې په پاکستان او ترکیه هیوادونو کې بندیان وو، د مهاجرینو او بهرنیو چارو وزارتونو په ګډو هڅو له بند خونو ازاد شوي.<br>➤ همدا راز له ایران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې بندیان، چې د مختلفو جرمونو له امله نیول شوي وو، افغانستان ته را انتقال شوي دي او د نورو د خلاصون او انتقال لپاره هم هڅې رواني دي.<br>➤ (۶۰۰) تنه مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه د حج مبارکې فریضې ادا کولو په موخه سعودي عربستان ته لیږدول شوي.<br>➤ ( ۹۶۲۹۳ ) کورنۍ راستانه شوي مهاجرین د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته د اسلامي امارت په بودیجه باندې په مصونه توګه لیږدول شوي دي.<br>➤ د ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو څخه د جبري راستېدونکو مهاجرینو لپاره د کابل په هوایي ډګر کې د ښه راغلاست مرکز جوړل. |

| د اداري بشپړ نوم (پښتو او دري | /د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت<br>/وزارت مهاجرین و عودت کنندگان/ |
|---|---|
| نېټه:<br>تاریخ: | ۱۴۴۶/۲/۷ |
| د لاسته راوړنو خلاصه (لنډیز<br>خلاصه دست آورد ها | ➤ د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹۶۰۳) ولس لکه، نهه اویا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یوشمېر نورو هیوادونو څخه و خپل هیواد ته راستانه شوي دي.<br>➤ د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي.<br>➤ په تیر یوه کال کې (۵۷٦٦) افغان مهاجرین، چې په پاکستان او ترکیه هیوادونو کې بندیان وو، د مهاجرینو او بهرنیو چارو وزارتونو په ګډو هڅو له بند خونو ازاد شوي.<br>➤ همدا راز له ایران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې بندیان، چې د مختلفو جرمونو له امله نیول شوي وو، افغانستان ته را انتقال شوي دي او د نورو د خلاصون او انتقال لپاره هم هڅې رواني دي.<br>➤ (٦۰۰) تنه مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه د حج مبارکې فریضې ادا کولو په موخه سعودي عربستان ته لېږدول شوي.<br>➤ ( ۹٦۲۹۳ ) کورنۍ راستانه شوي مهاجرین د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته د اسلامي امارت په بودیجه باندې په مصونه توګه لیږدول شوي دي.<br>➤ د ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو څخه د جبري راستنېدونکو مهاجرینو لپاره د کابل په هوایي ډګر کې د ښه راغلاست مرکز جوړ.<br>➤ د چین هیواد له لوري(۴۰) میلیونه چیناني پیسو(ین) مرسته کول.<br>➤ د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې عالي کمیسیون رامنځته کول.<br>➤ راستنېدونکو ته د زده کړو زمینه برابرول.<br>➤ په تیر یوه کال کې له (۷۰۱۵۲۵) داخلي بې ځایه شوو کسانو سره بیړنۍ بشري مرستې شوي، (۱۷٦٦۷) فامیلونه خپلو سیمو ته انتقال او ستانه شوي او (۲٦۴٦۷٦) کسانو سره د روغتیا په برخه کې مرستې شوي.<br>➤ شاوخوا (۳۵۰۰۰) کسانو ته د همکارو موسساتو په همکارۍ په مختلفو برخو کې حرفوي زدکړې ورکړل شوې، او کاري فرصتونه ورته برابر شوي.<br>➤ د وروستیو سیلابونو او طبیعي پېښو له امله کابو ۳۵ رزه ۳۲۵ کورنۍ بې ځایه شوې، چې لومړني خدمات ورته مهیا شوي دي.<br>➤ د وزارت پنځه کلنه ستراتیژي نهایي شوې او د وزارت رهبرۍ ته له وړاندې کولو وروسته د ریاست الوزرا عالي مقام ته لیږلو ته چمتو شوې.<br>➤ د داخلي بې ځایه شوو د ملي پالیسۍ، د مسلکي کادرونو د راستنېدنې ملي پالیسي، او د راستنېدونکو تولیزه پالیسیو بیا کتنه شوې. |

| د لاسته راوړنو خلاصه (لنډيز)<br>خلاصه دست آورد ها | **بسم الله الرحمن الرحيم**<br>**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته**<br>د افغانستان اسلامي امارت درنو مشرانو، د رسنيو مرکز مسولينو، د رسنيو درنو استازو او ټولو درنو هېوادوالو!<br>د افغانستان د اسلامي امارت د رياست الوزرا محترم مقام د پريکړې له مخې نن يکشنبه ۲۱ م د اسد مياشتې د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت وار دی، چې د رسنيو له لارې خپل فعاليتونه او لاسته راوړنې له خپلو درنو هېوادوالو سره شريکې کړي.<br>د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د (۱۹) مرکزي رياستونو او مستقلو امريتونو سربېره د هيواد په (۳۴) ولايتونو کې (۳۴) رياستونه او مستقل امريتونه لري او همدا ډول په ايران، پاکستان، ترکيه او يونان هيوادونو کې د مهاجرينو اتشې لري، چې يو شمېر يې فعالې دي او د نورو د فعالولو هڅې هم رواني دي<br>دغه وزارت د افغانستان اسلامي امارت د يوه فعالې او مهمې اداري په توګه، چې د افغان مهاجرينو او بې ځايه شويو کورنيو يو لوی شمېر کتله په بر کې نيسي، مسووليت ورتر غاړې دی، چې دغه ټول د تېرو څلويښتو کلونو ناامنيو او د تېرو نظامونو د بې عدالتيو ميراث ورته پاتې دی.<br>د يادونې وړ ده، چې مونږ اوس مهال په نورو هېوادونو کې (۷ مليونه) مهاجرين او په هېواد کې دننه د (۳) مليونو په حدودو کې داخلي بې ځايه شوي لرو.<br>د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت د خپل منظور شوي پلان له مخې لاندې فعاليتونه اجرا کړي، چې د خپل دروند ملت د ډاډ او اطمينان په خاطر يې له تاسو سره شريکوو.<br>**په تېر کال کې ددغه وزارت فعاليتونه او لاسته راوړنې:**<br>➤ د مهاجرينو راستنېدنه او بېرته راتګ يو له هغو مهمو موضوعاتو څخه دی، چې د افغانستان اسلامي امارت په کاري لومړيتوبونو کې راځي. د مهاجرينو  چارو وزارت د يوې مسوولې اداري په توګه کوښښ کوي، چې افغان مهاجرين په خپله خوښه او ابرومندانه ډول بېرته خپل هيواد ته راستانه کړي. له نيکه مرغه د تېر کال په جريان کې (۱۷۷۹۶۰۳) ولس لکه، نهه اويا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرين له ايران، پاکستان او يوشمېر نورو هيوادونو څخه و خپل هيواد ته راستانه شوي دي.<br>➤ همدا ډول د شته ارقامو په اساس د تېر کال په جريان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځايه شويو او راستنو شويو کورنيو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غير خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوي دي. د دوی د بنه چوپړتياو په موخه په ننګرهار، نيمرزو، کندهار، هرات ولايتونو کې د هرکلي مرکزونه فعاليت کوي او په دې وروستيو کې د کابل نړيوال هوايي کې هم د بنه راغلاست مرکز جوړ او د هوا له لارې راتلونکو مهاجرينو ته چوپړتياوې وړاندې کوي.<br>**د مهاجرينو وضيعت ته د لاسرسي په برخه کې:**<br>➤ که څه هم د افغانستان اسلامي امارت له حاکميت سره سم ډېرې افغانان هېواد ته رستانه شوي، خو اوس هم تر ۷ ميليونه پورې افغانان په ګاونډيو او نورو مختلفو هېوادونو کې د مهاجرت ژوند کوي<br>➤ د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت ددغه افغانانو ستونزو ته د رسيدګۍ په موخه د کوربه هېوادونو له چارواکو سره وخت په وخت ناستې کړي، هياتونه يې ليږلي، د دوی ستونزې يې له نږدې ليدلي او اورېدلي او د حل په موخه يې له ټولو اړوندو مراجعو سره شريکې کړې دي، په همدې موخه پاکستان، ايران او ترکيې هېوادونو ته سفرونه شوي او وخت پر وخت دلته هم د کوربه هېوادونو له چارواکو او ډيپلوماتانو سره ناستې تر سره شوې او د مهاجرينو د ستونزو د حل او جبري اېستلو د مخنيوي په اړه خبرې اترې ور سره شوې دي.<br>➤ په تير يوه کال کې (۵۷٦٦) افغان مهاجرين، چې په پاکستان او ترکيه هيوادونو کې بنديان وو، د مهاجرينو او بهرنيو چارو وزارتونو په ګډو هڅو له بند څخونو ازاد شوي او هيواد ته  له راستنېدو سم د بيړنيو مرستو ترلاسه کولو وروسته  خپلو سيمو ته لېږدول شوي، همدا راز له ايران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې |

## د لاسته راوړنو خلاصه (لنډيز)
## خلاصه دست آورد ها

د افغانستان اسلامي امارت درنو مشرانو، د رسنيو مرکز مسولينو، د رسنيو درنو استازو او ټولو درنو هېوادوالو!
د افغانستان د اسلامي امارت د رياست الوزرا محترم مقام د پريکړې له مخې نن يکشنبه د زمري يا د اسد مياشتې ۲۱ مه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت وار دی، چې د رسنيو له لارې خپل فعاليتونه او لاسته راوړنې له خپلو درنو هېوادوالو سره شريکې کړي.
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د (۱۹) مرکزي رياستونو او مستقلو امريتونو سربېره د هيواد په (۳۴) ولايتونو کې (۳۴) رياستونه او مستقل امريتونه لري او همدا ډول په ايران، پاکستان، ترکيه او يونان هيوادونو کې د مهاجرينو اتشې لري، چې يو شمېر يې فعالې دي او د نورو د فعالولو هڅې هم روانې دي
دغه وزارت د افغانستان اسلامي امارت د يوه فعالې او مهمې ادارې په توگه، چې د افغان مهاجرينو او بې ځايه شويو کورنيو يو لوی شمېر کتله په بر کې نيسي، مسووليت ورتر غاړې دی، چې دغه ټول د تېرو څلويښتو کلونو ناامنيو او د تېرو نظامونو د بې عدالتيو ميراث ورته پاتې دی.
د يادونې وړ ده، چې مونږ اوس مهال په نورو هېوادونو کې (۷ مليونه) مهاجرين او په هېواد کې دننه د (۳) مليونو په حدودو کې داخلي بې ځايه شوي لرو.
د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت د خپل منظور شوي پلان له مخې لاندې فعاليتونه اجرا کړي، چې د خپل دروند ملت د ډاډ او اطمينان په خاطر يې له تاسو سره شريکوو.
په تېر کال کې ددغه وزارت فعاليتونه او لاسته راوړنې:
➤ د مهاجرينو راستنېدنه او بېرته راتگ يو له هغو مهمو موضوعاتو څخه دی، چې د افغانستان اسلامي امارت په کاري لومړيتوبونو کې راځي. د مهاجرينو چارو وزارت د يوې مسوولې ادارې په توگه کوښښ کوي، چې افغان مهاجرين په خپله خوښه او ابرومندانه ډول بېرته خپل هيواد ته راستانه کړي. له نيکه مرغه د تېر کال په جريان کې (۱۷۷۹٦۰۳) ولس لکه، نهه اويا زره، شپږسوه او درې تنه افغان مهاجرين له ايران، پاکستان او يوشمېر نورو هيوادونو څخه و خپل هيواد ته راستانه شوي دي.
➤ همدا ډول د شته ارقامو په اساس د تېر کال په جريان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځايه شويو او راستنو شويو کورنيو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غير خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي. د دوی د ښه چوپړتياو په موخه په ننگرهار، نيمرزو، کندهار، هرات ولايتونو کې د هرکلي مرکزونه فعاليت کوي او په دې وروستيو کې د کابل نړيوال هوايي کې هم د ښه راغلاست مرکز جوړ او د هوا له لارې راتلونکو مهاجرينو ته چوپړتياوې وړاندې کوي.

## د مهاجرينو وضعيت ته د لاسرسي په برخه کې:

➤ که څه هم د افغانستان اسلامي امارت له حاکميت سره سم ډېرى افغانان هېواد ته رستانه شوي، خو اوس هم تر ۷ ميليونه پورې افغانان په گاونډيو او نورو مختلفو هېوادونو کې د مهاجرت ژوند کوي
➤ د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت ددغه افغانانو ستونزو ته د رسيدگۍ په موخه د کوربه هېوادونو له چاراوکو سره وخت په وخت ناستې کړي، هياتونه يې لېږلي، د دوی ستونزې يې له نږدې ليدلي او اورېدلي او د حل په موخه يې له ټولو اړوندو مراجعو سره شريکې کړې دي، په همدې موخه پاکستان، ايران او ترکيې هېوادونو ته سفرونه شوي او وخت پر وخت دلته هم د کوربه هېوادونو له چاراوکو او ډيپلوماتانو سره ناستې تر سره شوې او د مهاجرينو د ستونزو د حل او جبري اېستلو د مخنيوي په اړه خبرې اترې ور سره شوې دي.
➤ په تير يوه کال کې (۵۷٦٦) افغان مهاجرين، چې په پاکستان او ترکيه هيوادونو کې بنديان وو، د مهاجرينو او بهرنيو چارو وزارتونو په گډو هڅو له بند خونو ازاد شوي او هيواد ته له راستنېدو سم د بيړنيو مرستو ترلاسه کولو وروسته خپلو سيمو ته لېږدول شوي، همدا راز له ايران هېواد څخه تر (۴۰۰۰) پورې

| | |
|---|---|
| بندیان، چې د مختلفو جرمونو له امله نیول شوي وو، افغانستان ته را انتقال شوي دي او د نورو د خلاصون او انتقال لپاره هم هڅې رواني دي.<br>➤ همدا راز په پاکستان او ایران کې میشت مهاجرین، چې په تیر کې د حج د مبارکې فریضې له ادا کولو محروم وو، اوس د مهاجرینو چارو وزارت په هڅو هغوی ته هرکال ځانګړې کوټه په نظر کې نیول کېږي، چې د تیر په څېر سږکال هم (٦٠٠) تنه مهاجرین له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو څخه د حج مبارکې فریضې ادا کولو په موخه سعودي عربستان ته لیږدول شوي<br>**د راستنېدونکو وضعیت ته د لاسرسي په برخه کې:**<br>➤ دا چې د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې امن ټینګ شوی، د ژوند او کار لپاره زمینه مساعده ده، نو د مهاجرینو راستنول د افغانستان اسلامي امارت لپاره یو له مهمو کاري لومړیتوبونو څخه دي، د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د خپل وظیفوي مسؤولیت په توګه هڅه کوي، افغان مهاجرینو ته زمینه برابره کړي، ترڅو په خپله خوښه او عزت سره هېواد ته راستانه شي، چې له نېکه مرغه د تېر کال په جریان کې (۱۷۷۹٦۰۳) تنه افغان مهاجرین له ایران، پاکستان او یو شمېر نورو هیوادونو څخه و خپل هیواد ته راستانه شوي دي. ددغو راستنو شویو مهاجرینو د تشخیص او تثبیت لپاره د ARIS په نوم یو جامع ډیټابس جوړ شوی، چې د ټولو راستنو شویو مهاجرینو معلومات پکې ثبت شوي؛ تر څو د اړتیا پر مهال ترې استفاده وشي.<br>➤ د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره په موقتو کمپونو کې د ژوند ټولې اسانتیاوې، لکه ګرځندویه کلینیکونه، مسجدونه، وریا سیمکارتونه، خواړه، د څښاک اوبه او د ژوند لومړني ضروریات مهیا شوي دي.<br>➤ ( ۹٦۲۹۳ ) کورنۍ راستانه شوي مهاجرین د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته د اسلامي امارت په بودیجه باندې په مصونه توګه لیږدول شوي دي، هر فامیل ته لس زره افغانۍ ورکړل شوې، چې مجموعي (۵۳۴٦۷۸۰۰۰) پنځه سوه او څلور دیرش میلیونه اوه شپیته لکه او اته زره افغانۍ کېږي،او دا لړۍ تر اوسه هم جریان لري.<br>➤ د ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو څخه د جبري راستنېدونکو مهاجرینو لپاره د کابل په هوایي ډګر کې د ښه راغلاست مرکز جوړ او فعالیت یې پیل کړی، چې تر دې دمه (۱۳۳۷۴) کسان او ۵۲ کورنۍ راستنې شوې، چې د همکارو موسساتو په ملاتړ له هر نفر سره ۱۵۰ یورو نغدي مرسته شوې ده.<br>➤ همدا ډول د شته ارقامو په اساس د تېر کال په جریان کې کابو (۷۸۸۸۲۱) بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د همکارو موسسو په همغږۍ د نغدي، خوراکي، غیر خوراکي او په نورو مختلفو برخو کې مرستې شوې دي.<br>➤ د مهاجرینو وزارت په هڅو، د چین هیواد لخوا د راستنو شویو مهاجرینو او داخلي بې ځایه شویو سره سل میلیونه ین (چینایي پیسې) مرسته اعلان شوه، چې د هغې له جملې څخه د ۴۰ میلیونه ین په ارزښت مرستې را رسېدلې دي او نورې به هم په نږدې وخت کې را ورسېږي.<br>➤ د مهاجرینو چارو وزارت په وړاندیز او د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د حکم له مخې د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې یو عالي کمیسیون رامنځته شو او ټول شته امکانات او بشري قوه یې په لاس کې ورکړه، چې دغه کمیسیون اوس هم د مهاجرینو چارو وزارت سره اوږه په اوږه، شپه او ورځ راستنېدونکو مهاجرینو ته خدمات وړاندې کوي | **د لاسته راوړنو خلاصه (لنډیز)**<br>**خلاصه دست آورد ها** |

| د لاسته راوړنو خلاصه (لنډيز) خلاصه دست آورد ها | ➤ راستنېدونکو مهاجرينو ته د لاچټکو خدماتو وړاندې کولو په موخه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست الحاج خليل الرحمن حقاني تړولو سرحدي او هغه ولايتونو ته چې مهاجرين ورته زيات راستانه شوي و، لکه: ننګرهار، لغمان، پکتيا، کندهار، زابل، نيمروز او هرات ولايتونو ته وخت په وخت سفرونه کړي، د لنډمهاله کمپونو او تړولو کمپتو چارې يې ارزولې او د کارونو د چټکتيا او خاليګاو پوره کولو په اړه يې اړوندو مسولينو ته سپارښتنې کړې دي، په يادو ولايتونو کې له علماو، تجارانو، مخورو، قومي مشرانو او د تړولو قشرونو له نماينده ګانو سره هم ناستې شوې او راستنېدونکو مهاجرينو لپاره په هره برخه کې د همکاريو غوښتنه تري شوې ده، چې د قومي مشرانو لخوا ياده غوښتنه په ډېره ښه توګه استقبال شوې او ډېرو قومونو په ډلييزه توګه د مهاجرينو لپاره د خوراکي او غير خوراکي توکو مرستې سرحدي سيمو ته رسولې، ځينو خپل کورونه ورته خالي کړل او چا د خپلو کورنو سامانونه ورسره نيم کړل<br>➤ په ورته مهال د مهاجرينو چارو سرپرست، ددې لپاره، چې د مهاجرينو د اولادونو زدکړې نيمګړې پاتې نشي، په يو شمېر ولايتونو کې د خصوصي پوهنتونو له مشرانو سره هم ناستې کړې، د همکارۍ تړونونه يې ورسره لاسليک کړي او د طب، کمپيوټر ساينس، انجنيري، اقتصاد، قضا او څارنوالي، حقوق، سياسي علوم، ټولنيز علوم، ژبو او ادبياتو او يو شمېر نورو څانګو کې د زدکړو زمينه برابره کړې<br>**راستنو شوو مهاجرينو او داخلي بې ځايه شوو ته د لاسرسي په برخه کې:**<br>➤ په تير يوه کال کې له (۷۰۱۵۲۵) داخلي بې ځايه شوو کسانو سره بيړنۍ بشري مرستې شوې، (۱۷۶۶۷) فاميلونه خپلو سيمو ته انتقال او ستانه شوي او (۲۶۴۶۷۶) کسانو سره د روغتيا په برخه کې مرستې شوي.<br>➤ شاوخوا (۳۵۰۰۰) کسانو ته د همکارو موسساتو په همکارۍ په مختلفو برخو کې حرفوي زدکړې ورکړل شوې، او کاري فرصتونه ورته برابر شوي، همدا راز زرګونه کسان د زدکړو د بشپړولو په موخه د پوهنې او لوړو زدکړو وزارتونو ته ورپيژندل شوي دي.<br>➤ د وروستيو سيلابونو او طبيعي پېښو له امله کابو ۳۵ رزه ۳۲۵ کورنۍ بې ځايه شوې، چې لومړنې خدمات ورته مهيا شوي دي.<br>➤ همدا ډول د ذيدخلو ادارو په همکارۍ د کاري فرصتونو لپاره يوه کميټه تشکيل شوې ده، چې تر دې دمه يې شا وخوا ۴۵ زره کسان د خپلو دندو، مهارتونو او نورو مشخصاتو په تفکيک سره ثبت کړي.<br>➤ د راستنېدونکو تجارانو او صنعتکارانو د کارونو د ودې لپاره ښه امکانات او فرصتونه په اختيار کې ورکړل شوي دي.<br>➤ د (۱۲۶۵) کسانو حقوقي غوښتنو ته رسيدګي شوې.<br>**په ښارګوټو او هغه ساحو کې چې د راستنېدنې کچه پکې لوړه ده، ټولنيز خدمتونه:**<br>➤ موږ په ۲۹ ولايتونو کې د مهاجرينو لپاره ۴۶ ښار ګوټې لرو، چې په تېر يوه کال کې ۱۳ ښار ګوټې د مهاجرينو د دايمي مېشتېدنې لپاره تصفيه شوي او د ژوند اساسي خدمتونه يې په نظر کې نيول شوي دي.<br>➤ د مهاجرينو په ښارګوټو کې د همکارو موسساتو په همکارۍ د لومړنيو اسانتياو په برخه کې په مختلفو ولايتونو کې ۱۱ بابه ښوونځې، شپږ بابه کلينيکونه، ۶ بابه ګرين هاوسونه( شنې خونې) د اوبو رسونې شبکې، کانالونه، د اوبو څاګانې او نورې اسانتياوې رامنځته شوې |
|---|---|

| د لاسته راوړنو خلاصه (لنډيز)<br>خلاصه دست آورد ها | **د هوکړه ليکونو له لارې د بې ځايه شويو او راستنېدونکو وضعيت ته رسيدنه:**<br>➤ د مهاجرينو وزارت د بې ځايه شويو او راستنېدونکو وضعيت ته د ښه لاس رسي په موخه او هغوی ته د مرستو د جلب لپاره د موسساتو سره لازمه هماهنگي رامنځته کړې، په تېر يوه کال کې له (۹۳) موسساتو سره هوکړه ليکونه امضا شوي دي، چې د دغو هوکړه ليکونو له مخې د سرپنا، حرفوي زده کړو، ښوونځيو، د خوراکي او غير خوراکي موادو ويش او نورو زيربناوي برخو کې څه باندې ۷ ميليونو ډالر په مصرف رسيدلي دي.<br>➤ د مهاجرينو ستونزو ته د رسيدنې په موخه له ۷ ادارو او همدا ډول د ۱۴ تعليمي نهادونو سره هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي.<br>**په ولايتونو کې د بې ځايه شويو او راستنو شوو د وضعيت پلټنه:**<br>➤ د بې ځايه شويو او راستنېدونکو همدا ډول د اړمنو هيوادوالو د وضعيت د پلټنې په موخه ددې وزارت لوړ رتبه چارواکو د مهاجرينو وزارت د وزير په شمول يو شمېر ولايتونو په ځانگړې ډول کندهار، هرات، فراه، نيمروز، ننگرهار، لغمان پکتيا او خوست ولايتونو ته مسلسل ته کاري سفرونه کړي دي، او د مهاجرينو رياستونه يې تر بررسۍ لاندې ونيول. او د ننگرهار ولايت، تورخم، د کندهارولايت، سپين بولدک، د هرات ولايت اسلام قلعه او د نيمروز ولايت د وريښمو پل سيمه کې يې د راستنېدونکو لپاره خدمات بررسي کړل او سرحدي امريتونو ته يې د لانورو لازمو چوپړتياوو هدايات ورکړل.<br>**د تقنيني اسنادو او پاليسی په برخه کې:**<br>➤ د وزارت پنځه کلنه ستراتيژي نهايي شوې او د وزارت رهبرۍ ته له وړاندې کولو وروسته د رياست الوزرا عالي مقام ته ليږلو ته چمتو شوې.<br>➤ د داخلي بې ځايه شوو د ملي پاليسۍ، د مسلکي کادرونو د راستنېدنې ملي پاليسي، او د راستنېدونکو ټوليزه پاليسيو بيا کتنه شوې.<br>**د دعوت او ارشاد په برخه کې:**<br>➤ د دعوت او امر بالمعروف له چارو روزمره څارنه،د تاکل شوي نصاب په ښه ډول تدريس، د اسلامي ارزښتونو او ملي فرهنگ ساتنه او نظارت او په دواړو ملي ژبو د ديني، عقيدوي او اخلاقي چارو ترغيب او همدا راز د سيرت زدکړې په موخه د سيرت سيالۍ جوړې شوې دي. |
|---|---|

| | |
|---|---|
| راتلونکي پلانونه<br>پلان های آینده | **راتلونکي پلانونه:**<br>➤ د راستنېدونکو او بې ځایه شویو او مهاجرینو څخه ملاتړ او د هغوی ژوند او پرمختګونو ته ارتقا ورکول.<br>➤ د خپلې خوښې راستنېدنې پروسه تقویه کول او د پایدارې بیا میشته کېدنې لپاره زمینه سازي.<br>➤ د منظمو مهاجرتونو رامنځته کول.<br>➤ د هیواد په اقتصاد کې د مهاجرینو د نقش پیاوړتیا.<br>➤ د ادارې او مدیریت د پیاوړتیا په موخه د ظرفیتونو رامنځته کول او کاري فرصتونه برابرول.<br>➤ ښه حکومت ولي، ځواب وینه او شفافیت رامنځته کول.<br>➤ په سیمه او نړۍ کې د افغان مهاجرینو د چوپړتیا په موخه د اتشو فعالول.<br>➤ د په بهر کې مسلکي کادرونه؛ هیواد ته د راستنېدو لپاره هڅول.<br>➤ د مهاجرینو په ښارګوټو کې اساسي خدمات او د هغوی لومړنۍ ستونزې په بنیادي ډول حلول.<br>➤ د راستنېدونکو، مهاجرینو او داخلي بې ځایه شویو حقوقي ملاتړ او د کارکوونکو ظرفیت لوړونه. |

## حکومتي مشرانو ته طلایي سپارښتني!

**ژباړه: محمدنعیم پرهېز**

کله چې امیر عثمان بن ارطغرل د مرګ پر بستر پروت و، خپل زوی امیر اورخان ته یې لاندې سپارښتنې وکړې:

زویه! کله چې په حکومتولۍ کې له ستونزو سره مخ شوې، دستي د دین له عالمانو مشوره واخله.

زویه! شیطان دې په لښکرو او شتمنۍ تېرباسي، پام چې له اهل شریعت ځان لرې نه کړې.

زویه! تاته مې سپارښتنه ده، چې د دین د عالمانو حقوق ادا کړه، قدر یې وکړه، مشورو ته یې تل پام وکړه، ځکه هغوی له خیر او نیکۍ پرته بل څه ته رایه نه ورکوي.

زویه! هغه کار چې د الله جل جلاله رضا پکې نه وي، پرهېز ترې وکړه، کله چې له ستونزو سره مخ شوې، د شریعت له علماوو مشوره واخله، ترڅو د خیر او نېکۍ لار درته وښیي.

زویه! په دې دنیا کې زموږ یوازینۍ لار د الله جل جلاله لار ده، زموږ اصلي موخه د الله تعالی د دین خپرول دي، موږ د مال، مقام او منصب غوښتونکي نه یو.

زویه! هیڅوک له مرګ څخه نشي خلاصېدای، د الله تعالی په امر سره زما د مرګ وخت هم رارسېدلی دی، دا حکومت تاته او تا خدای جل جلاله ته سپارم، په ټولو چارو کې عدالت وکړه.

تاریخ الدولة العثمانیة للدکتور الصلابي: ۴۹ مخ



# د پیر محمد کاکړ په څو بیتونو کې د عشق او عقل جګړه

**لیکوال: پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي**

عقل راته ووی راشه ترک دې د خپل یار کړه
عشق و ماته ووی هی هی ترک هسې ګفتار کړه
عقل وی نور بس کړه ګفتګوی د عاشقۍ کې
عشق وی ای مومنه له دې کفر استغفار کړه
عقل وی چې راز د مینې پټ ساته له خلکه
عشق وی ځان مجنون غوندې رسوا د کل دیار کړه
عقل وی هر ځای چې د تهمت وي ځینې تښته
عشق وی تهمتونه د عالم په سر انبار کړه
زه تر منځ حیران یم چې په کوم ویل باور کړم
کشف و ما خوار ته الهي هسې اسرار کړه
عقل هسې ووی عشق هم هسې رنګ دلبره!
راشه پیر محمده په وینا د عشق اقرار کړه
(کاکړ، ۱۳۸۵ل، ص ۱۵۳)

د پښتو ژبې د ډېرو شاعرانو په شان د پیر محمد کاکړ په شعرونو کې د عشق او عقل مقام څرګند دی. په تصوف او عرفان کې د عشق او عقل یادونه ډېره کېږي. دوی عشق ته لوړ ځای ورکوي، خو کله کله عقل دومره لوړو پوړیو ته رسوي چې له عشق سره یې برابروي او ان له عشق څخه یې هم لوړ ګڼي او کله کله عقل د عشق په ځای کاروي او ځینې داسې شاعران هم شته چې د عشق او عقل تر منځ یې په فکر کې تضاد موجود وي او د عشق او عقل تر منځ یې ویناوو کې جګړه لیدل کېږي.

د عشق او عقل تر منځ متقابله خوا ډېره پخوانۍ سابقه لري. د نړۍ له پرمختګ سره عقل او عقلانیت ته پاملرنه ډېره شوې ده او د نړۍ فیلسوفانو د عقل په ارزښت غږېدلي دي. د نړۍ د فیلسوفانو خبرې له عقل او تفکر سره سره له عشق سره هم تړاو لري. که افلاطون د عقل پلوی دی، خو د مُثل نظریه یې د عشق سره هم اړیکه لري.

د پښتو ژبې شاعرانو په شعرونو کې د عشق او عقل جګړه په حقیقت کې د عرفان او فلسفې تقابل دی، خو که فلسفه دقیق ولوستل شي، ډېر نظرونه یې د عارفانو سره ګډې خواوې لري.

د پیر محمد کاکړ په غوره شوو بیتونو کې د عشق او عقل یادونه شوې ده او دغه څو بیتونه په دې دلالت کوي چې شاعر ښه مطالعه درلوده او په غیر ارادي ډول یې داسې وینا کړې ده چې د عرفان، تصوف او فلسفې څرکونه پکې ښکاره دي.

د عشق او عقل (د شهودي معرفت او علمي معرفت) تر منځ تقابل او ستونزه ډېره پخوانۍ مخینه لري. دغه موضوع د عارفانو او فلاسفه وو تر منځ د بحث وړ موضوع ده. عارفان په سیر او سلوک کې د بصیرت او قلبي معرفت خبرې کوي او په دغه بیان کې یې د عشق د کلمې مانا د زړه، ذوق او په نورو ماناوو اخیستې ده. د قلبي بصیرت څخه موخه د معرفت یو ډول دی.

عارفان دغه معرفت د حسي او شهودي تجربو په وسیله تر لاسه کوي. دغه تجربې د داخلي نړۍ په ژورو او د اروا په ریښو کې ځای لري او سالک (عارف) د حقیقت په پلو رهبري کوي، خو د ظاهري علومو پوهان د نړۍ په اړه خپل نظرونه لري چې د عارفانو سره متفاوت افکار لري. په ځمکنۍ مذهبونو کې د عارفانو نظرونه د فلاسفه وو سره توپیر لري، خو په ځینو وختونو کې سره یو شان دي.

کاکړ د عشق او عقل په اړه معلومات لري او پوهېږي چې چېرته عقل وي هلته به عشق وي او چېرته چې عشق وي هلته به عقل وي؛ یعنې عقل او عشق یو له بل څخه پیدا شوي دي او یو په بل کې شته. که د عشق مرتبه تر لاسه کېږي، له عقل څخه پرته نه کېږي.

(د عقل او عشق اړیکې او ارزښت د یادونې وړ دی. هغه هم د (ناتمام عقل) چې مولانای بلخي یې (دانش ناقص) بولي، غندنه کوي. عشق په عقل ښایسته او عقل او عشق بې عشقه لاشی ګڼي.) ۱. خلیل، همېش. (۲۰۰۲ز). مرزا خان انصاري او د هغه شاعري. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي، مخ ۱۴.

د تصوف په دونیا کې د ناتام عقل یادونه کېږي، فردي عقل د تعقل دا توان او صلاحیت نه لري چې هر شی ثابت کړي خو یو کُلي عقل شته چې دا عقلونه یې پیدا کړي دي. فردي عقل ناتمام عقل دی چې د هڅو او هاند په وسیله کوښښ کوي چې حقیقتونه تر لاسه کړي.

مولانای رومي ورته ناقص عقل او پوهه وایي. عقل د عشق په وسیله د پیاوړتیا پړاو ته رسیدلی شي. عقل هغه وخت سم تعقل کوي او د تفکر پایله یې د حقیقت لاسته راوړلو لپاره وي چې زړه د عشق له نُوره ډک وي. عقل او فکر د زړه له جوړوالي پرته نیمګړی وي.

د عارفانو په اند تعقل او استدلال د هغې خلاف چې مشهور شوی دی، په هر ځای کې نا معقول نه دی. د نجم الدین رازي په نظر د عشق او عقل تر منځ باید متضاد فکر له منځه ولاړ شي، چې وکولی شو په دې اړه سم قضاوت وکړو. هغه د عقل په اړه داسې نظر لري چې د عقل سیر د عالم په بقا کې دی او د اوبو صفت لري چې هر ځای ته رسیدلی شي، ابادي راوړي خو د عشق سیر عالم فنا کې دی او د اور صفت لري. عقل د جسماني او اروایي عالمونو قهرمان دی، خو عشق د دې دوو عالمونو سوزنده حالت دی. د ده په فلسفي څېړنو کې عقل ته لوړ ارزښت ورکول کېږي او د عشق په مقابل کې ورته ارزښت ورکوي. عقل باید خپل موقف وپېژني او د سالکانو لپاره باید لارښود وي، خو عقل د عشق له لیده ړوند دی او په داخلي نړۍ کې یو بل سلطان شته چې حکمراني کوي.

پیر محمد وایي:

عقل راته ووې راشه ترک دې د خپل یار کړه
عشق و ماته ووې هی هی ترک هسې گفتار کړه
عقل وې نور بس کړه گفتگوی د عاشقۍ کې
عشق وې ای مومنه! له دې کفر استغفار کړه
عقل وې چې راز د مینې پټ ساته له خلکه
عشق وې ځان مجنون غونډې رسوا د کل دیار کړه
عقل وې هر ځای چې د تهمت وې ځینې تښته
عشق وې تهمتونه د عالم په سر انبار کړه
زه تر منځ حیران یم چې په کوم ویل باور کړم
کشف و ما خوار ته الهي هسې اسرار کړه
عقل هسې ووې عشق هم هسې رنگ دلبره!

راشه پیر محمده په وینا د عشق اقرار کړه ۲. کاکړ، پیرمحمد. (۱۳۸۵ل). د پیر محمد کاکړ دېوان. مدون او مقابله عبدالروف بېنوا. (دویم چاپ). کابل: پښتو ټولنه، مخ ۱۵۳.

شاعر په لومړي نیم بیتي کې وایي: (عقل عشق ته د یار د پرېښودلو وایي او عشق ورته وایي چې دا وینا پرېږده.) ورپسې دېروي: (عقل عشق د عاشقۍ له خبرو څخه منع کوي او عشق داسې وینا کفر گڼي.) عقل عشق او په عشق کې ناکامي او ستونزې عیب گڼي، خو عشق د عقل په مقابل کې د عشق رسوایي بد عمل نه گڼي او د بېلگې په ډول مجنون مثال ورکوي. د عشق او عقل په جگړه کې پیر محمد کاکړ د عشق پلوی دی او عشق ته د عقل له مخې لوړه مرتبه ورکوي.

د عقل او عشق په دې متقابلو نظریاتو کې د عقل او عشق له ارزښت څخه سترگې پټولی نه شو. عقل، فکر، تفکر او ذهن ډېر وخت په یو مانا پکارېږي.

(ذهن د انساني جسم د یادښت مرکز او محور دی. دا د معلوماتو د مرکز او تحلیلگر حیثیت لري. ذهن پر ټولو حسونو او جسم حاکم دی. حسونه د بهرنۍ دونیا معلومات د ذهن لپاره چمتو کوي او له دې معلوماتو څخه په گټنه، د تېر د تجربو په کارونې سره، ذهن د یوه تحلیلگر په توگه خپله پرېکړه وړاندې کوي. په دې پوهېدل اړین دي چې ذهن او دماغ سره بېل دي، خو یو له بل څخه رغېدلي دي. لکه څنگه چې جسم مادي او اروا غیر مادي دی، په ورته ډول، دماغ مادي او ذهن غیر مادي دی. دماغ یو عصبي نظام دی او ذهن د فکر نوم دی. انساني نفس د جسم، حسونو او ذهن له درېیو برخو څخه جوړ دی. دا درې یو له بل څخه پرته بېکاره دي. که چېرته پر دې پوښتنې باندې په ژور ډول فکر وشي چې زه څوک یم؟ نو انسان به د حیرانۍ په دونیا کې ورک شي.) ۳. افتخار، محمد ناصر. (۱۳۹۹ل). له ځانه تر خدایه. ژباړن طارق تسل. ننگرهار: سهار خپرندویه ټولنه، مخ ۱۵.

په ذاتي ډول د نړۍ انسانانو ته دماغ ورکړل شوي دي؛ یعنې د پورته خبرو په تائید چې انسانان د کمیت له مخې دماغ لري چې د وراثت او ټولنیزو لاملونو پر بنسټ کیفیت یې بدلون کولی شي. دغه بدلون یې د فکر پایله ده چې دې ته ذهن وایي. د ځینو انسانان د فکر ځواک ډېر پیاوړی وي، لامل یې ډېر فکر کول دي او فکري تولید دی. د نړۍ فیلسوفانو چې د عقل او عقلانیت خبرې کوي، موخه یې تفکر او فکر کول دي. دوی د فکر استازي دي او د هر شي په اړه فکر کول ورته له هر شي څخه غوره دي. ډېر خلک دماغ لري، خو گټه ترې نه اخلي او ضایع کېږي، هغه کسان چې د دې موهبې له لوړتیا او ځواک څخه خبر دي او پوهېږي چې د عقل او فکر په وسیله نړۍ ایلولی شي او ځان پېژندنه الله پېژندنه ده، عقل یې یوه ښه وسیله ده.

د انسان تېرې تجربې د حسونو په وسیله ذخیره شوې وي. موږ په حال کې، د خپلې تېر د تحلیل پر بنسټ خپل راتلونکي کې بدلون راوستلو باندې بوخت یو.

(د حضرت حسن رضي الله تعالی عنه قول دی چې د یوې شېبې لپاره غور او فکر کول د تولې شپې له عبادت څخه ښه دی. یو بل عالم وايي چې غور او فکر کول هنداره ده چې تاسو ته ستاسې نېکبختي او بدي ښکاره کوي. یو بل کس وايي چې غور او فکر کول د عقل مغز دی.) ۴. امام غزالي. (د چاپ کال يې معلوم نه دی). مکاشف القلوب. مترجم مولوی عبدالله. پېښور. محله جنګي، مخ ۲۲۹.

د شاعر په پورته شعر کې له عقل پرته د عشق یادونه کېږي. مخکې یادونه وشوه چې عشق یوه داسې عرفاني تجربه ده چې بیانول يې اسانه کار نه دی، دغه تجربه په ځان کېږي.

(په عرفاني دونیا کې عشق د طبیعي عشق د لوړتیا بڼه ده. د دې مانا دا ده چې عشق کوم پایداره حالت نه دی چې وکړای شو، په مشخصه توګه د هغه پولې وټاکو. دا ځکه چې عشق په پر له پسې توګه د حرکت او بدلون په حالت کې دی. د اسلامي دونیا ستر عارف او صوفي شیخ محی الدین عربي د عشق په اړه ځای ـ ځای یادونې کوي. د هغه په وینا عشق په داسې ډول را ښکاره کېږي چې ګویا نشته. عشق د یوځایوالي غوښتنه او مینه او له معشوق سره پیوند دی، نه د شخص لپاره او یا د هغه د عیني وجد له امله؛ بلکې د یوځایوالي د پایښت لپاره دی. عشق د عاشق او معشوق په پایښت را منځته کېږي. ابن عربي وايي چې عشق داسې اشتیاق دی چې په پر له پسې توګه د غیر موجد معشوق سره تړاو ته يې پام دی. په بل عبارت موجود د خپل ځان لپاره دوست نه ګڼل کېږي؛ بلکې هغه څه دي چې مقابل اړخ کې وي او موږ يې دوست بولو.

دا په خپله یو ډول ایجاد او هستونه ده او همدارنګه د هستونې دا حالت د ابن عربي په تعبیر د (معدوم) په توګه باقي پاتې کېږي. عشق ګډون له منځه وړي، مشارکت نه مني. د عارفانو په اند زړه یا قلب د دوه معشوقو د ساتلو ظرفیت نه لري. دا د عشق ځانګړنه ده چې خپل خاوند له هرې هغې اوربدنې پرته چې له معشوق څخه يې اوربدله کېږي او د معشوق له لیدنې پرته خپل لید له بل هر ډول لیدنې څخه انکار کوي. ژبه هم له معشوق پرته په بل هر څه ګونګیږي. په زړه مهر وهي چې په هغه کې له معشوق پرته بل هېڅ شی، د هغه تخیل ته لار نه پیدا کوي.) ۵. کرګر، محمد اکبر. (۱۳۹۹ل). رحماني لیدتوګه. (دویم چاپ). جلال اباد: هاشمي خپرندویه ټولنه، مخ ۳۸.

په تصوف او عرفان کې د عشق او عقل تر منځ تضاد لیدل کېږي. دغه پاراډوکس د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې شته. ځینې عقل ته ارزښت ورکوي او ځینې عشق ته لوړه مرتبه ورکوي، خو پښتو ادب کې تصوف، عرفان او خدای پېژندنه کې عشق ته لوړ ارزښت ورکول کېږي.

د عشق او عقل د متضادو خواوو په اړه د عبدالعظیم یو بیت د دې لپاره راوړم چې خپل نظر پرې پیاوړی کړم. دی عقل او عشق یو د بل متقابل ګڼي. وايي:

عقل عشق سره ضدين دي خبردار شه

په دې راز چې هوش او عقل خبر نه کړي ٦. عبدالعظیم. (۱۹۹۰ز). دېوان عبدالعظیم بابا. ترتیب الطاف احمد خلیل او عبدالباقي شاه. پېښور: زیب ارت پبلشرز، مخ ۴۶.

د هندي ادبي ښوونځي شاعر محمدي صاحبزاده هم د عقل او عشق پاراډوکس وړاندې کوي او د دې دغه یو بیت په دې دلالت کوي چې دی هم د نورو شاعرانو په ډول عشق د عقل او عقل د عشق په مقابل کې ګڼي؛ یعنې ډېرې داسې خبرې شته چې په عشق کې يې یادونه کېږي، خو د عقل له مخې يې منل ستونزمن کار دی. وايي:

عشق او عقل اور اوبه دي نور څه نه دي

کوم سړي صحت موندلی په ازار کې ۷. صاحبزاده، محمدي. (۱۳۸۵ل). د محمدي صاحبزاده دېوان. ترتیب او مقدمه قلندر مومند. پېښور، مخ ۲۲۷.

د پښتو ژبې يو بل شاعر شمس الدين کاکړ هم د عشق او عقل يادونه کوي. دی وايي چې د عشق په کارونو کې عقل ناتوان دی او نه شي کولی چې د عقل په وسيله د عشق کارونه ارزيابي کړي، خو بيا هم د عشق په کارونو کې له عقل څخه کار اخيستل کېږي، مخکې يادونه وشوه چې د تصوف او فلسفې دغه دوه لوی اصطلاحات (عشق او عقل) يو له بل سره نه شليدونکي اړيکې لري. ډېر وخت عشق د عقل نه مني، عقل د علمي تجربو په وسيله تر لاسه کېږي او عشق د عرفاني داخلي انساني تجربو په وسيله تر سره کېږي. دی هم د نورو تصوفي او عرفاني شاعرانو په ډول عشق ته له عقل څخه ځو مرتبې لوړوالی ورکوي او يو دانه عشق له خروار عقل سره نه برابروي. وايي:

که هر څو په عشق کې نشته کار د عقل

عاقبت د عشق په کار شي چار د عقل

عشق هغه ايله اوښ دی بې مهاره

چې هرګز نه قبلوي مهار د عقل

تر يوه دانه عشق جارو قربان شه

په زرګونو خرورو انبار د عقل ۸. کاکړ، پيرمحمد. (۱۳۸۵ل). د پير محمد کاکړ دېوان. مدون او مقابله عبدالروف بېنوا. (دويم چاپ). کابل: پښتو ټولنه، مخ ۱۲۴.

د پير محمد کاکړ په څو بيتونو کې د عشق او عقل د متقابلو خواوو د ښه څرګندتيا لپاره د څو تنو شاعرانو څو بېلګې د دې لپاره راوړل شوې چې يوازې د ده په شعرونو کې دا برخه نشته، بلکې نورو شاعرانو هم د عقل او عشق يادونه کړې ده او د عرفان او فلسفې مقابله له پخوا څخه دوام لري او دغه دوه اصطلاحات د دغو دوو علومو په شان کله کله يو د بل په مقابل کې واقع کېږي. د عشق او عقل جګړه او مقابله روانه ده، دغه مجادله د زړه او عقل تر منځ ده. کله چې انسان د پوهې لوړه پوړۍ ته ورسېږي او فکر وکړي چې دی څومره پوهېږي؟ له فکر کولو وروسته پوهېدلی شي چې په هېڅ نه پوهېږي. پوهه په ناپوهۍ کې ده.

د علم سرحد نامعلوم دی او نشو کولی چې وروستۍ پوهه تر لاسه کړو، نو ځکه ستر پوهان له ډېرې پوهې او فکر کولو وروسته دې پايلې ته رسېدلي دي چې دوی نه پوهېږي. عقل ټوله پوهه فتح کولی نشي، هر شی درک کولی نشي، د حس قوه يې دومره پياوړې نه ده چې د نړۍ شيان درک کړي، نو ځکه صوفيان او عارفان يوې داسې پوهې سره سرو کار لري چې د عقل له مخې يې درک کول ستونزمن کار دی. د عشق کار له زړه سره دی او د عقل کار له فکر او عقلانيت سره دی. عقل ډېرې عشقي تجربې تر سره کولی نشي. عقل ماوراالطبيعي مسايلو ته نشي رسېدلی او ډېر هغه څه چې د عشق په وسيله کشف او شهود تر سره کوي، عقل يې په کولو ناتوان دی. عشق په مقابل کې عقل ته وايي چې خپل فکر سم کړي. د پورته ټولو خبرو څخه دې پايلې ته رسېږو چې عشق او عقل يو د بل سره اړيکې لري، په تصوف کې عشق، په فلسفه کې عقل او عقلانيت اړينې موضوعګانې دي. عشق خپل ارزښت لري او عقل خپل مقام لري چې د شاعر په څو شعرونو کې د بېلګې په ډول وښودل شو.

يادونه: د دې مقالې ماخذونه په متن کې ښودل شوي دي. د ليکوال خبرې څرګندې دي او د اقتباسونو د کچې په پام کې نيولو سره په خپل ځای د خپل دليل د پياوړتيا لپاره د اړتيا پر بنسټ اقتباسونه راوړل شوي دي.



# ولې له مرګه وېرېږو؟

زباړه: محمدنعیم پرهېز

کله چې د اموي خلافت د وخت خلیفه سلیمان بن عبدالمالک مدینې ته ننوت او مکې ته يې د سفر نيت درلود، د مدينې لوی عالم ابو حازم يې خپل دربار ته راوغوښت. دلته يې خبرې اترې لولو:

سلیمان: ابو حازم! موږ ولې له مرګه وېرېږو؟

ابو حازم: تاسو خپله دنيا اباده او اخرت مو وران کړی دی، له همدې امله ستاسو زړه له اباد کوره وران هغه ته نه ځي.

ـــــ د خدای پر وړاندې به څنګه راپورته کېږو؟

ـــــ نيکان داسې لکه مسافر چې بېرته خپل کور ته راګرځي او بدان داسې لکه تښتېدلی غلام چې بېرته خپل څښتن ته راوګرځي.

سلمیان په ژړا شو،ويې ويل: نه پوهېږم الله تعالی به له ماسره څه ډول چلند وکړي؟

ابو حازم: ځان د الله تعالی د پاک کتاب قرآنکريم پر لار برابر کړه: ﴿إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ١٣ وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ١٤﴾ ژباړه: شک نشته، چې ښه خلک به په مزو چړچو (جنت) کې وي او بدکاران به په دوزخ کې اوسېږي.

ـــــ نو د الله تعالی رحمت چېرته دی؟

ـــــ د الله تعالی رحمت دا لکه څنګه چې فرمايي: ﴿قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ٥٦﴾ ژباړه: په يقيني توګه د الله تعالی رحمت نېکانو ته نږدې وي.

ـــــ ای ابو حازم! الله تعالی ته تر ټولو ګران خلک څوک دي؟

ــــــ تقوا لرونکي او پرهېزګاران.

ــــــ الله تعالی ته کومه خبره قبلوونکې ده؟

ــــــ د هغه چا پرورانديې د حق خبره کول، چې ترې وېرېږې او تمه ورته لرې.

ــــــ تر ټولو ډېر زيانمن شوی مسلمان څوک دی؟

ــــــ هغه څوک چې د خپل ظالم ورور په ملاتړ را پورته شي او خپل دين د هغه د دنيا په خاطر وپلوري.

ــــــ زما په اړه څه وايې؟

ــــــ غوره ده، چې له ما څخه په دې اړه ونه پوښتې؟

ــــــ خير، څکه غواړم، نصيحت راته وکړې.

ــــــ ستاسو پلرونو د تُورې په زور خلک د خپل امر تابع کړې وو او حکومت يې د مسلمانانو له مشورې او رضايت پرته په لاس کې واخيست. د وينو ويالې يې وبهولې، دا چې، هغوی اوس وفات شوي، کاش په دې پوهېدی چې خلک يې په اړه څه وايي؟

له ناستو خلکو څخه يوه وويل: د خبرو خيال دې وساته.

ابو حازم يې په ځواب کې وويل: الله تعالی له علماوو څخه د دې ژمنه اخيستې چې خلکو ته حق بيان کړي او هغه پټ نه کړي.

ــــــ ای ابو حازم! موږ د خلکو په منځ کې څنګه د ښو خلکو په حيث وپېژندل کېږو؟

ــــــ د ځان ستاينه او ډېرې خبرې مه کوئ، ځوانمردي عادت وګرځوئ، د خدای جل جلاله له ټولو بنده ګانو سره يو ډول چلند وکړئ.

ــــــ اې ابو حازم! خپلې اړتياوې دې راته ووايه چې درته پوره يې کړم.

ــــــ کولی شې ما له دوزخ څخه وژغورې او جنت ته مې بوزې؟

ــــــ دا زما په وس کې نشته.

ــــــ زه له دې پرته بله کومه اړتيا نه لرم، دا يې وويل، پورته شو او لاړ.

سلمان يو کس ته سل دينار ورکړل ترڅو هغه ته يې ورکړي، خو حازم دا قبولې نه کړې او پر خپله مخه لاړ.

**Mohajer Magazine**

the 22th number autumn 1403

## د لـوی مصلح سـتر غازي رحمه الله لـه ويناوو څخه

مجاهدينو ورونو!

يـوه بلـه مهمـه خبـره چـې ستاسـې حضـور تـه يـې وړانـدې کـول غـواړم او مـا همېشـه الله تعالـی تـه دا سـوال کـړی چـې:

خدايـه زمـوږ پـه وسـله د مسـلمان وينـې تويـې مـه کـړې، زه پـه ډاګـه وايـم چـې د تنظيـم، عـشر او قومانداني لپـاره جنـګ حـرام دی، دا جهـاد نـه بلـل کيـږي.

*****

مـوږ پـه افغانسـتان کـې داسـې حکومـت جـوړوو، چـې د اسـلامي اصولـو، قواعـدو او ضوابطـو لـه مخـې د يـوه اسـلامي قيـادت درلودونکـی وي.

پته: واصل آباد جنګلک فابريکې شاته کابل افغانستان Email: media@morr.gov.af// webmoor@gmail.com ديجيتل تليفون : ۰۲۰۲۹۵۱۴۳۲

morr.gov.af

دمهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

MoRRAfg

MoRRAfghan

morrofficialafghanistan7238

morr-afg

morr.gov.af